د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډیره غوره وي. ( سوره النحل ، 125 ایت )

موسس او مسئول چلوونکی:

**محمد طارق بزگر**

د تأسیس نیټه: 1367ل،(۱۹۸۸م)

**Dawat Media Center,**
**V/M. Tariq Bazger**
**Vold gt. 37A, 2000**
**Lillestrom, Norway**
**Tel. +47- 63844384 Mobile. +47-90856195**
**dawatmedia@gmail.com**
**www.dawatmedia24.com**

# دعوت

## ملي، خپلواکه خپرونه

**www.dawatmedia24.com**
**ISBN: 978-82-691395-2-5**

Oct- Dec. 2023 Vol. 250 پرله پسې ګڼه ۲۵۰

**ملي سندره**

ځو چې دا مځکه آسمان وي
ځو چې دا جهان ودان وي
ځو چې ژوند په دې جهان وي
ځو چې پاتې یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوریت
تل دې وي ملي وحدت

**داکتر نوراحمد خالدی در گفتگو با دعوت:**



## بزرگترین مشکل امارت اسلامی طالبان کسب مشروعیت داخلی و شناخت خارجی میباشد

در همین شماره صفحات (۳-۹)
او نور ډیر مطالب....



# د دعوت ۳۵مه کلیزه مو مبارک

## د دعوت مجلې پینځه دېرشمه کلیزه (۱۹۸۸ـ۲۰۲۳ز)

د (۱۹۸۸ز) کال د ډیسمبر پر نولسمه نېټه د ناروې په یوه کوچني ټاپو کې د دعوت خپرونې لومړۍ ګڼه د فوتوکاپي ماشین په مرسته د دوو سوو ګڼو په شمېر خپره شوه. دا هغه وخت و، چې زموږ ګران هېواد د شوروي اتحاد تر نظامي یرغل لاندې و؛ دعوت له هماغې ورځې تر ننه پورې له ډېرو لوړو ژورو او محدود امکاناتو سره وکولی شول، چې خپل نشرات ورځ تر بلې په ښه توګه پر مخ یوسي او تر پینځه دېرشو کلونو دوام وکړي.

د نشراتو په ډګر کې پنځه دېرش کاله وخت نه کم دی؛ خو موږ د محدودو امکاناتو په شتون خپلې فرهنګي هڅې مړاوې کېدو او د دعوت د شمعې رڼا تتېدو او ورکېدو ته پرېنه‌ښودې.

د خپلو محدودو هېوادوالو په مرسته مو وکولی شول، چې د اروپا له شمال (ناروې) څخه د دعوت رڼا د نړۍ ګوټ ګوټ کې د خپلو هېوادوالو کورونو ته ورسوو؛ د وطن له حالاتو یې خبر کړو؛ د هغوی نظر واخلو؛ تر خپلو نورو هېوادوالو یې ورسوو او نړیوال د افغانستان له غمیزې او د خپلو خلکو له ژونده خبر کړو.

دعوت خپرونه په منظم او غیر منظم ډول په پښتو او دري ژبو خپره شوه، چې وروسته بیا ناروېژي او انګلیسي ژبې هم پکې ورزیاتې شوې. وروستیو کلونو کې دعوت مجله او وېبپاڼه په پښتو، دري او انګلیسي ژبو خپرونې وکړې او تر دې دمه یې خپرونو دوام موندلی دی.

دعوت مجله د نړۍ شپږ پنځوسو هېوادونو کې مېشتو هېوداولو او خپل ولس ته په تېرو پینځه دیرشو کلونو کې رسېدلې او لا هم د دې خپرونې د پراخېدو هڅه کېږي.

د دعوت مجلې په اړه هر اړخیزه قضاوت خپلو درنو لوستونکو، مینه‌والو او هېوداوالو ته پرېږدو، چې زموږ کار او خپرونې وڅېړي او قضاوت پرې وکړي.

له خپلو ټولو قلمي همکارانو او هغه هېوادوالو څخه د زړه له کومې منندوی یو، چې په هره ممکنه لار یې له دعوت رسنیز مرکز سره خپلې مرستې نه دي سپمولي.

په پای کې باید ووایو چې دعوت رسنیز مرکز خپل ټول فعالیتونه د خپل ګران هېواد افغانستان او افغان ولس لپاره په خپل مټ او خپلو محدودو امکاناتو کوي. ستاسو د هر اړخیزو مرستو د دوام په هیله! زموږ نور ورځني فعالیتونه زموږ په ویبپاڼې کې وڅارئ.

WWW.DAWATMEDIA24.COM

په درنښت!

د دعوت رسنیز مرکز اداره

**مخ پر وړاندې د خپلواک، سرلوړي، غښتلي، آباد او یو موټي افغانستان په لور**

## دعوت میډیا ستاسې او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هیواد نه خپریږي. د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي او غیر سیاسي ډلې استازیتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپریږي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو لیکنو مسئولیت د درنو لیکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره لیکنه دې د دعوت د نشراتي پالیسۍ سره برابره وي.

**DAWAT MEDIA CENTER,**
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
Tel. +47-63844384
Mobil: +47-90856195

ISBN: 978-82-691395-2-5
Orgnr (Reg#): 985160058

د انټرنټ په نړیواله شبکه زموږ ویبپاڼه

www.dawatmedia24.com

زموږ د بریښنا لیک پته:

dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب

Account for international payments:
NO15 0530 2294 668

د ویپس شمیره: Vipps: #557320

### څنګه کولی شئ د دعوت میډیا مالي مرسته وکړی:

خپلې مرستې (پیسې) د بانک په پته راولیږئ. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلک دي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د فعال ساتلو او د شوو ژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د بریالیتوب او لابنه پرمختګ زیری دی. هر افغان باید تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډګر ته راووځي، خپل مسئولیت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

# دعوت میډیا د افغان ولس غږ

قدرمنو لوستونکو !

د دعوت رسنیز مرکز وياړي چې د خپلو بېلابېلو رسنیزو فعالیتونو د لیارې د هیواد په دې ټاکونکو او حساسو شیبو کې په ملي افغاني روحیه تر خپله وسه هڅه کوي چې خپلو خلکو ته د خدمت مصدر وګرځي.

د دعوت ملي خپرونه د خاورې تمامیت، ملي ګټو او د ملي یووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، لیکوالانو، او روښفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانیستلی سنګر، هڅه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هیواد او ولس کورني او بهرني دښمنان وروپیژني او تر ممکن حده د دوی خاینانه دسیسې او توطیې شنډې او خنثی کړي.

په هیواد کې د سولې، ولسواکۍ، ټولنیز عدالت، وګړیزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکي، د قلم او بیان د ازادي، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنیو بنسټیزو اسانتیاو د برابرولو، او په لنډه که ووایو د دموکراتیکو لارو، نه د "زور، زر، او تزویر" د لارې، د افغانانو د غوڅ اکثریت په خوښه د یو غښتلی او ملي مرکزی ملي حکومت د جوړیدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بیائي.

خو!

د دې خراغ د روښانه ساتلو د پاره د ګرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاریو ته د هر وخت نه خورا زیات ضرورت دئ، که زموږ د پالیسۍ او د دعوت د ملي خپروني د محتوا سره موافق یاست نو موږ د دې جوګه کړی چې د دعوت میډیا خپروني او دعوت خپرونه د نړۍ او ګران افغانستان ګوټ ګوټ ته ورسوو، او د هغه نا امیده هیوادوالو له پاره د امید ډیوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله یې خپل امید د لاسه ورکړی دی، او داسې چیرته چې افغان وي هلته دعوت وي یانې دا چې ډیرو هیوادوالو ته دعوت ورسیږي او زموږ هڅې به هله بیځایه نه وي چې یو زیات شمیر هیوادوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسیدل ستاسو درنو هیوادوالو او د دعوت مینه والو د مالي مرستو پرته ناشونې دي.

زموږ هیله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې ونه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په لیکل شوې پته راواستوئ:

د بانک او یا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.

یو ځل بیا وایو :

((دعوت میډیا د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي ډلې نمایندګي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پورې تړلې ده. دعوت میډیا د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپروني کوي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د پخوا نه زیات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتیا لري))

ستاسو نه مخکې له مخکې مننه
د دعوت اداره

## داکتر صاحب نوراحمد خالدی در گفتگو با دعوت:

# بزرگترین مشکل امارت اسلامی طالبان کسب مشروعیت داخلی و شناخت خارجی میباشد

## ارگان رهبری رژیم امارت اسلامی طالبان در هالهٔ از ابهام پیچیده است

### آنچه طالبان امروز بر سر زنان افغانستان می آورند تکرار همان وضعیتی است که پنج قرن قبل در اروپا حکمفرما بود



**بزرگر: نظر شما در مورد وضعیت فعلی افغانستان چه میباشد؟**

**داکتر خالدی:** در مدت بیش از دوسال گذشته، دست آوردهای مهم طالبان را میتوان تأمین حاکمیت دولت مرکزی بالای قدرت‌های محلی، ختم قدرت‌های نیمه مسقل محلی وابسته به جنگ‌سالاران جهادی، ختم زورگویی قدرتمندان در نواحی شهری که سبب غضب و فروش زمینهای دولتی، ایجاد ساختمانها خلاف ماسترپلانهای شهری، قطع سرکهای شهری شده بود، ختم عدم جواب‌دهی اداری و مالی ارگان‌های محلی به دولت مرکزی، ختم حالت انارشی و بی بند وباری، ختم فساد گستردهٔ اداری، اخلاقی و مالی و ختم تبلیغات ضد منافع ملی به حساب آورد .

همچنان در عدم موجودیت عناصر فعال و با نفوذ بازدارنده و مخالف در درون دولت مانند عبدالله عبدالله و دارو دسته اش در دولت غنی، طالبان تطبیق پروگرامهای زیربنایی، انکشاف شهری و مواصلاتی زمان دولت جمهوری را رویدست گرفته و به شدت و سرعت برای تطبیق آنها اقدام کرده اند. این پروگرامها تا کنون شامل تطبیق پروژه بزرگ آبیاری کانال قوش تیپه از ولسوالی کلدار ولایت بلخ تا ولسوالی اندخوی ولایت فاریاب به طول 230 کیلومتر، عرض 105 متر و عمق 8.5متر و احداث پلهای موتر رو و خط آهن بالای این کانال در مسیر مزارشریف و بندر حیرتان میباشد. همچنان ترمیم اساسی شاهراه سالنگ، ترمیم اساسی شاهراه کابل، قندهار، ترمیم اساسی سرک غزنی پکتیکا، تمدید سرک جغله در یک قسمت دهلیز واخان تا سرحد چین بطول 40کیلومتر، آغاز کار تطبیق پروژهٔ کابل جدید در ده سبز، شروع کار احداث لولهٔ آب انتقال آب دریای پنجشیر به کابل، احداث سرک جدید اتصالی از کاریز میر در شمال کوتل خیرخانه به چارراهی قمبر در جنوب غرب کابل بطول بیش از هفت کیلومتر که یکی از سرکهای حلقوی شهر میباشد، شروع کار چندین سرک در نقاط

مختلف شهر منجمله سرک جدید کوتل خیرخانه، سرک ناحیهٔ رحمان بابا و غیره، از میان برداشته تمام موانع فزیکی در مسیر جاده های شهر کابل، تخریب منازل ملیون دالری قدرتمندان که در مسیر سرکهای شهری ایجاد شده بودند از جملهٔ این اقدامات اند که از جانب مردم به شدت مورد حمایت قرار گرفته اند .

باید توجه داشت که تطبیق این پروژه ها توسط متخصصین، انجنیران و کارگران افغان و توسط شرکتهای ساختمانی خصوصی داخلی جریان دارد که این خود به رشد این شرکتها، افزایش ظرفیتهای تولیدی آنها کمک میکند. در عین زمان همه روزه اخبار افتتاح کار موسسات و فابرکات صنعتی مانند دستگاههای پروسس میوه و سبزیجات، روغن کشی و غیره با سرمایگذاریهای خصوصی بگوش میرسند و موسسات تولیدی سابقه مانند نساجی و سمنت گلبهار دوباره فعال میشوند.

بدون شک این انکشافات در افزایش ظرفیتهای تولیدی، افزایش مواد استهلاکی داخلی، کار و استخدام در کشور سهم بارزی دارند.

نکتهٔ مورد توجه آن است که تمام این پروژه ها از مدرک عواید داخلی دولت تمویل میگردند. ختم فساد اداری و مالی به حکومت طالبان امکان داده تا از یکطرف عواید دولت را از منابع مختلف داخلی افزایش قابل ملاحظه دهند و از جانب دیگر از حیف و میل و ضیاع این منابع جلوگیری نمایند. تمام پروژه های شهری شامل ماستر پلان شهر کابل اکنون از عواید شاروالی کابل تمویل میشوند .

در عین زمان باید دید که در دوسال حاکمیت مجدد طالبان مردم و کشور افغانستان چه قیمتی پرداخته اند!

در دوسال حاکمیت مجدد طالبان اوضاع اقتصادی افغانستان بشدت رو به وخامت گذاشته، تولیدات داخلی تقلیل یافته، ده ها هزار نفر بیکار شده اند، شاخص قیمتها بالا رفته که در نتیجه عواید و قدرت خرید مردم تنزیل یافته، امنیت غذایی مردم به تناسب زمان قبل از طالبان بیشتر از میان رفته بیش از نیم نفوس کشور در حالت فقر و قحطی قرار گرفته اند.

برعلاوه با به قدرت رسیدن مجدد طالبان در افغانستان و انفاذ احکام شریعت مطابق تفسیر متحجر و غیر عقلانی، حقوق مدنی مردم و بخصوص حقوق زنان محدود گردیده، قانون اساسی و سایر قوانین مدنی عملاَ به کنار گذاشته شده و نقش مردم در ادارهٔ کشور نادیده گرفته شده است. طالبان فعالیتهای فرهنگی و هنری منجمله موسیقی، سینما، مجسمه سازی و غیره را ممنوع کرده بیرق سه رنگ ملی کشور را با بیرق سفید خود تعویض کردند .



امارت اسلامی طالبان در مقابل مسائل مبرم ملی مانند یک حکومت متمدن برخورد نکرده است. کدام قانون اساسی نافذ نشده، و سائر قوانین در حالت تعلیق قرار دارند. دولت توسط فرامین اداره میگردد و یکتعداد وزرای طالبان احکام جاهلانه صادر میکنند. یکی به فارغان معارف و تعلیمات عالی که کادر های مسلکی کشور را تشکیل میدهند اهانت نموده آنها را بیفایده میخواند، دیگری آموزش علم را "مباح" میداند، سومی تعلیم زنان را "فحشأ" قلمداد میکند و چهارمی احراز مقامات علمی استادان را به تعداد انفجار ماینها توسط مجاهدین طالب مربوط میداند. حکومت قانون وجود ندارد، شعارهای دیواری طالبان بیان میکنند که "قرآن مجید قانون ماست!" در عصر ما حکومتداری بدون موجودیت قانون که حقوق و مکلفیتهای اتباع و دولت را مشخص میکند و وظایف دولت را برای ادارهٔ کشور تعیین میکند، قابل پذیرش نمیباشد.

**بزگر: وضعیت روان که حاکمان نمیتوانند زبان مشترک با مردم و جهان پیدا کنند ادامه این وضعیت و تاثیر برای مدت دراز چه خواهد بود؟**

**داکتر خالدی:** رژیم طالبان دستگاه اداری دولت را ملانیزه کرده است.

طالبان حقوق مدنی زنان و دختران را محدود کرده، تعلیمات اناث را بالاتر از صنف ششم ابتدایی ممنوع اعلام کرده اند . همچنان طالبان در این دوسال گذشته تمام زنان را از ادارات دولتی اخراج نموده و کار زنان را در خارج از منزل، با بعضی استثنآت در سکتور صحت عامه و فعالیتهای توزیع امدادهای بشردوستانه، ممنوع نموده اند.

درنتیجه صدها هزار مغز متفکر و سرمایهٔ ملی کشور از وطن فرار و تعداد زیاد شان به وضع فلاکتبار و شنیع کشته، شهید و أسیر باند های جنایت کار در داخل و خارج شدند. انفجار، انتحار و خود کشی ها با بیکاری و بی معاشی و بی عاید بودن، مردم افغانستان را سخت زبون، دل شکسته و خوار ساخته و این پروسه درحال تعمیق است. زیستن بدون داشتن حقوق مدنی برای ملت قابل قبول نیست .

بزرگترین مشکل امارت اسلامی طالبان کسب مشروعیت داخلی و شناخت خارجی میباشد. کسب مشروعیت داخلی از دو طریق فراهم میگردد. اول- از طریق تایید مردم از رهبر دولت و از نظام دولتی، و دوم- از طریق سهمگیری اقشار مختلف مردم در ادارهٔ دولت و ایجاد یک دولت با قاعدهٔ وسیع که اقشار مختلف مردم خودرا در آن دولت ببینند. این موضوع در کشور کثیر القومی و کثیرالزبانی افغانستان از اهمیت زیادی برخوردار است.

در افغانستان کسب مشروعیت داخلی دولتها و رهبران دولت بطور عنعنوی و تاریخی از طریق تشکیل لویه جرگه های مردم افغانستان که در آن معمولا نمایندگان تمام ولسوالیها و نواحی شهری، اعضای حکومت، اعضای شورای ملی، قضات ستره محکمه، جنرالان عالیرتبه اردو، روسای پوهنتونها و موسسات تعلیمات عالی، نمایندگان جوانان، زنان و اقشار اجتماعی مانند اقلیتهای قومی و مذهبی و روحانیون عالیمقام اشتراک میکردند، حاصل میگردید.

اما طوریکه دیده میشود برای طالبان کسب مشروعیت داخلی با دو عنصر تکمیل گردیده است: پیروزی در جنگ و فتح کشور و بیعت ملاها یا علمای دین. خارج از این دو عامل در دوسال گذشته طالبان از یکطرف هیچ اقدامی در کسب مشروعیت نظام خود از مردم نکرده اند. تشکیل مجلس بزرگ ملاها سال گذشته در کابل، بدون موجودیت خبرنگاران و بدون موجودیت کمره های تلویزیونی، که به ظاهر به امیرالمومنین طالبان بیعت خودرا اعلام کردند نه تنها هیچ کسی را فریب نداد بلکه سوالهای زیادی را به سوالهای قبلی در مورد مشروعیت حاکمیت طالبان افزود.



**بزگر: آینده افغانستان را چطور میبینید؟**

**داکتر خالدی:** ارگان رهبری رژیم امارت اسلامی طالبان در هالهٔ از ابهام پیچیده است. تاکنون طالبان از موجودیت یک شورای رهبری یا کمیتهٔ مرکزی تصمیم گیری در مورد پالیسیها اطلاع نداده اند. تمام تصامیم به ظاهر با تصویب و یا خارج از تصویب مجلس وزرأ، اما با صدور فرمان امیر المؤمنین گرفته میشوند. این امیر المؤ منین که مقر او در قندهار است چه شخصی است و علاوه بر مجلس وزرأ در کابل آیا کدام گروه مشورتی دارد و یا خیر؟ امیرالمؤمنین مانند هر دیکتاتور دیگری کشور را با صدور فرمان اداره میکند و به هیچ کس و یا مقامی هم پاسخگو نیست. حتی مجلس بزرگ ملاها که سال گذشته در کابل به ظاهر به امیرالمومنین طالبان بیعت خودرا اعلام کرد مقام مشخص و دایمی در نظام سیاسی طالبان ندارد.

نه تنها در دوسال گذشته مردم افغانستان روی مبارک کسی را که بنام هبت الله آخوند زیر عنوان امیر المؤمنین بالای شان حکومت میکند ندیده اند بلکه حتی اعضای دوهزار نفری مجلس بزرگ ملاها در کابل نیز با آنهمه پتو، لنگی و چادر که بر سر وگردن او پیچیده بود و زاویهٔ غیر مستقیم موقف او در پشت میز خطابه نیز نتوانستند روی مبارک ایشان را ببینند. این مبارک در دوسال گذشته در هیچ نماز جمعه، نماز عید،

جشن استقلال، جشن پیروزی و امثالهم در مقابل مردم خود ظاهر نشده است و هیچ بیانیهٔ تلویزیونی ایراد نکرده است.

در دوسال گذشته مقامات طالبان از هیچ جلسهٔ کاری اعضای حکومت مؤقت طالبان با امیرالمؤمنین شان اطلاع نداده اند و امیرالمؤمنین با هیچ مقام خارجی نیز ملاقات نکرده است. اخیرا محمد حسن آخوند رییس الوزرای رژیم طالبان با محمد بن عبدالرحمن آل ثانی، صدراعظم و وزیرخارجه قطردر قندهار دیدار کرد و شایعات اینکه پایتخت سیاسی افغانستان از کابل به قندهار منتقل شده است، بیشتر شد هبت‌الله آخوندزاده، رهبر طالبان در قندهار مستقر است و بسیاری از هیات‌های خارجی اکنون در سفر به افغانستان به قندهار سفر می‌کنند تا با والی قندهار و دیگر افراد نزدیک به رهبر طالبان دیدار کنند.



این وضعیت شاید برای کوتاه مدت تحمل گردد اما برای مدت طولانی حتی برای صفوف طالبان نیز قابل قبول نخواهد بود.

**بزرگر: بیشتر از دو سال میشود که مکاتب و دروازه پوهنتونها بر روی دختران بسته است تاثیر دراز مدت و کوتاه مدت آن به دختران وطن و افغانستان چه خواهد بود؟**

**داکتر خالدی:** زنان افغانستان که نیم نفوس کشور را تشکیل میدهند حق دارند در جامعه شامل باشند. زنان به مثابه مادران در تکامل فکری و ذهنی اولاد نقش کلیدی دارند. آنچه طالبان امروز بر سر زنان افغانستان می آورند تکرار همان وضعیتی است که پنج قرن قبل در اروپا حکمفرما بود. صد سال پیشرفت اجتماعی و فرهنگی کشور را طالبان متوقف کرده و به نقطهٔ اول باز گردانده اند. زن باسواد و تعلیم یافته از صحت بهتر برخوردار میباشد، فرزندان سالمتر ببار می آورد، مشاور بهتر برای شوهر و اولاد خود می باشد. بعد از یک نسل، یعنی بعد از 25 سال، بیسوادی زنان اثرات تخریبی جبران ناپذیر بالای انکشاف اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی کشور بجا خواهد گذاشت که هرگز نخواهد توانست با کاروان ترقی سائر ممالک همگام شود و این کشور همیشه مهر عقب ماندگی را بر جبین خواهد داشت. ادامهٔ وضع موجود، آیندهٔ ملت افغانستان را با خطر جدی روبرو نموده خطر عقب ماندگی از جریان تمدن معاصر، عقب ماندگی اقتصادی، تکنولوژیکی، اجتماعی، سیاسی، فرهنگی و فقر را با تجرید از جامعهٔ جهانی در برخواهد داشت.

**بزرگر: به نظر شما چرا طالبان مخالف تعلیم و کار زنان میباشد ایا این خواست طالبان است و یا حامیان خارجی شان، در حالیکه در هیچ کشور دنیا اسلامی و غیر اسلامی جلو کار و تعلیم دختران گرفته نشده است.**

**داکتر خالدی:** طالبان زیر نام حکومت اسلامی یک دولت اپارتأید جنسیتی و دیکتاتوری ملاها را اایجاد کرده اند. باید دانست که حکومت ملاها به معنی حکومت اسلامی نیست! حکومت اسلامی نه در قرآن مجید تعریف شده و نه در شریعت محمدی. در مورد منع تحصیل زنان در شریعت صرف یک حدیث موجود است که آنهم اصالت آن مانند صدها حدیث دیگر مورد سوال قرار دارد. منع تحصیل و تعلیم زنان در افغانستان به نفع هیچ حامی خارجی طالبان نیست بلکه از عقب ماندگی ذهنی و فرهنگی مقامات رهبری طالبان نمایندگی میکند. قاعدتآ حکومتها و رهبران دولت، همانند اشخاص انفرادی، می باید از شریعت به مثابهٔ روش زندگی و ارزشهای معنوی برای رسیدن به رستگاری در بارگاه عدالت خالق یکتا پیروی کنند نه به عنوان دساتیر اجرایی اجباری بالای جامعه .

**بزرگر: در این روزها بنام جبهه مقاومت و جبهه این و آن در بعضی کشورها جلساتی صورت میگیرد در حالیکه برگذاران این جلسات بیرق ملی، سرود ملی، نام افغانستان**

**و حتی خودرا افغان نمی گویند ایا اینها میتوانند از مردم افغانستان نمایندگی کنند؟**

**داکتر خالدی:** وضعیت بحرانزای کنونی، به رقبای منطقه ای و کشورهایی که در منطقه به دنبال اهداف استراتیژیک خود اند فرصت می دهد تا از ناتوانی حاکمیت در افغانستان سؤاستفاده کنند. خطر یک جنگ نیابتی دیگر هنوز متصور است. اخیرا تشکیل یک سازمان سیاسی-نظامی متشکل از جنرالان عالیرتبه نظام گذشته در امریکا خطر باز کردن روزه های جنگ داخلی را در کشور افزایش داده است.

شرایط نا مساعد کنونی به عناصر و جریانهای ضد حاکمیت ملی، ضد تمامیت ارضی و ضد اتحاد ملی مردم افغانستان فرصت داده تا با بلند کردن بیرقهای متعدد خراسان طلبی و هزارستان خواهی و تقاضاهای علنی برای تجزیۀ کشور علناً تبارز نموده خطرات جدی را متوجه بنیادهای وطن ما، تمامیت ارضی و اتحاد ملی افغانستان نمایند.

انحصار قدرت بدست یک قشر جامعه که عبارت از ملاها اند و تجرید مردم از سیاست و دولتداری به عناصر ضد ملی فرصت میدهد تا به دسایس ضد ملی به همکاری دشمنان خارجی اقدام کنند. گناه این وضعیت بدوش طالبان است. اگر طالبان همچنانکه ادعا دارند از حمایت مردم برخوردار اند باید از مردم نه ترسند و مردم را در ادارۀ دولت و کشور دخیل کنند.

**بزرگ: با سقوط جمهوریت صدها هزار قشر تعلیم یافته کشور به کشورهای بیگانه مهاجر شدند. علت برون رفت این قشر روشن فکر و تاثیر آن بر اینده افغانستان چه خواهد بود؟**

**داکتر خالدی:** متاسفانه این فرار مغز ها، با ادامۀ سیاست محروم کردن زنان از تعلیم و کار، بعد از چند سال هرگز قابل ترمیم نخواهد بود و اثرات مخربی بالای جامعۀ افغانستان بجا خواهد گذاشت.

**بزرگ: قسمي که دیده میشود در افغانستان یک حرکت ملی افغانستان شمول وجود ندارد چه باید شود که افغانها زیر یک چتر ملی با هم جمع شوند؟**

**داکتر خالدی:** با آنکه ساختن پل، پلچک، سرک، کانال و امثالهم برای انکشاف کشور و برای خدمت به مردم اهمیت زیاد دارند اما برای کسب مشروعیت حکومت بالای مردم و رضایت مردم کافی نیستند. در عدم موجودیت مشروعیت داخلی، در ادامۀ حکومتداری بدون قانون، در ادامۀ محروم کردن نیم نفوس کشور از حق تعلیم، تحصیل و کار؛ در ادامۀ محروم کردن مردم از حقوق سیاسی، در ادامۀ انحصار ارگانهای ادارۀ دولت توسط ملاها و محروم کردن سایر اقشار مردم، احتمال افزایش نارضایتی مردم و مقاومت در برابر رژیم به دور از تصور نیست. همین اکنون، خبرهایی از درگیری های مسلحانه از گوشه و کنار کشور به گوش می رسد. فعالیت های تروریستی یکبار دیگر امنیت را تهدید می کنند، و بخصوص با هدف قراردادن اقلیت های قومی و مذهبی، خطر تفرقه ملی افزایش یافته است.



حملات تروریستی در افغانستان و اطراف افغانستان همچنان ادامه داشته از یکطرف طالبان قادر به جلوگیری از آن نیستند و از جانب دیگر خارجیها موجودیت یک رژیم افرطی اسلام گرای طالبان را عامل آن میدانند. کشته شدن ایمان الظواهری رهبر القاعده در کابل مبین ادامۀ همکاری طالبان با این گروه تروریستی بین المللی میباشد. علاوه برآن حتی پاکستان موجودیت بعضی رهبران گروههای تروریستی را در افغانستان تایید کرده است. موجودیت گروه های تروریستی ضد هند، ضد چین، ضد تاجیکستان، ضد ازبکستان، ضد روسیه و حتی ضد پاکستان در افغانستان باعث ادامۀ جنگ های نیابتی گردیده شرایط زندگی مردم ما را بیشتر خراب میکند. جنبش طالبان نظر به ماهیت و محدودیتهای عقیدتی خود نه تنها نمیتواند جلو پرورش تروریزم و فعالیتهای تروریستی را در

منطقه بگیرد بلکه خطر جدی برای ثبات سیاسی دولتهای منطقه نیز محسوب میگردد.

با توجه به وضع اسفبار سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی موجوده مردم افغانستان و با توجه به عدم شناخت بین المللی رژیم امارت اسلامی طالبان، فعالین سیاسی افغانستان به ایجاد ایتلافها، اتحادیه ها و جبهه های متعددی دست زده اند. اما مبرهن است که هیچ بنیاد و ائتلافی به تنهایی نمیتواند به نجات افغانستان و مردم ما از وضع موجوده موفق گردد. با ادامهٔ عدم هماهنگی میان فعالین سیاسی، عمر حاکمیت ارتجاعی، انحصاری تامیت خواه و مستبد در افغانستان طولانی تر خواهد شد.

**بزگر: به نظر شما راه رسیدن به صلح پایدار و حکومت قانونی مردمی چه می باشد؟**

**داکتر خالدی:** قسمیکه گفتم طالبان اگر ادعا میکنند که از حمایت مردم برخوردار هستند از مردم نترسند. به مردم حق اشتراک در حیات سیاسی کشور دهند و از مردم کسب مشروعیت کنند. این کسب مشروعیت از طریق ایجاد یک لویه جرگه قانون اساسی میتواند انجام یابد که در آن نمایندگان مردم بصورت دموکراتیک و بدون دخالت طالبان از تمام ولسوالیها و نواحی شهری کشور دعوت شوند و یک قانون اساسی را که با شرایط افغانستان در قرن بیست و یکم مساعد باشد تصویب نموده یک نظام دولتی را ایجاد کنند.

**بزگر: ایا جنگ راه حل مشکل افغانستان است؟**

**داکتر خالدی:** جنگ راه حل نیست اما انعطاف ناپذیری طالبان و پافشاری طالبان بر ادامهٔ یک نظام اپارتاید جنسیتی و دیکتاتوری انحصاری ملاها در نهایت ناگذیر به جنگ منتهی میگردد.

**بزگر: به نظر شما احصایه، احصایه گیری، سرشماری، احصایه دقیق نفوس یک کشور چقدر ضروری میباشد؟ نفوس کشور و احصایه های خیالی به نظر شما قابل قبول است؟ و چه باید شود که نفوس دقیق کشور معلوم، ثبت و تثبیت شود؟**

**داکتر خالدی:** من گاهگاهی به وبسایت ادارهٔ ملی احصائیه و معلومات (احصائیهَ مرکزی سابق) سر میزنم و خوشحالم که این اداره همچنان به کارهای خود ادامه داده و همه ماهه و سالانه راپورهای مهم اقتصادی و اجتماعی را نشر میکند. سرشماری نفوس برای انکشاف اقتصادی و اجتماعی کشور نهایت ضروری است. از آخرین سرشماری نفوس در افغانستان 44 سال می گذرد و وقت آن است که یک سرشماری علمی انجام یابد. من در سالهای 1982-1983 مدیر عمومی سرشماری نفوس در احصائیهَ مرکزی بودم. و در این وظیفه نتایج سرشماری 1979 کشور راتحلیل نموده راپور مکمل سرشماری را به مقامات وقت ادارهٔ مرکزی احصائیه سپرده بودم که تا امروز مورد استفاده مقامات است. در آسترالیا دوکتورای خودرا در علم نفوس حاصل کردم و برای 26 سال در امور نفوس کارمند دولت آسترالیا بودم و هم اکنون دفتر مشورتی در موضوع نفوس دارم که راپورهای بسیار مهم برای ادارات دولتی و انجمنهای اجتماعی تهیه میکنم. در سالهای جمهوریت دفتر نفوس ملل متحد به من پیشنهاد کرد به حیث متخصص نفوس در اجرای سرشماری جدید به افغانستان بروم. اما در سالهای جمهوریت بخاطر نبودن امنیت امکان سرشماری موجود نبود، امروز امکانات اجرای سرشماری در افغانستان موجود است و ضرورت اجرای آن نیز عاجل است. من حاضر هستم در این مورد با ادارهٔ ملی احصاییه و معلومات همکاری کنم.

**بزگر: شما که نویسنده چند کتاب و صدها مقاله میباشید علت مخالفت یک عده که خودرا به اصطلاح عام خراسانی و هزارستانی شناخته میشود، چه میباشد تا جائیکه من خوانده ام و شناختی که با شما دارم شما در دفاع از منافع ملي و مردم خود چيزي ديگري نگفته ايد، ميشود درين مورد برایم بگویید؟**

**داکتر خالدی:** دلیل آن واضح است. خراسانیها و هزارستانیها میخواهند هرچه از تاریخ و فرهنگ و دولت افغانستان وجود

دارد تخریب کنند. لطیف پدرام با وضاحت و با بیشرمی چند سال قبل اعلام کرد که باید سمبولهای بزرگ ملی را در افغانستان نابود کرد. در مقابل، من دفاع از این سمبولها را وظیفهٔ درجه اول خود قرار داده ام. بنابر آن دشمن درجه اول این افراد طالب نبوده بلکه اشخاصی مانند من میباشند چون افرادی مانند من گلیم جعلیات ایدیولوژیکی طرز دید آنها را از زیر پایشان بر میداریم و پوچی شعارهای سیاسی آنها را به مردم بیان میکنیم. بنابرآن این خراسانیها و هزارستانیها هرگز چیزهایی را که من مینویسم نمیخوانند، همینکه نام مرا دیدند شروع به فحاشی و تخریب میکنند.

**بزرگر: پیام شما به جوانان کشور که در کشورهای خارجی زندگی میکنند چه میباشد که باید چه کنند و وقت خودرا مصروف چه کنند و اولیت شان باید چه باشد؟ افغانهای خارج از افغانستان چه نقشی را درمورد قضایای کشور میتوانند بازی کنند؟**



**داکتر خالدی:** در این مقطع تأریخی وظیفهٔ اساسی، مهم و خطیر تمام جوانان، روشنفکران، بنیادها، ایتلافها، اتحادیه ها و فعالین سیاسی افغانستان است تا در محور اهداف ترقیخواهانه، ارزشها و منافع مشترک در یک ائتلاف ملی برای نجات افغانستان متحد شده با ایجاد یک آدرس مشترک مرجع مراجعه و سنگر دفاع از منافع مردم افغانستان شده و در عین زمان پارتنر خوب و سالم برای جامعهء جهانی شده و در مقابل حاکمیت تمامیت خواه، مرجع انعکاس افکار تمام اقشار ملت افغانستان گردد؛

وظیفهٔ اساسی امروز ما ایجاد یک جبهه وسیع و فراخ از شخصیتهای ملی، بنیادها، ایتلافها، احزاب واتحادیه های مختلف، با ادامهٔ موجودیت مستقل آنها، زیر یک چتر برای هماهنگی فعالیتهای آنها در سطح ملی و بین المللی است در غیر آن از تماسهای توماس وست با عبدالله عبدالله و غیره مفسدین معلوم الحال مبرهن است که این ابتکار را کسانی بدست می گیرند که با سرنوشت کشور در گذشته معامله کرده و در آینده بازهم معامله خواهند کرد.

طالبان باید بدانند که حاکمیت غیر قانونی انحصاری موجودهٔ امارت اسلامی ملاها مورد قبول مردم افغانستان و جامعهٔ جهانی نیست. طالبان باید بدانند که با حکومت کردن به موجب تعبیر های ناقص، غیر منطقی و غیر عقلانی از احکام شریعت اسلامی نمیتوان نیازمندیهای مردم و جامعه در عصر حاضر را برآورده ساخت. مملکت به قانون اساسی و سائر قوانین که به تصویب نمایندگان ملت رسیده باشد نیاز دارد.

افغانستان یک کشور

نظر به ماهیت معضلهٔ کشور، و بخصوص دخیل بودن نهادهای استخباراتی کشورهای منطقه و ابرقدرتها، هرگونه ائتلاف میان گروههای سیاسی افغان برای یافتن راه حل برای بحران افغانستان باید از همکاری بین المللی برخوردار گردد. نجات افغانستان از شرایط نا مساعد کنونی، نه تنها وظیفهٔ مبرم ملت و روشنفکران افغانستان است بلکه مکلفیت جامعهٔ جهانی را نیز در بر دارد.

**بزرگر: نظر شما در مورد مرکز رسانه یی دعوت چیست و نظر و مشوره شما برای بهبود بیشتر فعالیتهای ما چه میباشد؟ همین ماه دسمبر ۲۰۲۳ جشن ۳۵ سالگی مجله دعوت است. نظر مشخص شما در مورد مجله دعوت چیست؟**

**داکتر خالدی: جا دارد به شما در ایجاد و پیشبرد مجلهٔ وزین دعوت تبریک بگویم. ادامهٔ این کار یک ضرورت فرهنگی، اطلاعاتی، معلوماتی و سیاسی برای روشنگری جامعهٔ افغانی میباشد.**

# په خیالي غرور اخته حکومت، هوایي ژمنو ته ناست ولس او په بهرني ملاتړ معتاد سیاستوال



لیکنه؛ عبدالوحید وحید

مورږ افغانانو له تیرو څو لسیزو راهیسی د خپلمنځی شخړو د حل ورتیا له لاسه ورکړي ده. ګاونډیان د افغانانو خپلمنځي جګړه خپل ستراتیژیک هدف ګڼي خو بالاخره په خپله یکې ونښلی او نړیوال زبرځواکونه هم د افغانستان د خلکو د متنوع کلتوري جوړښت عنعنوی مذهبي ځانګړتیاو او د تیتې کچې زده کړو په هکله د اړینو معلوماتو د نه درلودلو او یا هم د خپلو افغان اجنټانو لخوا د افغانانو د دیني او کلتوري تړاوونو په هکله د غلطو معلوماتو ورکولو له امله هر وخت غولول شوي او ناکام شوي دي،خو د افغانانو د غولولو او لوبولو همدغه لوبه لاهم روانه ده.

متأسفانه  له لسیزو راهیسی زموږ حاکمان د ملت له خیټې څخه د راټوکیدو او په خپل ولس باندي د تکیې کولو پرځای له بهر څخه تپل شوی دی او د خپل مشروعیت په شمول هر څه له بهرنیانو څخه غواړي. ځکه خو افغان سیاستوال له مودو راهیسی د ملي ګټو لپاره د قرباني ورکولو  او ملت مو د سیاستوالو په کړنو باندي د ځار او له هغوی څخه د حساب اخیستلو په برخه کې ښه شالید نه لري.  مشرانو په خبرو غولولي یو، د واک له ختمېدو سره سم یې پرېښي یو او خپلې تېښتې ته یې توجیهات هم وړاندې کړي دي. له تیرو پنځو لسیزو راهیسې د سوسیالیزم دین وطن دیموکراسي په شعارونو وغولول شوو. همدغه لامل دی چې هېواد مو د پردیو نیابتي جګړو ډګر ګرزیدلی دی.

که د حال خبره کوو، نو پوښتنه دا ده چې ایا معاصرو زده کړو ته د سختې اړتیا لیدل کیدو او ناپوهي د غلامي ګڼلو په معاصر وخت کي په نظام باندې د ولسي باور بایللو لپاره به دوه کاله خورا زیات وخت نه وي چې اوس نیو حاکمانو ولس ته د انجونو په مخ د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازو د پرانستلو وعدې ورکړې، خو عملاً لاهم هیڅ نشته؟ بله پوښتنه دا ده چې ایا د حاکمې ډلې لخوا د ژمنو پوره کولو لپاره له دوه کاله زیات وخت  په انتظار کی ناست ولس ته به اوس د وینښ ملت لقب ورکول مناسب وي؟

ایا د اسلامی اُمّت او هېواد د ثُقه دیني عالمانو ترمنځ له هر ډول ښکاره مباحثې او مناظرې پرته د انجونو په زده کړو باندې بندیز او د ناپوهی تورتمونو ته د ولس کش کول، د څو متکورو او سرټمبه اشخاصو د مکر ژړا او واویلا به اوسني حاکمان د متعال رب او خپل ولس په وړاندې له حساب او ځواب ورکولو څخه وژغوري؟ ایا دغه بندیز به  له هغه دین سره جفا نه وي چې د وحی پیل یې د اِقْرأْ (ولوله!) د امر په کلمه باندي شوی دی؟

که خپلو ستونځو د سیاستوالو له زاویې څخه راوګورم نو داسی عجیب او غریب سیاسي مشران مو درلودل چې د امریکا او قطر دفتر ترمنځ د مذاکراتو په مهال خلیلزاد د ارګ میشتو په ګډون ډېر سیاستوال ددې لپاره د یأس او امید ترمنځ ددی لپاره خوشحاله وساتل چې ګوندې خلیلزاد به یې د موقت حکومت د مشرتابه مرغی په سر باندې کینوی، خو داسی هیڅ ونشول. خلیلزاد ټول دوکه کړل او هک پک یې پرېښودل. اوس یوځل بیا زموږ د هېواد سیاسی فضا افواهاتو او ګنګوسو په سر اخیستې ده. انلاین او افلاین ناستې روانې دي. هر څوک په دغه فکر کې دي چې امریکا به بیا څوک په افغان تخت باندې کینوي. البته له نښو نښانو داسې ښکاري چې ممکن ډېر څه وشي، خو هیڅ کله به هم امریکا ځان یو ځل بیا د سریښو په ډنډ و نه ښلوي او د تېر وخت په څېر غلطیاني به تکرار نکړي.

هغوی پوهیږي چې که احیاناً تکرار هم شي، نو نتیجه به یې د تیر نظام په شان نسکوریدل وي.

موږ په افغانستان کې پنځه لسیزې د نړیوالو لخوا د یرغلونو، لاسوهنو او نیابتي جګړو د ناکامو پایلو ننداره وکړه، خو ورځخه د زده کړو هڅه مو نه ده کړې. د افغانستان د سیاسیونو او سیاستونو پرله پسې ناکامۍ موږ په امنیتي سیاسي او اقتصادي برخو کې د ناکامیو له امله په پردیو باندې په تکیه کولو معتاد وګرزیدو، خو له دغه اعتیاد څخه د نجات لارې نه لټوو. موږ خپل مکلفیتونه او مسوولیتونه هېر کړي دي. هر څوک او هروخت د نړیوالي ټولنې په تمه ناست یو چې کله به مو بهرنیان په رسمیت پیژني، کله به راته نظام، حکومت، ملت، سړک، ښوونځي، پوهنتونونه بندونه اساسي قانون او … جوړوي. کله به زموږ مخالف لوری راته ووژني او کله به واک موږ ته حواله کړي، خو نه پوهیږو چې نړیوال له خپلو غلطیانو څخه د زده کړو کولو کلتور لري او بیا تیرې سهوې نه تکراروي.

د خندا خبره ده چې د تېر نظام هغه لوړ پوړي چارواکي چې د غصب او د پراخ فساد له امله یې د نظام په نسکوریدو کې عمده رول درلود بیا خوبونهویني چې ګوندې بیا به ورباندې امریکا د رحم او کرم نظر وکړي او بیا به یې د واکمنانو په توګه افغانستان ته وشغوي.

خواب ساده دی. هغه دا چې موږ ویده مخلوق یو. موږ د پردیو څواکونو پردیو باروتو، بردیو وسلو او د خطر په مهال پردیو ویزاو ته سترګې نیولې وي. د زده کړو کچه مو ښکته ده. په ړوند تقلید باور کوو، نو مشران مو هم ابن الوقت او د پردیو لخوا د پردیو ګټو د خوندیتوب لپاره راباندې تپل کیږي او موږ یې د بدیو ناروا امرونو په وړاندې غږ پورته کول ګناه او د جابر په وړاندې چوپ پاتې کیدل واجب، مجبوریت او یا هم مصلحت ګڼو.

د ساینس او ټیکنالوژۍ په برخه کې د لوړې کچې پرمختګونو په معاصره کریتیریا کې بیوزله ولس او په اوږدمهاله توګه په ستونځو کې نښتي هېواد د مختلفو وجوهاتو عواملو او لاملونو پربنسټ د ملت د ناپوهي او د نیمګړي سیاسي مشرتابه د ترکیب پایله ګڼل کېږي. البته خوشحاله ولس، ښیرازه او پرمختللی هېواد د ویښ ولس، پاکو سیاستوالو او ملي ګټو ته د ژمن قیادت په کټګورۍ کې راځي.

له دې امله چې ولس مو اوس له خورا بد اقتصادي حالت سره لاس او پنجه نرموي، په لوړو زده کړو سمبال ځوانان مو د بیکارۍ له امله له سختې ناهیلۍ سره مخ دي، د انجونو په زده کړو باندې له تیر دوه کاله راهیسې بندیز لګیدلی، هېواد مو په نړیواله ټولنه کې په لوړه کچه منزوي وضعیت کې قرار لري، حاکمه ډله د ترینګلي وضعیت په تړاو د احساس نه درلودلو له امله د هوایي او خیالي غرور په رنځ اخته او د انډیوالانو ترمنځ د دولتي امتیازاتو په وېش لګیا دي. ملت لاهم د خپلو حیاتي ستونځو د حل لپاره غږ نشي پورته کولای او ټولنیز غبرګون نشي ښودلای، نو څرګنده خبره ده چې ولس د توپانونو په ګرداب کې د کوما حالت ته رسیدلی او د مشرانو هوایي او تخیلي ژمنو ته ناست دی، حاکمان له شته فرصتونو څخه د ګټې اخیستنې او د راتلونکو بحرانونو په هکله د اټکل کولو وړتیا نه لري.

دا چې موږ ټول ځانونه سوچه مسلمانان او نګه افغانان، د انسانیت او د مدنیت مخکښان ګڼو، نو بیا ولې ډلې ډلې یو؟ ولې هر یو د سیاسي امتیازاتو په لټه کې یو؟ ولې له یو بل سره د جوړیدو او د خپلمنځي شخړو د ختمولو د هنر زده کولو پرځای د یو بل وژل او شړل راته غیرت ښکاري؟ ولې له واک سره لېونۍ مینه کوو؟ ولې خپلمنځي جګړو ته د مقدساتو نوم ورکوو؟ ولې د علم او ټیکنالوژۍ په برخه دومره وروسته پاتې یو؟ ولې په خپلمنځ کې د خپلو ستونځو د حل وړتیا نلرو؟ او ولې مو حاکمان د پردیو پلانونو له مخې لکه نانځکې د پردیو له اړتیاو سره سم په تخت باندې کینول کیږي او له تخت څخه شړل کیږي او ولې مو مشران د ملت او هیواد د ګټو لپاره د قرباني ورکولو ثابتې بیلګې نلري؟

راځئ خپل ولس ته د هیلو لمن وغوړوو، له پردیو څخه نه بلکې له خپل ولس څخه تعامل وغواړو، ورځخه د خپلو تیرو سهوو ګناهونو حق تلفیو او تیریو بښنه وغواړو، ورباندې تکیه وکړو ورسره مشورې وکړو او ورځخه د مشرانو ټاکلو په تړاو رأیه، له نظام څخه ملاتړ او د حکومت په رسمیت پیژندل وغواړو. اصلاً ملتونه حکومتونه جوړوي. راځي ملت ته په حاکمه ډله باندې د ړوند تقلید په شکل د باور کولو تبلیغ پریږدو د سیاسي چارواکو د هرې خبرې منلو، د هغوی لپاره د ترانو ویلو، شعارونو ورکولو او لاسونو پړکولو پرځای هغوی ته له چارواکو سره د احتساب د هغوی په نیمګړتیاو باندې د نیوکو او د هغوی د بدو امرونو په وړاندې د مبارزې تلقین، خو د وسلوال بغاوت نه کولو توصیه وکړو.

# تعصب، تبعیض او عصبیت



محمد ابراهیم شینواری

په تېرو ۴۵ کلونو کې جګړو او بهرنیو یرغلونو د نورو زیانونو په څنګ کې د لوستي نسل په منځ کې د تعصب او تبعیض زیاتوالی رامنځ ته کړ چې پېژندنه، سببونه او د حل لارې یې باید وڅیړل شي.
هیله لرم په دې برخه کې ټول مثبته برخه واخلو چې لومړی یو آزاد او صادقانه بحث او په نتیجه کې د دې منفي پدیدې کمولو او له منځه وړلو زمینه جوړه شي.

## تعریفونه:

**تعصب:** په انګریزي کې ورته Prejudice وایي چې له Prejudgment څخه اخیستل شوی لغت دی. تعصب د تیار جوړ شوي ذهنیت او عقیدې پر بنسټ د ځینو وګړو او ګروپونو په باب د هغوی د رنګ، ژبې، قوم، هیواد، نژاد، مذهب، جنسیت او ټولنیز ـ اقتصادي حالت له مخې برداشت او سلوک ته ویل کیږي.

**تبعیض:** چې په انګریزي کې ورته Discrimination وایي، د نورو وګړو او ګروپونو په وړاندې د هغوی د رنګ، ژبې، قوم، هیواد، نژاد،مذهب، جنسیت او ټولنیز-اقتصادي حالت له مخې برخورد او عمل ته ویل کیږي.

**د تعصب او تبعیض توپیر:** دا دواړه یو له بل سره تړلې مفکورې دي، خو په طبیعت او څرګندیدو کې توپیر لري. تعصب نظریه او تبعیض تعصب امیزه کړنه، سلوک او برخورد دی. تبعیض په انساني اړیکو او د خدماتو په برابرولو کې د نابرابرۍ د رامنځ ته کېدو سبب کېږي او بدې ټولنیزې نتیجې رامنځ ته کوي. دا په اصل کې یو رواني یا احساسي غبرګون دی. تبعیض، د تعصبي چلند څرګندول یا عملي کول دي، چې افراد یا اداري له نورو سره غیر عادلانه، ناسم، ظالمانه یا توپیري چلند کوي. یعنې تبعیض د تعصبي اعمالو، سلوک، چلند، پالیسیو او اجراآتو معنی لري.

**عصبیت:** عصبیت دې ته وایي چې انسانان د پلار له خوا د خپلې انساني بیولوژیکي منشې سره کلکې اړیکې وساتي او دغه اړیکې تر هر څه مهمې وګڼي.

خو د ابن خلدون په نظر عصبیت د افرادو او ټولنو د انسجام د قوت او انګیزه لرلو له ورتیاو څخه عبارت دی چې د دغه قوت او ورتیا میزان په تاریخ او تمدن کې د بري او بقا عامل دي. د ابن خلدون له نظره عصبیت ټولنیز تمایل، انګیزه او ژمنتیا ده او داسې پیاوړی ټولنیز انسجام رامنځته کوي چې د تمدن دایجاد او بقا سبب کیږي. ابن خلدون یې د پلرنۍ بیولوژیکي اړیکو پر ځای د ټولنیز پیوند، انسجام او انګیزې د ایجاد په معنی کاروي.

## د اسلام نظر

د اسلام له نظره تعصب او تبعیض مردود دي. د اسلام ستر پیغمبر (صلی الله علیه و سلم) عصبیت ته بلونکي، تعصب کوونکي او په تعصب کې مره کېدونکي ټول له اسلام بهر ګڼلي او تعصب یې د جاهلیت د زماني یوه ورسته او بویناکه ټولنیزه ناروغي ګڼلې ده . اسلام ټول انسانان د آدم او حوا اولاد ګڼي، تور ته په سپین، عرب ته په عجم او د دوی پر عکس کوم امتیاز نه مني . امتیاز یوازې هغه چاته دی چې

ډېر پرهيز ګار وي. عالمان، خيررسوونكي، او له ښځو سره د ښه چلند لرونکي هم تر نورو ښه ګڼل شوي دي.

## پخواني او اوسنی حالت

له لرغونو زمانو راهيسې په انساني ټولنو کې په يوه اندازه تعصب او تبعيض وو او اوس هم شته خو اندازه او شدت يې تر پخوا کم شوی دی.

لرغونو انسانانو د قوم، جغرافيې او ټولنيز موقف له مخې تعصب کاوه. د رومي، يوناني، ساساني او نورو امپراطوريو په واکمنو او ټولنو کې د نورو په وړاندې شديد تعصب موجود وو، چې د لويو جګړو او تباهيو سبب کېده. زموږ نيکونو هم ځانونو ته نجيب ويل او نورو قومونو ته يې تر ځان په کم نظر کتل. په هندیانو کې کاست يا طبقاتي سيستم موجود وو او تر يوه حده اوس هم شته چې د ټولنې وګړي يې د برهمن (ملايانو او ښوونکو)، کشاتريا (حاکمانو، جنګياليو)، ويشنو (ځمکوالو او سوداګرو) او سوډر (کارګرانو) په ګروپونو ويشلي دي. د دوی دا باور هم وو چې لومړی طبقه د خدای له سر، دوهمه يې له سينې او متو، دريمه يې له خيټې او څلورمه يې له پښو جوړه شوې ده.

په تاريخ کې د مذهب او دين په نوم زياتره د سياسيونو له خوا شديد تعصب او تبعيض شوی دی چې صليبي جګړې، د عقايدو د تفتيش محکمې، د عيسوي فرقو خپلمنځي جنګونه، د يهودو پر خلاف تعصب او له اسلام څخه د ويرې پر بنسټ تعصب يې ډېر بوږنوونکي مثالونه دي.

د استعمار د مهال نژادي تعصب او تبعيض د بشريت د تاريخ ډېرې تورې بيلګې دي چې د نورو قومونو د تسليمولو، تيټ ګڼلو او غلامولو سبب شوي وو چې تر سمندرونو ورهاخوا د غلامانو ليږد يې تر ټولو بد ډول وو. د دغه مظلومو غلامانو زياته برخه په کښتيو کې مړه کيدل او سمندر ته غورځول کېدل، پاتې يې تر عمره غلامان پاتې کېدل. ښځې او اولادونه يې هم د غلامانو په توګه محکوم او مظلوم وو.

اوس که څه هم تعصب او تبعيض او يا لږ تر لږه د هغوی بدې اغيزې کمې شوې دي، خو لا هم د نژاد، قوم، ژبې، مذهب او جنسيت پر بنسټ تعصب او تبعيض موجود دی. په وروسته پاتې هيوادونو او په ځانګړې ډول افغانستان کې همدا اوس د جنسيت پر بنسټ تبعيض په ميليونو ښځې او نجونې له کار، ټولنيزو او سياسي حقوقو او زده کړې محرومې کړې دي. مذهبي نازغمي او د نورو مذهبونو د پيروانو پر خلاف تبعيض لا اوس هم په زياتو سيمو کې موجود دی. د نورو ملتونو د وګړو سره تعصب او په وړاندې يې تبعيضي چلند لا هم د دوی د حقوقو او ازاديو د محدوديدو سبب کيږي.

تعصب او تبعيض هله تر ټولو بد شکل نيسي چې د دين د ناسم تعبير يا قانون له مخې روا وګڼل شي او يا په پوهنيز نظام کې شامل شي. په دې صورت کې دغه بد فکر او عمل سم ګڼل کېږي او ورو ورو د ټولنيز نورم برخه کېږي چې بيا يې وګړي او بنسټونه د منفي پدېدې په توګه نه بلکې د يو مثبت يا لږ تر لږه د عادي فکر او عمل په توګه ګڼي چې بدې اغيزې او دوام يې زياتيږي.

د تعصب او تبعيض تر ټولو بدې نورې بېلګې دا دي: په دوهمه نړيواله کې د يهودانو عام قتل، په افريقا کې پر پورته يادو شوو بيلګو سربېره د اپارتايد موجوديت، په روندا کې د توتسي قبيلې نږدې يو ميليون وګړي وژل کېدل، د بوسنيا عام قتل، د ارمنيانو ټولوژنه. د اسراييلو له خوا د فلسطين د خلکو ځمکې او کورونه نيول او له دوی سره دوامدار ظلم او تيری.

## د تعصب او تبعيض سببونه:

1. **د ټولنې اغيزې:** افراد ممکن له ملګرو، کورنی، او ټولنيز چاپيريال څخه تعصيب لرونکی افکار واخلي. کلتوري نورمونه، ارزښتونه او تاريخي ميراثونه د تبعيضي ذهنيت او کړنو له ايجاد او دوام سره مرسته کوي. ټولنيز منفي ذهنيت او توقعات د تبعيض له پيدا کېدو او زياتوالي

شدت زیاتوي. د واکمنو له خوا د ځانګړو ګروپونو پر خلاف د تبعیض عملي کول د هغه د دوام او تقویې سبب کیږي چې په اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو برخو کې د واک د نانډولۍ سبب کیږي.

2. **د فرهنګ او رسنیو رول:** متعصبانه ټاپې او ناسم برداشت له دې هم رامنځ ته کیږي، چې کلتور او رسنۍ دغسې ذهنتیونه خپاره کړي، چې څو بېلګې یې دا دي: د توتسي او هوتو قبیلو په جګړه کې د رسنیو منفي او پارونکی رول، د Blackface Performances فلمونه چې تورپوستي یې په کارتونو کې ریشخند کړي او کم راوستي وو، په شلمه پیړۍ کې د غربي رسنیو له خوا د چینایي او جاپاني نژاده خلکو بې باوره ښودل او د زیړ خطر تر عنوان لاندې ورپسې خپروني کول، په نازی المان کې د یهودو کارتونونه جوړول. د رسنیو دې غیر مسؤولانه کړنې د تبعیض او ناعادلانه کړنو (لکه د یو میلیون توتسي وګړو قتل عام) او ناعادلانه قوانینو د جوړیدو سبب شوي. په غرب کې د اسلام د پیغمبر (صلی الله علیه و سلم) د کارتونونو رسمول او خپرول هم د کرکې خپرولو یو بد عمل دی چې بیا بیا تکرارېږي او د دوه بیلیونه مسلمانانو زړونه او احساسات ټپي کوي.

3. **قانوني نابرابري:** په قوانینو کې د تعصب او تبعیض څېنې بیلګې دا دي: د نورمبرګ په قانون کې چې نازی المان د هغه له مخې یهودان د ښاروندۍ له حقوقو محروم کړل، د هندوانو د کاسټ سیستم چې انسانان په ځلورو ګروپونو ویشي، او د ځینو د امتیاز او نورو د محرومیت سبب کیږي، په امریکا کې د جیم کرولي قانون چې د جنوبي امریکا خلک یې د نژاد پر بنسټ ویشل او سیتمیک تبعیض ته یې زمینه جوړوله.

4. **تعلیمي سیستم:** د امریکا او ځینو نورو هېوادونو اصلي اوسیدونکو ته د تعلیم د نه برابرولو، د جنسیت پر بنسټ د تبعیض تشویق، د زیاترو هیوادونو په تعلیمي نصابونو کې د یوه قوم یا خپل ملت برتري او لوړګنل هغه بېلګې دي، چې د تعصب او تبعیض تقویې ته یې زمینه جوړه کړې ده.

5. **ویره او ناامني:** فزیکي، ټولنیزه یا رواني بې اطمناني هم د تعصب سبب کیږي. کله چې په ټولنه کې فزیکي امنیت او ټولنیز خدمات نه وي موجود، ځیني وګړي نور افراد یا ګروپونه د دې کار مسؤول ګڼي او په مقابل کې یې تعصب کوي.

6. **اقتصادي عوامل:** په ټولنه کې د اقتصادي توپیرونو او د زیرمو د لاس ته راوړلو لپاره د رقابتونو شتون تعصب ته لار هواروي او ځیني ګروپونه یا افراد نور افراد یا ګروپونه د دغو ستونزو مسوول ګڼي او تر منځ یې نیتونه او اړیکي خرابیږي.

7. **رواني فکتورونه:** په افرادو او ګروپونو کې د لوړېتوبونو د ټاکلو په شان ذهني او شناختي عوامل هم د تعصب سبب کیږي. ځیني خلک غواړي چې نور په ګروپونو وویشي او بیا د ښه او بد تقسیمات وکړي چې ځانونه په ښو/ مستحقو او نور په بدو/ نامستحقو کې راولي.

8. **د دین او مذهب ناسم تعبیر او یا تري خیالي ویره:** د مذهبي متنونو تحریف یا د مذهب پر بنسټ بد چلند د میانمار له مسلمانانو سره د تبعیض او ظلم، د اروپا د عیسویانو تر منځ د مذهبي جګړو، د هندي مذهب د کاست سیستم، او په ایران کې د بهایانو سره د ظلم سبب شوي دي.

9. **انحصار او زیات غوښتنه:** د ځینو افرادو او ډلو ذهنیت همدا وي، چې تر نورو غوره دی، او باید زیاته برخه ولري، نور تر ځان کم وګڼي او نور باید د ده هر امر او غوښتنه د ټولنیزو نورمونو او اصولو په شان ومني. د واکمنو له خوا د ځانګړو ګروپونو پر خلاف د تبعیض عملي کول د هغه د دوام او تقویې سبب کیږي چې په اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو برخو کې د واک د نانډولۍ سبب کیږي.

10. **تعصب:** تبعیض زیاتره له تعصبه زیږي چې له اشخاصو او ډلو سره مخکې له مخکې جوړ شوي فکرونه او قضاوتونه

موجود وي او د هغو په اساس د يو ټولنيز ګروپ يا شخص د قوم، ژبې، رنګ، نژاد، مذهب، جنسيت يا هيواد له مخې فکر کوي.

11. **تاريخي سوابق:** د تاريخي نابرابريو، استعمار، غلامۍ، ټولوژنو او نورو تاريخي پيښو اغيزې هم د نسلونو تر منځ د اورده تبعيض سبب کېږي. د دغسې بې عدالتيو اغيزې د محرومو ګروپونو د شديدو غبرګونونو او يا له دوی سره د لا زيات تبعيض سبب کيدای شي.

12. **سياسي رقابت:** د سياسي ډلو او شخصيتونو تر منځ رقابت هم تعصب او تبعيض ته لار هواروي. سياسيون له تاريخي اختلافاتو، قومي شخړو، د واک د بې توازنۍ، د منابعو د غيرعادلانه ويش او نورو ستونزو څخه شعار جوړوي او خپل پيروان په دې انګيزه منظموي او له ځان سره ساتي چې ګويا دا ټولې ستونزې يې د مخالفې سياسي ډلې يا اشخاصو مسؤوليت دی، او د دوی د واکمنۍ پر مهال به حل شي.

## د تعصب او تبعيض عواقب:

1. **تبعيض:** تعصبي فکر تبعيضي چلند او سلوک ته لار هواروي چې پدې صورت کې د نورو سره په چلند کې تبعيض کوي او له حقوقو، فرصتونو او امکاناتو يې محروموي او يا يې له حقوقو انکار کوي.
2. **د خدماتو نابرابري او ليرې والی:** چې په ښوونه او روزنه، کارمېندنه، کور اخيستلو، روغتيايي خدمتونو او نورو حقوقو کې ځانګړي ګروپونه محروميږي. تبعيض د ټولنې د ګړو او ګروپونو منځ تر اړيکي کړکيچنې کوي، باور له منځه وړي او د دوه اړخيز پوهاوي او همکارۍ مخه نيسي.
3. **د انساني همدردۍ کمښت:** تعصب د انسانانو تر منځ د همدردۍ، تعاون او ګټورو اړيکو د کمېدو او له منځه تلو سبب کيږي.
4. **رواني زيان:** تعصب او تبعيض د رواني فشار، شديد خفګان، وارخطايي، او پر ځان د بې باورۍ سبب کيږي.

کله کله د اشخاصو او ګروپونو د شديدې پارېدنې سبب کېږي، چې ځان يا نورو ته ډېر زيان رسولی شي.

5. **ټولنيز واټن:** د تعصب او تبعيض له امله د ټولنې د وګړو په منځ کې د (موږ) او (دوی) فاصله ايجاديږي او ورو ورو زياتيږي چې دا د ټولنيز انسجام او يووالي مخه نيسي. پدې صورت کې د ټولنې وګړي هغو ته چې د (موږ) په ډله کې شامل دي، توجه کوي او له هغو کرکه کوي چې ورته (دوی) ښکاري.
6. **تشدد او نفرت:** تعصب او تبعيض زورزياتي، کينې او کرکې ته زمينه جوړوي او په نتيجه کې د کرکجنو ټکرونو سبب کېدای شي چې له يو ګروپ سره د تړاو له امله د وګړو د ټپي کېدو او وژنې سبب کيدای شي.
7. **سياسي اغيز:** تعصب او تبعيض د دې سبب کيدای شي، چې په ټولنه او ادارو کې سيستميک شکل غوره کړي او د ځانګړي ګروپ او ډلې پر خلاف يا ګټه د ناسمو سياسي پريکړو او قوانينو او پاليسيو جوړولو او عملي کولو سبب شي چې د منابعو په ويش، فرصتونو ته په لاسرسي، او حقوقو تأمينولو کې د لا زيات توپير سبب کيږي او عدالت کمزوری کوي.
8. **سيستماتيک تعصب:** تعصب او تبعيض که په سيستماتيک ډول بدل شي، په موسسو، ادارو، او دولت کې د ناسمو پريکړو، غيرعادلانه قوانينو او ناسم چلند سبب کيږي چې د افرادو او ډلو د حقوقو تلف کېدل پکې پراخ اړخونه مومي.
9. **اقتصادي اغيزې:** تبعيض اقتصادي وده او نوښتونه محدودوي، ځکه ځينې باکفايته اشخاص او ګروپونه په بيلابيلو صنعتونو او فرصتونو کې له حقوقو او ګټون څخه محروميږي چې زيان يې ټولنې ته رسيږي.
10. **زورزياتی او کرکجن جرمونه:** په شديدو حالاتو کې تبعيض د زورزياتي، کرکې، جرمونو، فزيکي زيان اړولو، وژنو او حتی د ځانګړو اشخاصو او ډلو د ټولوژنو سبب کېدای شي.

## د تعصب او تبعیض د کمولو او له منځه وړلو لارې چارې

د تعصب او تبعیض کمول او په نتیجه کې له منځه وړل یوه پیچلې او دوامداره پروسه ده چې پکې د اشخاصو، ټولنو، بنسټونو او دولتونو همغږې او منسجمې هڅې باید شاملې شي. ځینې دغسې لارې چارې یې دا دي:

1. **د تعلیم او خبرتیا زیاتول:** په دې کې دوه برخې ډېرې مهمې دي:

لومړی د تعلیم خپرونه او د رنګارنګۍ د نظریې عامول. که د تعلیم جامع پروګرامونه عملي شي، په درسي نصاب او پروګرام او نورو مربوطو برخو کې پدې برخه تمرکز وشي، مرسته کوي.

دوهمه برخه داده چې د تاپو، تهمتونو او ملامتیا په باب انتقادي تفکر تشویق شي، په تعلیمي نصاب او تعلیمي محتویاتو کې د بیلابیلو موادو، لیدلورو، نظرونو او تاریخي پېښو د بې طرفه او علمي تحلیل شاملول یقیني شي چې پوهاوی او ټول ګډونوالی رامنځ ته کړي.

2. **ازاد بحث:** داسې خوندي چاپېریال دې جوړ شي چې پکې د تعصب او تبعیض په باب ازاد، صادقانه، او جوړونکی بحث وشي. داسې بحثونه لانجې او د قضاوتونو تفاوت کموي. ټولنې دې پدې برخه کې راشریکې شي، د ټولنې په منځ کې دې داسې نوښتونه، تشکلات، او مراسم تر سره شي، چې د بیلابیلو سوابقو خلک راټول کړي او تر منځ یې معنی لرونکی تفاهم راشه درشه رامنځ ته شي.

3. **قوانین او پالیسي:** تبعیض ضد قوانین او پالیسۍ باید تصویب او عملي شي چې په مهمو برخو لکه زده کړو، تقرر او خدماتو کې د ټولو خلکو په ځانګړې ډول د زیانمنیدونکو اشخاصو او ګروپونو حقوق خوندي کړي. د دې په څنګ کې باید داسې پالیسۍ عملي شي، چې تاریخي ستونزې پکې ومنل شي، موجودې بې عدالتۍ له منځه لاړې شي او په بیلابیلو سکتورونو کې تنوع تقویه شي.

4. **په کاري چاپیریال کې تنوع او ټولګډون والی:** په استخدام کې باید له هرې ډلې، سیمې او جنس څخه کسانو ته د لیاقت او اهلیت پر اساس مساوي او عادلانه فرصت برابر شي. دهغو سیمو او ګروپونو کادرونو ته باید زیاته توجه وشي، چې محروم پاتې شوي دي. د کاري چاپیریال ټولګډون کلتور ډېر مهم دی چې تقویه او تشویق شي. په دغسې چاپیریال کې باید هر شخص د ده له سوابقو پرته ارزښت ولري، او درناوی یې وشي.

5. **رسنې او نماینده ګي:** رسنې باید مسؤولانه چلند ولري او خپرونې یې د قانون له مخې تنظیم شي. رسنۍ باید تنوع تشویق کړي، ټاپې او په تلویزیون، رادیو، ویب پاڼو، فلمونو او اعلانونو کې پر خاصو ګروپونو د تور، افترا، جعل، دروغو، تحریف شوو معلوماتو، ټاپو او ملامتی له کلتور سره مبارزه وکړي. رسنۍ باید په خپل مشرتابه او نورو بستونو کې د اهلیت او عدالت اصلونه مراعات کړي او د محرومو ګروپونو نماینده یقیني کړي.

6. **د محرومو ګروپونو او وګړو تقویه او ملاتړ:** د محرومو ټولنو لپاره د ملاتړ او مرستې داسې پروګرامونه جوړ شي چې د عامې او دماغي روغتیا، پوهنې او حقوقي مشورو خدمات پکې شامل وي. د وروسته پاتې سیمو لپاره د لاربښوونې او مرستې ځانګړې پروګرامونه دې هم جوړ او عملي شي، تر څو دا زده کړي چې څنګه فرصتونو ته لاسرسی پیدا کړي.

7. **د کلتورونو شریکې تجربې:** د بېلابېلو سیمو تر منځ دې د ګډو کلتوري، ټولنیزو، تفریحي، او ورزشي پروګرامونو له لارې اړیکې او راشه درشه زیاته شي. د بېلابېلو ګروپونو اشخاص دې د نورو په خوشالیو او غمونو کې ځانونه شریک کړي. تاریخي او فرهنګي مراسم دې سره په ګډه دایر کړي، یو له بل سره دې خپلوۍ وکړي او د ښوونځیو او پوهنځیو په لیلیو کې دې د بېلابېلو سیمو کسان سره

گروپ بندي شي، چې تر منځ يې کلتوري تبادله زياته او د دوستي مزي غښتلي شي.

8. **محلي نوښتونه:** هغه سازمانونه بايد تقويه شي چې په محلاتو کې له حالاتو او کلتور پوره خبر دي او د تعصب او تبعيض سره د مبارزې لپاره کار او نوښتونه کوي.

9. **د راپور ورکولو سيستم:** د تعصب او تبعيض پر خلاف د قوانينو تر جوړولو وروسته بايد د راپور داسې ميکانيزم جوړ شي چې تعصب کوونکي او تبعيض کوونکي اشخاص، ډلې او بنسټونه عدلي او قضايي ارګانونو ته معرفي شي چې د عادلانه څېړنو وروسته د جرم په صورت کې قانوني سزا ووينې.

10. **ارقام ټولول او څېړنې:** د تعصب د سببونو، حالت او حل لارو په باب دې علمي څېړنې وشي او د ارقامو او شواهدو په رڼا کې دې دولتي او غير دولتي بنسټونو او اغيزناکو اشخاصو او ټولنو ته وړانديزونه او حل لارې وړاندې شي. د دغسې پر شواهدو ولاړو وړانديزونو پر اساس پريکړې به طبعا ښې نتيجې ورکړي.

11. **حساب ورکول:** ټولنې، بنسټونه او مهم اشخاص بايد د حساب ورکولو د يو سيستم له مخې ملت او د مربوطو خدمتونو اخيستونکو ته روڼ او مشخص ځواب ورکړي. دوی بايد د تعصب او تبعيض پر خلاف د خپلو کړنو او نتيجو د پيمايش وړ راپور وړاندې کړای شي.

12. **اتحادونه جوړول:** اشخاص او ټولنې په ځانګړې ډول ځوانان، ښځې او زيانمنېدونکي ګروپونه بايد د تعصب او تبعيض ضد ټولنې او اتحادونه جوړ کړي چې پخپله سطحه او امکاناتو له دغو منفي پديدو سره مقابله وکړي او په کملو کې يې برخه واخلي.

دا بايد ومنو چې د تعصب او تبعيض کمول او له منځه وړل يوه دوامداره پروسه ده چې د اشخاصو، ټولنو، بنسټونو او دولتونو ټينګه ژمنتيا او دوامدار منسجم کار غواړي. په دې برخه کې به پرمختګ ورو وي خو په ګډ کار، تداوم، عزم او همکارۍ د يوې عادلانه او ټولشموله ټولنې له جوړېدو سره مرسته کوي.

## د ابن خلدون د عصبيت د نظريې په باب څو ټکي

د ګروپ او ډلې اتحاد، ټولنيز يووالی، ملي پيژندنه او هويت (چې ابن خلدون ورته عصبيت وايي)، د ملي انګيزې ايجاد، او په نتيجه کې د دولت او تمدن د منځ ته راتګ، ساتنې او پراختيا سره مرسته کوي.

که عصبيت د يوه ملت په منځ کې د ګروپونو او قومونو له خوا د نورو ګروپونو او قومونو پر خلاف ايجاد او تقويه شي، نو د ملت تر منځ د اختلاف، واحد بدن د کمزوري کېدو، زيانمنيدو او له منځه تللو سبب کيږي.  دا د انسان په بدن کې د اتواميون ناروغيو په شان دی چې د بدن ځينې حجرې خپله اصلي دنده هېروي او د بدن د نورو حجرو د له منځه وړلو سبب کيږي، چې طبعاً پخپله هم زيان ويني.

هغه ټولنې چې خپل ټولنيز انسجام ونه شي ساتلی او د ملت او هيواد ساتلو انګيزه ونه لري، د نورو ملتونو او هيوادونو په مقابل کې ماتيږي.

## د تعصب او تبعيض په وړاندې د انسانانو برياوې:

لومړی ځل اسلام د انسانانو د مساوي حيثيت اعلان وکړ چې ټول له يوه مور و پلار څخه پيدا شوي او په قبيلو او شعبو يې ويش د پيژندو لپاره دی. د مکې تر فتح وروسته د رسول الله په امر حضرت بلال چې يو ازاد شوی تورپوستی غلام وو، د تر ټولو مهمو اصحابو پر اوږو د کعبې خونې ته وخيژول شو، چې له هغه ځايه اذان وکړي. دې سمبوليک اقدام دعربي جهالت او قبيلوي عصبيت ټول غرور مات کړ. په حجة الوداع کې رسول الله کې بيا په ښکاره اعلان وکړ چې سپين په تور او تور په سپين، عرب په عجم او عجم په عرب برتري نه لري، برتري يوازې په تقوی کې ده. متاسفانه تر رسول الله او راشده خلفاوو وروسته مسلمانانو دغه پرمختيايي بهير لا تقويه نه کړای شو او وروسته عربو واکمنو د نورو ملتونو مسلمانانو ته

مساوي حیثیت نه ورکاوه، موالیان او نور نومونه یې ورته کارول او زیاتره یې ورته تر عربو په کم او شکمن نظر کتل.

په شلمه پیړۍ کې د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه د بشریت یو تر ټولو ستر پرمختګ وو، چې ټول انسانان یې د مساوي کرامت او مساوي او عادلانه حقوقو خاوندان وګڼل.

دغه حالت د رسیدو لپاره نورو مهمو مبارزو هم خپل مهمه برخه لرلې ده: د نژادي تبیعض پر خلاف د مارتین لوترکینګ نهضت، د اپارتاید ضد نهضت، د ښځو د زوریدو د مخنیوی نهضت، د هیوادونو په قوانینو کې اصلاحاتو، د مدني ټولنو، دولتونو، ملګرو ملتونو او نورو ادارو هڅو ټولو د تعصب او تبعیض په کمولو کې برخه لرلې ده.

په لویدیځو هیوادونو کې دغه پرمختګ زیات او په نوره نړۍ کې کم دی، خو لا هم یکې پټ تعصب او نه حسبډونکی تبعیض شته، چې پر ضد یې سیستماتیک کار کېږي.

البته قومي او ملي برتري غوښتنه لا تر اوسه د ټولو هېوادونو په سیاستونو او د ولسونو په منځ کې تر ډېره حده شته، ځکه اوس زیادترین هیوادونه د ملت – دولتونو له خوا رهبري کېږي، چې هر یو خپل ملي حاکمیت، ملي ویاړونه او ملي هویت تقویه کوي چې کله کله د نورو ملتونو پر خلاف د کرکې او حتی تشدد او جګړو سبب کېږي.

## د منفردو اشخاصو څو بریالۍ کیسې:

امریکایي توروپوستي موسیقار ډیریل ډیویس د یو داسې ګروپ سره دوامدار کار وکړ چې تعصبي افکار او تبعیضي چلند یې کاوه. د ده کار په پای کې نتیجه ورکړه او دغه ګروپ یې له خپل منفي کاره راوګرځاوه. دې هڅو ثبوت کړه چې په ټولنیزو سمونونو کې پوهاوی، ازاد بحث او اړیکې خومره اغیزناکې دي.

سپین پوستی لوړتیاغوښتونکی ارنو میشلیس د سپین پوستو د لوړتیا یو مشهور فعال وو او په نژادپالونکو کړنو کې تل بوخت وو، خو له یو سکهـ سره تر ملګرتوب وروسته له خپل نظره راوګرځید او اوس د تعصب او تبعیض ضد یو تکړه فعال دی.

منیره خلیف چې یوه سومالیایي ـ امریکایي ده د زده کړې په لار کې د کلتوري او ټولنیزو خنډونو په لیرې کولو کې یوه بېلګه او د ملګرو ملتونو د ځوانانو استازې شوه. هغې تبعیض، سټریوټایپ او تبعیض چلنج کړل او بریاوې یې تر لاسه کړې.

دغسې کسان ډیر زیات دي. هر فرد او ډله کولی شي چې لومړی خپل فکر بدل کړي، بیا عزم وکړي، بیا منظم شي، پلان جوړ کړي او په خپله ساحه کې د وس او امکاناتو په اندازه مثبته برخه واخلي.

## په افغانستان کې تعصب او تبعیض:

افغانستان هم له نورې بشري ټولنې مستثنی نه دی. اشخاصو او ګروپونو دلته هم د هر ځای په شان د منابعو، مقام او واک لپاره رقابت کړی دی، حکومتونو هم د واک د ټینګښت لپاره بېلابېلې لارې چارې کارولې دي، او دلته هم د استعمار او بهرنیو لاسوهنو په نتیجه کې د نفاق په اور تیل اړول شوي او دي ټولو تبعیضي چلندونو ته زمینه جوړه کړې ده.

له انقلابونو مخکې حکومتونو د شوروي اتحاد او بریتانیا د استعماري پرمختګ په وړاندې د یوې پیاوړې دیني انګیزې د تولید او له ایران سره د تمایز لپاره د سني اسلام داعیه ژوندۍ ساتله او پدې سبب متاسفانه له شیعه افغانانو سره تبعیضي چلند شوی دی. د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند په داخلي اختلافونو او د مجاهدینو د بېلابېلو ډلو تر منځ د کابل د نوویمو کلونو په جګړو کې هم تعصبي رنګ راښکاره شو.

دغه دوه لوري چې یوه یې د نړۍ د کارګرانو یووالی او بل د نړۍ د مسلمانانو یووالی شعاراوه، په خپلو کې د اختلاف له امله قومي، ژبنیو، مذهبي او سمتي شعارونو ته پناه یووړه او په ولس کې یې د تعصب او په ادارو کې د تبعیضي اعمالو او اجراآتو زمینې جوړې کړې.

په دې کار کې د دغو ډلو د بهرنيو حاميانو رول ډېر بارز وو، چې د استعمار د زاړه فرمول له مخې يې کوښښ کاوه افغانان لومړی بيل او بيا ايل کړي.

په افغان ولس کې لا هم د اسلامي او افغاني  وروری روحيه پياوړې ده، خو په لوستي قشر کې د تېرو ۴۵ کلونو د سياسيونو تر اغيز لاندې د تعصب او کرکې ذهنيت ايجاد شوی دی. که واکمنان او دولتونه په قوانينو، پاليسيو، اجراآتو او کړنو کې عدالت او انصاف مراعات کړي، رسنۍ د تعصب پر خلاف مثبت رول تر سره کړي او د ملت لوستی قشر د پورته يادوو شوو لارو چارو د عملي کېدو لپاره کار وکړي، د دې بدې ټولنيزې ناروغۍ درملنه کېدای شي.

### مثبت تعصب او تبعيض

دا اصطلاح ګاني هم په انکشافي، رسنيزو او نورو برخو کې د دې لپاره کارول کېږي چې ځينې اشخاص يا ډلې د تحقير پر ځای د خوښۍ احساس وکړي. که يو چا ته وويل شي، چې رياضي کې ځکه تکړه دی چې د دې هغه ځای يا هيواد دی، دلته يې د سيمې يا هېواد نوم په منفي مفهوم نه دی ياد شوی.

د يو محروم ګروپ استازو ته ځانګړی امتياز هم په مثبت تبعيض کې راځي او د دغسې شخص يا ډلې نماينده ته د کوچني بري په صورت کې ډېر تشويق هم دغسې يو مثبت مثال دی.

د مثبت عمل پاليسي هم د مثبت يا رجعتي تبعيض يو مهم ډول دی چې د ځينو ټولنيزو ګروپونو ته  د دوی په وړاندې د تاريخي نابرابريو د جبران لپاره ځينې اضافي امتيازونه ورکوي. په پوهنتونو کې محرومو سيمو ته څه اضافي فرصتونه، د جنيسيت پر بنسټ په ځينې پروګرامونو او بنسټونو کې ځانګړې سهميې چې حد اقل نماينده ګي تأمين کړي د همدغسې مثبت تبعيض بېلګې دي.

دا کړنې بايد د عدالت د تأمين او ځانګړو ګروپونو د معقول پرمختګ په خاطر وي، نه د غيرقانوني امتياز او د ښاروندۍ د اصولو خلاف د يو ګروپ يا سيمې د برترۍ منلو په نيت.






# مفسدین و مختلسین دوره اشغال در چنگال

## عدالت سیاست زده امریکا



دوکتور م، عثمان تره کی

وزارت مالیه امریکا با اعلام بازخواست از رحمانی رئیس انتصاب شده پارلمان گذشته در رابطه به فساد و اختلاس صفحه تازه یی را در دوسیه ضخیم فساد در افغانستان ورق زد. این اقدام وزارت مالیه امریکا را باید به مثابه ارسال یک پیغام مثبت به آدرس افغانستان و در عین حال تغییر کوچک در موضع آنکشور در برخورد به دوسیه افغانستان قیاس کرد.

اقدام وزارت مالیه امریکا در رابطه به آغاز بازخواست از مفسدین دوره اشغال قابل تقدیر است. اما تا وقتیکه در عمل گام موثر برداشته نشده است نباید زیاد خوشبین بود.

نکته مهم اینست که اگر دامنه تعقیب مفسدین وسعت اختیار کند و بازخواست قضایی نتیجه بدهد، باید پول های غارت شده به خزانه افغانستان تحویل داده شود.

باند های مختلس و فاسد تحت حمایت امریکا در دو دهه ثروت های افسانوی در داخل و خارج افغانستان اندوخته اند. امکان این وجود دارد که در داخل افغانستان توسط یک حکومت قانونی و مشروع ملکیت مفسدین فراری استملاک شود. در حقوق مدنی ممالک غربی حکمی وجود دارد زیر عنوان :

Enrichissement sans cause

که میتوان آنرا به « غنای بدون علت » ترجمه کرد. بر مبنای این اصل هرگاه کسی منبع مشروع ثروت و مالکیت خود را در پیشگاه یک محکمه ذیصلاح به شکل مستند ثابت نکند، املاک او ضبط و به خزانه دولت انتقال میابد.

اصل غنای بدون علت را میتوان در قانون مدنی افغانستان جاه به جاه کرد و ازان به مقصد استملاک دارایی های غیر مشروع مختلسین و مفسدین استفاده نمود.

متاسفانه طالبان از همان آغاز احراز قدرت به تبعیت از معامله پشت پرده موافقتنامه دوحه، راه مصلحت با باند های فاسد مافیایی را در پیش گرفته اند: برای حفاظت ملکیت های مفسدین محافضین گماشته اند. مختلسین را شامل عفو عمومی نموده اند. از متهم به خیانت و جنایت جنگی در میدان هوایی کابل استقبال نموده اند.

از ین گذشته یکی از موارد دیگر تصفیه حساب با امریکا و مؤتلفین رسیدگی به جنایات جنگی در افغانستان طی ۲۰ سال اشغال است. رسیدگی به جنایات جنگی موتلفین نظامی باید شرط هر نوع مذاکرات اداره طالبان با کشور های غربی به مقصد عادی شدن مناسبات باشد.

امریکا و موتلفین بدون دادن پاسخ از جنایات مرتکب شده جنگی از افغانستان بیرون شدند. طالبان به دلیل ضعف یا مصلحت نتوانستند یا نخواستند، در موافقتنامه دوحه به این موضوع اشاره یی داشته باشند.

امریکا بار ها مطالبه دیوان جزای بین المللی را در موضوع تعقیب جنایات جنگی آنکشور در افغانستان ، رد کرده است. پامپؤ وزیر خارجه پیشین امریکا دیوان را آشیانه شیطان و غیر قانونی اعلام کرده بود.

امریکا عضویت دیوان را ندارد. اما دیوان میتواند در کشورغیر عضو دوسیه تحقیق باز کند.

امریکا اگر از یک طرف به دیوان جزای بین المللی زمینه تحقیق و تعقیب مجرمین جنگی را میسر نمیسازد، از سوی دیگر خود با استفاده از نظام قضایی آنکشور، در موضوع منفعل و بی توجه باقی مانده است :

دونالد ترامپ، رئیس‌جمهوری سابق آمریکا در نوامبر ۲۰۱۹ دو نظامی آمریکایی ( دگروال متیو گلستین و تورن کلینت لورانس ) متهم به انجام جرایم جنگی در افغانستان را عفو کرده بود.

تعقیب قضایی مفسدین و جنایت کاران جنگی در داخل افغانستان نیز امکان پذیر است و آن در صورتی است که کشور دارای یک حکومت مشروع مبتنی بر قانون اساسی شود و مجرمین فراری بکشور باز گردانده شوند.

تعقیب قضایی مفسدین، خائنین و مجرمین جنگی فراری در خارج و کشانیدن شان به محکمه اختصاصی در داخل کشور،ایجاب رابطه دیپلوماتیک حکومت مشروع افغانستان با جهان را مینماید. رابطه دیپلوماتیک افغانستان را قادر میسازد که :

- معاهدات استرداد مجرمین فراری را با کشور های خارجی عقد کند.

- از پولیس انترپول برای توقیف متهمین کمک درخواست نماید.

- دوسیه متهمین را به دیوان جزای بین المللی ارجاع کند.

رسیدگی به دوسیه مفسدین، خائنین و مجرمین جنگی وقتی امکان پذیر است که عدالت قربانی مصلحت و سیاست نشود و امریکا که بازیگر اصلی ستیج جنگ و صلح افغانستان است، ابتکار عمل را در جهت مثبت و سازنده بدست بگیرد.

« پایان »




## خدمت مردم

**عبدالرحمن پژواک (رح)**

چندانکه نقل آدم و گندم حکایتیست
افسانهء کرامت مردم حکایتیست
گر داستان مادر میهن شنیده ای
فرجام کار مادر گژدم حکایتیست
جز بر حدیث خون لب کس وا نمی شود
غیر از دهان زخم تبسم حکایتیست
از زخمه خون بکاسهء طنبور می کنند
بزم شراب و ساز و ترنم حکایتیست
با خون وضوی مرد ره حق حقیقتی
بهر نماز عشق تیمم حکایتیست
در دوزخی که مردم آزادش هیزم است
آوازه های گرم جهنم حکایتیست
پژواک هر که بندهء نامردمان شود
از وی حدیث خدمت مردم حکایتیست!

# موږ او له وطنه راتاو اور



**عبدالغفور لېوال**

## «باران په تیرا وشو، خره یې د لرمورې یووړل!»

**عجیبه نه ده؟**

۲۳ کاله پخوا عرب ترهګرو امریکایي الوتکې د نیویارک و پینټاګون پر ودانیو وروغورځولې، خو امریکا یرغل په افغانستان وکړ.

امریکا ویل: موږ او زموږ شېرپنځوس نور ناټوغړي شریکان دلته د اسامه بن لادن کوربنو او پناه ورکوونکیو له لاسه راغلي یوو .

نو داسې یې شل کاله د افغانستان خلک و کړول، خپل پخواني جهادي – تنظیمي شریکان یې په ډالرو اوفسادي ګټو وپرسول او په پای کې یې بېرته هماغه د اسامه کوربانه راوستل او افغانان یې د دویمې هجري پېړۍ متحجر استبداد ته کېنول .

په پاکیستان کې د اکوړه خټک، لاهور او کراچۍ د مدرسو روزلي ځانمرګي په پښتونخوا و بلوشستان کې وژنې کوي، نګران لومړي وزیر ښاغلي انوارالحق خان هره ورځ په افغانستان کې دننه د پوځي عملیاتو ګوته څنډي .

انتخابات د پاکیستان ټیکاو نه مومي، په نه کرې ګناه یې منظور پښتین او ماهرنګ بلوڅ زنداني کړي دي .

ایران له امریکا او اسرائیلو سره د فلسطین په غزه کې ښکر اړم کړي، خو کله، چې په کرمان کې چاودنې وشي، د کورنیو چارو وزیر یې وایي: له افغانستان سره په پوله به دیوال وهي، چې مچوومیاشې هم وروانه وړي .

روسان له ناټو او لویدیځ سره په یوکراین کې خرېپه‌خرې دي، خو پوټین چیغې وهي، چې ویره یې له افغانستان څخه ده او د تاجیک ولسمشر پښې دلته ړپي .

چین د امریکا په سیالۍ کې غواړي له ټولې نړۍ د سوداګریزې لارې ملاوستنې (کمربند) راتاو کړي او خپل تولیدات مخامخ هرځای ورسولای شي، خو په ضد یې وژنې، چاودنې، تښتونې او اورلګونې له ګوادر بندره رانیولې په ټوله پښتونخوا، بیا ان تر واخان کوریدور او قراقروم دښتو پورې روانې دي، زمکه په کې د پښتنو او بلوڅو سوزي او د جبهې شا یې افغانستان دی او ایغور ترهګر په بدخشان و وزیرستان کې ډېره دي .

د «داعش» نوم له دغو تورو اخیستل شوی: (الدولة الإسلامیّة فی العراق والشام) یعنې په عراق او سوریه کې اسلامي دولت! خو سر یې له توری بورې راوځي، یا له کونړ یا هم په شمال کې د امو له غاړو. سپینږیرې د شینوارو په بمونو کینوي، نوی زېږېدلې ماشوم د خوریانو له منځه دوه ځایه کوي، د کوشنیو ماشومانو کورسونه په دشت‌برچي کې الوځوي او د جهادالنکاح لپاره د ډیورند دواړو غاړو خویندې میندې په جنسي مینځو بدلوي .

پاکیستان و هیندوستان یو د بل په وړاندې چاودنې او غویمنځ په کابل کې کوي، د مومبای تاج‌محل هوټل ترهګر د ډیورند په غاړوپټ وي، د هیندوستان الوتکه کندهار ته راتښتول کیږي او په بدل کې یې د انصارالمجاهدین ملا مسعود اظهر او څلور تنه نور ترهګر غوښتل کیږي او هیندوستان یې هم ورپرېږدي.

چې د ایران و سعودي و نورو ترمنځ دوښمنۍ لویه شي او د چین د ژېړ ښامار پانګونې ته د ګواښ پېښېدلو اړتیا پېښه شي، دلته په کورمه، پاړه‌چنار، هنګو او نورو سیمو کې د شیعه – سني جګړه توده شي، دواړه لورې پښتانه او سره ترهزامن وي یو بل ته لارې ونیسي او لس لس و شل شل راوغځوي، خو یو لورې هم نه پوهیږي، چې ولې؟ او د څه لپاره ؟

د افغانستان نیمایي نفوس (نجونې او مېرمنې) په افغانستان کې زنداني دي، له ښوونځې، پوهنځې، کار او انساني حقونو بېبرخې او لرې ساتل شوې، خو د انګلستان های کمیشنره «جېن ماریوټ» له پاکیستاني ملافضل‌الرحمان سره په اسلام آباد کې په دې اړه خبرې کوي، چې له دې نجونو او ښځو سره بالاخره باید څه وشي؟

یوه بله «رینا امیري» په امریکایي امکاناتو ګرځې راګرځي، چې نه پوهېږم د افغان ښځمنو له حقونو څخه کوم ځای او له چا څخه دفاع کوي؟ یو الله ج پرې خبر دی. له بلې مېرمنې «روزا اوتونبایوا» سره ایله دې پایلې ته رسېدلې، چې : خیر افغان نجونې که ښوونځې ته نه پرېښول کیږي، نو مدرسې دې ووایي. ( که ډوډۍ نشته، کولچې دې وخوري!).

«دا د پټی سر دی، پټی بېرته سورور دی!»
ما یې یوازې دا څو بېلګې یادې کړی، کیسه تر دې پراخه ده .
په بله وینا :
«د دې ډول غر به سبا واوړئ!»
تاسو ډاډمن اوسئ، چې بهرنیان په دې اړه ستاسو پوښتنو ته ځواب نه وایي، مګر دا چې موږ یې پخپله ځواب ومومو .
زموږ اصلي ستونزه دا ده، چې په دې اړه هیڅکله پوښتنې نه کوو، که په زړونو کې مو هم پوښتنې راګرځي، په خوله یې ویلای نه شو. له تکفیر څخه ډاریږو. که په دې اړه مو څه وویل، یا وپوښتل نو اسلام په خطر کې لویږي .
هیڅ افغان له چا ونه پوښتل، چې د نړۍ دا دومره پېچلې لوبې ولې دلته راوستل کیږی؟
څه راپېښه ده؟
که دا کار د اسلام ګټلو لپاره روان وي، نو خدای دې راولي، هرکله! خو زموږ په کې ګټه څه ده؟
موږ، چې د ټول عالم اسلام لپاره دومره وینې بهوو، د سعودی په سرو زرو او تیلوکی مو کوم ځاڅکی حق شته؟
دوبۍ ته مو څوک بې پاسپورته پرېږدی؟
پاکیستان و ایران مو په اسلامی وروولی کډوالو ته پناه ورکوی؟
د قطر و کویټ د شیخانو له زرینو ټېټو څخه کومه ټوټه زر رارسیږی، که نه؟
هو !
یوځه، چې له ټولی دونیا راروان دی، وسلی او مرمۍ دی .
افغانان وږی، نهر، بې درملو، بی ډاکتره، بې ښوونځی او وزګار دی، خو یو د بل وژلو لپاره وسلی، مرمۍ او توپونه و بمونه ښه وریا او پریمانه دی، دومره پریمانه، چې په یوکراین، سره سمندرګی، ایران، پاکیسان، هیند او د دونیا په بله هره سیمه کی چې ترهګری یا ناترهګری حمله و پېښه وشی، رسنۍ وایی: وسله یې له افغانستان څخه قاچاق شوی ده .
پنځوس کاله کیږی، چې موږ د دین په نامه د دونیا ټولی سری لمبی خپل کور ته راوړی او خپل خلک مو پری سیزلی، خو په دی اړه یې له هر راز پوښتنې ویرولی یو. وایي: پوښتې کفر دي. او پوښتونکي کافران دي .

بېشکه، چې په دې کې دین ملامت نه دی، په دین کې ستونزه نشته، خو د دین په سوداګرو او تجارانو کې ستونزه ده، هغوی چې د خدای د حاکمیت په نامه خپل حاکمیت غواړی او د واک، ځواک، پیسو او ځلورو ښځو وږی، بلکې لیونی دی .
ستونزه په موږ ځلویښت میلیونه وګړیو کې ده، چې هرڅوک هرڅه راباندې کوی، له تکفیره ډاریرو، نه احتجاج کوو، نه اعتراض او نه حتی پوښتنه، ځکه دا ټول راته کفر ښکاری .
اوس به بیا پوښتنه کوئ، چې حل‌لاره څه ده؟
پوښتنې وکړئ!
پوښتنې راپورته کړئ !
په دې هرڅه خبرې وکړئ، وغږیږي !
که غربېدلای نه شئ، نو
وبنګیږئ !
ځلویښت میلیونه یاست، که ځلویښت میلیونه مچان هم وبنګیږی، ځان له تکفیره خلاصولای شی، له تکفیر څخه مه ډاریږی، د ژوندی پاتېدا لپاره وبنګیږی، پوښتنی وکړئ، چې : ولې د ټولې دونیا اور زموږ پر سر بل دی؟

## Support Dawat Media Center

**If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you**

## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړي شئ!

**زموږ د ملاتړ همدا اوس وخت دی. هره مرسته، که څه هم کوچنۍ وي یا لویه؛ زموږ مطبوعاتي چارې پیاوړی او راتلونکی مو ژغوري. له دعوت رسنیز مرکز سره لږ تر لږه ۱۰ امریکایي ډالر یا یورو مرسته وکړئ - دا یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. که تاسو کولی شئ، د مهربانۍ له مخې مو زموږ سره هره میاشت په منظم ډول ټاکلې اندازه مرسته وکړئ .له تاسو مخکې له مخکې مننه!**

## به مرکز رسانه ای دعوت کمک کنید!

**زمان حمایت ما همین اکنون است .هر کمکی، چه بزرگ و یا کوچک، مطبوعات ما را تقویت و از آینده ما محافظت می کند از مرکز رسانه ای دعوت با کمتر از ۱۰ دالر/یورو حمایت کنید - فقط یک دقیقه طول می کشد. اگر می توانید، لطفاً با کمک مالی منظم ماهانه به ما کمک کنید . تشکر .**

# طالبان؛ تېر دوه کاله او راتلونکی



**لیکوال شاه محمود میاخېل**

په افغانستان کې له شل کلنې جګړې څخه وروسته؛ د ۲۰۲۱ز کال د اګست په پنځلسمه نېټه د طالبانو ډله یو ځل بیا په افغانستان کې حاکمه شوه. په دغه ورځ د افغانستان د جمهوري نظام سیاسي، اقتصادي او پوځي بنسټونه ونړېدل او د افغانستان په تاریخ کې یوه بله توره ورځ ثبت شوه. د میلونونو افغانانو امیدونه ورژېدل او افغانستان یو ځل بیا لسګونه کاله شاته تګ وکړ. دا لومړی ځل نه دی چې افغانستان د داسې تاریخي چلنجونو سره مخامخ کیږي. د افغانستان په تاریخ کې دا پېښې څو - څو ځلې تکرار شوي او افغانستان چې هر ځل یو څو قدمه پرمختګ کړې بیا د نړیوالو او سیمه ییزو مداخلو او د افغانانو د خپل منځي اختلافونو له امله لسګونو قدمونه شاته تللې دی. د افغانستان په معاصر تاریخ کې؛ د غازي امان خان د دورې پرمختګ او ریفورمونه، همدا شان د سردار داود خان او پرله پسې حکومتونو او نظامونو ړنګېدل یې ښې بېلګې دي.

طالبان او طالب پلوه کسان دا ورځ د امریکا او د ناټو د شکست د ورځ په نوم یادوي او وایي چې دوی دنیا ته شکست ورکړی دی. حقیقت داسې نه دی؛ بلکې د طالبانو تر شا د سیمې استخباراتي حلقې وې او د دوی حمایت یې کاوه. دوی ته ځای او ترېنګونه ورکول او د دوی په استازیتوب یې د امریکا او نورو هېوادونو سره خبرې کولې او د دوی لپاره یې ستراتیژیک کمپینونه کول. د دوحې کرغیړنه هوکړه لیک بل ثبوت دی چې د طالبانو د راتګ لپاره یې زمینه مساعده کړه.

که امریکا لاړه خو د امریکا نفوذ لا ختم نه دی او په عوض د پاکستان او ایران نفوذ په افغانستان کې زیات شوی دی. د طالبانو د خارجه وزارت مرستیال عباس ستانکزی وایي چې اوس هم د افغانستان په فضا د نورو هېوادونو (امریکا او پاکستان) بې پیلوټه الوتکې ګرځي، یعنې د افغانستان فضا اوس هم اشغال ده. د کابل په زړه کې د القاعده مشر ایمن الظواهري د ډرون په حمله کې ووژل شو او د پکتیکا، کونړ او زابل په ولایتونو کې د پاکستان او امریکې د الوتکو او ډرونونو حملې د خلکو له نظره پټې نه دي.

د طالبانو استخباراتي اداره؛ د امریکا او پاکستان د استخباراتي ادارو سره یو ځای کار کوي او طالبان د دغه همکارۍ په بدل کې هره اونۍ د بشري مرستو په نوم څلوېښت میلونه ډالره او هم د با اعتباره منابعو په قول د بشري مرستو په اندازه پټ میلونونو ډالره تر لاسه کوي. د جمهوریت په وخت کې د امریکا او ناټو موجودیت د ملګرو ملتونو د پرېکړې په اساس و او کړنې یې معلومې وې. افغانستان د ملګرو ملتونو فعال غړی و، په نړۍ کې د افغانستان سفارتونه فعال وو، خو طالبانو جمهوریت ته اشغال وایه او په دې پلمه یې د افغانستان د نظام او د خپل هېواد د ورانولو پردۍ پروژې تطبیقولې او اوس هم د نورو پروژې تطبیقوي. په حقیقت کې اشغال ختم نه دی خو د اشغال رنګ په تور او سپین اشغال بدل شوی دی.

سره له دې چې طالبان د ګاونډیانو؛ امریکا او د نړۍ د نورو هېوادونو په حمایت قدرت تر لاسه کړ، خو طالبان د یوه هېواد لخوا هم په تېرو دوو کلونو کې په رسمیت و نه پېژندل شول. افغانستان د نړۍ په سطحه د انزوا په حالت کې دی او د ملګرو ملتونو په اداره کې لا د افغانستان چوکۍ طالبانو ته نه ده سپارل شوې. بهر کې د افغانستان سفارتونه طالبانو ته نه

دي سپارل شوي او اکثره سفارتونه د جمهوریت پلوه ډیپلوماتانو په لاس کې دي. په ځینو هېوادونو کې چې د طالبانو استازو ته په سفارتونو کې ځای ورکړل شوی، هغوی د ډیپلوماتیک مصونیت نه برخوردراه نه دي؛ ځکه هغه هېوادونو د طالبانو حاکمه ډله د افغانستان د مشروع حکومت په حیث په رسمیت نه ده پېژندلې.

د طالبانو دویم ځل د راتګ لپاره د افغانستان ګاونډیو هېوادونو لکه پاکستان او ایران د سیمې نورو هېوادونو لکه روسیې، چین، قطر او همداشان امریکا او د ناټو ځینو هېوادونو د مادي او پوځي حمایت نه سربېره دومره تبلیغاتي کمپین کړی و، چې له طالبانو یې سپین بازان جوړ کړي وو. هر یو به دا ویل چې طالبان اصلاح شوي دي او دا ځل به د تېر په څېر کړنې چې د نجونو ښوونځي بند کړي، بشري حقونه د پښو لاندې کړي او د افغانستان د پرمختګ او ابادۍ مخه ونیسي؛ نه کوي. موجوده جمهوري نظام کې به لږ اصلاحات رامنځته کېږي او طالبان به په اهلې توګه د نظام برخه کیږي.

د طالبانو د خبرو مرکچي پلاوي غړو هم په قطر کې په کراتو- کراتو مرکې وکړې او ویې ویل چې دوی د ښځو د تعلیم او د افغانستان د بنسټونو د نړولو په خلاف نه دي. دا ډول تبلیغاتو افغاني سیاسیونو او د حکومت ځینو لوړ پوړو چارواکو او همداشان په قطر کې د افغانستان مذاکراتي ټیم ته کاذبه خوش بیني ورکړه، چې طالبان اصلاح شوي او د سولې خبرې نتیجه ورکوي. هر چا کوښښ کاوه چې مخکې له مخکې له طالبانو سره اړیکې جوړې کړي؛ تر څو د موقت حکومت په حلقه او یا راتلونکي حکومت کې خپل موقف، ځای او ګټې خوندي وساتي. دوی مسکو، اسلام اباد، دوحې، دوبۍ، تهران، بېجینګ او نور هېوادونو کې له طالبانو سره پټې او ښکاره کتنې او لیدنې درلودې. دوی به یو بل ته د شریکې همکارۍ اطمینان ورکاوه او ټولو سیاسیونو، ځینې عالي رتبه دولتي کسانو او طالبانو ټولو کوښښ کاوه، چې جمهور رییس محمد اشرف غني له مخه لېرې او زمینه د طالبانو په ګټه د یو نوي حکومت جوړېدو ته برابره کړي. امریکا او په خاصه توګه د امریکا خاص استازي، زلمي خلیلزاد دا غوره وګڼله چې د جمهوریت په عوض د طالبانو سره شرمناکه تفاهمنامه په دوحه کې امضاء کړه او په جمهور رییس محمد اشرف غني باندې سیاسي، اقتصادي او نظامي فشارونه زیات شول. دوی غوښتل چې جمهور رییس محمد اشرف غني استعفاء ته اړ شي او د طالبانو په خوښه حکومت یو چاته وسپاري.

دا چې د جمهوریت سقوط داخلي، سیمه ییزه او نړیوال ډېر پیچلې ابعاد درلودل، په دې هکله به ډېرې لیکنې او تحلیلونه په راتلونکې کې وشي او تاریخ ټولې پېښې ثبت کړي دي، چې چا څه کړي او څنګه ټولو د خپلو پټو معاملو ښکار شول؟

د جمهوریت سقوط د سمه ییزو هېوادونو لپاره او همدا شان د امریکا، چین، روسیې، قطر، د افغانستان سیاسیونو، جمهور رییس محمد اشرف غني او د افغانستان د ولس لپاره یو لوی سیاسي شکست و. په ۲۰۱٦م کال کې ما په خپله یوه مقاله کې چې د پژواک خبري اژانس لخوا نشر شوې وه، د افغانستان سیاسیونو ته لیکلي وو، چې دا به ښه وي چې ټول د جمهوریت د تقویه لپاره کار وکړي او که جمهوریت سقوط کوي، د جمهوریت بدیل د افغانستان سیاسیون نه بلکې طالبان دي. دوی باید فکر وکړي چې ایا له طالبانو سره کار او ژوند کولی شي او که نه؟

د جمهوریت سقوط د طالبانو لپاره هم یو لوی سیاسي شکست و؛ ځکه طالبانو په غېر مشروع ډول قدرت ونیوه او د دوه کلونو په تېرېدو سره لا تر اوسه نه پوهیږي چې څنګه ملي او نړیوال مشروعیت تر لاسه کړي. په لاندې څو برخو کې د طالبانو د دوه کلنې حکومتولۍ ارزونه په مختصره توګه اړینه بولم.

**د مشروعیت لاسته راوړل:**

د ۲۰۲۱ز کال د اکتوبر په میاشت کې ما په خپله یوه مقاله کې چې د متحده ایالاتو د سولې د انستیتوت له خوا نشر شوې وه، لیکلي وو، چې د طالبانو لپاره له جنګ څخه حکومتولي زیاته ستونزمنه ده او طالبان نه شي کولی چې په

اسانه ولسي او نړیوال مشروعیت تر لاسه کړي. دا چې یوه حاکمه ډله ولسي او نړیوال مشروعیت ونه لري نه شي کولای چې په هېواد کې حکومتولي ښه کړي او هم د افغانستان امنیتي، اقتصادي او بشري ستونزو لپاره  مناسبې د حل لارې چارې پیدا کړي. هغه مقاله په دې لینک کې لوستلې شئ[1]. د یو نظام او یا حکومت اساس ولسي او نړیوال مشروعیت تعینوي. کوم نظامونه چې ولسي او نړیوال مشروعیت ونه لري، نه شي کولای چې د خپلو خلکو لپاره فزیکي، بشري او رواني امنیت تامین کړي. په دې توګه د طالبانو تر ټولو لویه ناکامي همدا وه، چې دوی ونه شو کړي چې په تېرو دوو کلونو کې ولسي او نړیوال مشروعیت تر لاسه کړي.

اوس حتا د طالبانو زیات بهرني او داخلي پلویان د طالبانو په کړنو نیوکې کوي. هغه لیوالتیا او خوشبیني چې طالبانو ته پخوا د سیمې هېوادونو او نړیوالو درلودله، اوس یې نه لري. هر هېواد یوازې د خپلو ګټو په خاطر د طالبانو سره تعامل او یا استخباراتي اړیکې ساتي. نړۍ او نور سیمه ییز قوتونه هم د طالبانو له اقتدار څخه تشویش لري. چین او روسیه ویره لري چې امریکا طالبان د دوی په ضد استعمال نه کړي. همداشان امریکا هم ویره لري چې چین او روسیه او همدا شان ایران طالبان په خپل لاس کې ونه نیسي. د افغانستان ګاونډیان او هم د نړۍ نورو هېوادونه ویره لري هغه افراطي ډلې چې د دوی د هېوادونو پر ضد افغانستان کې دي، قوي نه شي او له طالبانو نه غواړي چې هغه ډلې وټکوي او د هغوی فعالیتونه مهار کړي. په دې توګه؛ ګاونډیان او نړۍ نه غواړي چې طالبان د خپلو افراطي کړنو په دوام سره تقویه شي او هم یې نه غواړي چې طالبان له منځه یوسي ځکه د طالبانو په عوض ښه بدیل لا نشته. د طالبانو په سقوط کې د ګاونډي هیوادونو خیر نشته او نه غواړي چې  د طالبانو د سقوط نه روسته نورو ستونزو سره مخامخ شي خو په عینې حال کې د افغانستان ګاونډیان هم نه غواړي چې یو مقتدر او قوي

حکومت په افغانستان کې حاکم وي. د طالبانو لپاره به هم دا ډېره ګرانه وي چې د سیمې او نړۍ د ټولو هېوادونو غوښتنې عملي کړي او هم د افراطي ډلو په وړاندې جدي اقدام وکړي. دغه نیم بسمل حالت د افغانانو په خیر نه دی او که دا حالت همداسې دوام کوي، افغانستان به سیمې او نړۍ ته لوی تهدید وي. افغانستان به یو ځل بیا د نیابتي جګړو ډګر وي او د نړۍ ټولې افراطي ډلې همدا حالت غواړي چې افغانستان کې مشروع او قانونمند حکومت نه وي؛ ځکه په هغه صورت کې به د دوی لپاره پرته له افغانستان څخه بل د اوسېدو او فعالیت ښه ځای په سیمه کې نه شته دی.

**حکوموتولي:**

لکه چې مخکې مې یادونه وکړه، د طالبانو حاکمې ډلې لپاره جنګ اسانه او حکومتولي مشکله ده؛ ځکه حکومتولۍ کې حکومت او دولتي چارواکي باید ولس او د نړیوالو قوانینو په رڼا کې دنیا ته مسوول وي. په ښه حکومتولۍ کې کار اهل کار ته باید وسپارل شي، چې طالبانو تر اوسه دا کار نه دی کړی؛ بلکې له پیاده نیولې تر سره پورې ټول ملا او حتا ډېری بېسواده  په دندوګمارل شوي دي. صرف د ملا نوم او ټاپه پرې لګېدلې ده. د دوی د لوړو زده کړو وزیر وایي؛ چا چې ډېر بمونه پټاو (چولې او ایښودلې وي) کړي وي، هغوی ته باید لوړې رتبې او چوکې ورکړل شي. د طالبانو تر منځ تقرر په انډیوالۍ او خپلوی دی.

د نجونو په وړاندې د ثانوي او عالي زده کړو دروازې تړل شوي دي. په زرهاو او لکونو کادرونه له هېواده ووتل او هره ورځ په زرګونو نور هم وځي. د یو عادي پاسپورت اخستلو لپاره رشوت  تر دوه - درې زره ډالرو پورې رسېدلې دی. د تعلیمي ادارو کیفیت او کمیت بیخي راټیت شوی او په عوض یې مدرسې په ولایتونو او ولسوالیو کې د جوړېدو په حال کې دي؛ تر څو د افراطي ځوانانو یو بل نسل وروزي. د ولس نه د ټکس په نوم څو قسمه باج اخستل کیږي خو مقابل کې خدمات هیڅ نه شته.

په ښه حکومتولي کې د حکومت مشران باید له ولس سره په رابطه کې وي او ولس ته وخت په وخت ښه معلومات

[1] https://www.usip.org/sites/default/files/Afghan-Issues-Paper_For-Taliban-Governing-Will-Be-Hard-Part.pdf

ورکړي. د دوی مشر ملا هیبت الله د خلکو او هم د خپلې کابینې او حکومت د زیاتو غړو نه پټ اوسیږي. همدا علت دی چې د هغه په شتون او نشتون تبصرې کیږي. په کابل کې د کابینې او موقتي اداري مشر، ملا حسن اخوند هم درک نه شته. یوازې دوه درې ځلې خلکو په خبرو لیدلی چې هغه هم ډېرې مایوسه کوونکې خبرې وې. خلکو ته یې په خپلو خبرو کې وویل، چې مونږ د خلکو سره د خدمت او کار وعده نه ده کړې او که هر څه غواړئ نو خدای تعالی ته بغاري ووهئ. هرطالب هم قاضي، هم څارنوال او هم د فیصلو تطبیق کوونکې دی؛ ځکه اساسي قانون او نور فرعي قوانین نه شته او هر طالب قانون او اسلام په خپله خوښه تفسیر او تعبیروي.

د طالبانو دویمه دوره د لومړۍ دورې په پرتله یوه بله بدترې هم لري؛ ځکه په لومړۍ دوره کې د ملا محمد عمر امر شکته طالبانو ډیر ښه مانه. په دې دوره کې د ملاهیبت الله امر شکته طالبان په ښه توګه نه مني او حتا د دوی لوړ پوړي چارواکي د ملا هیبت الله د کړنو په ضد بیانونه ورکوي. ملا هیبت الله او د هغه نږدې ګروپ وایي، چې علم مباح دی خو بیا کابل کې د طالبانو لوړ پوړي چارواکي وایي؛ چې علم فرض دی. په کابل کې د طالبانو زیات مشران د نجونو د ښوونځیو په بندېدلو خفه دي او نړیوالو ته ډاډ ورکوي؛ حال دا چې په کندهار کې ملا هیبت الله او د هغه ملګري د نجونو د ښوونځو په بندېدو خوشحاله دي. په دې توګه د حکومتولۍ په برخه کې، طالبان په خپلو منځو کې له دنیا سره او هم د افغانستان د ولس سره په مخالف جهت روان دي او اختلاف د نظریاتو نهایت زیات دی.

**بشري امنیت:**

د طالبانو د دوه کلن حاکمیت نه روسته ګورو، چې د افغانستان اقتصادي انجن په ټپه ولاړ دی. بانکي سیستم فلج دی. د حساب تړلوني او حساب ورکولو محاسبه نه شته. د افغانانو اقتصادي وضعیت د تشویش وړ دی. فقر او لوږه ورځ تر بلې زیاتیږي. هره ورځ په زرګونو افغانان کوښښ کوي، چې له هېواده د ویرې او بیکارۍ له وجهې ووځي. د ملګرو ملتونو د مهاجرینو د عالي کمشنرۍ د اخرې ارقامو په بنیاد، ۱.٦ میلونه افغانان د ۲۰۲۱ز کال د اګست د پنځلسمې نېټې وروسته ایران او پاکستان ته مهاجر شوي دي، چې دې سره د افغانانو شمېر یوازې په ایران او پاکستان کې تر ۸.۲ میلیونو کسانو پورې رسیږي.[2]

طالبان که څه هم دا ځل په ډک کور ننوتي او ډېر امکانات د جمهوري نظام ورته پاتې وو؛ خو د هغوی پالنه او ساتنه اسانه نه ده او تقریبا زیاته برخه یې لوټ شوې. روغتونو کې لازم درمل او ډاکتران نه شته او د ماشومانو د مرګ کچه بیا په زیاتېدو ده. د ملګرو ملتونو او هم د نړیوال بانک اداري په وار - وار یادونه کړې ده، چې افغانستان د شدیدو بشري مرستو له بحران سره مخامخ دی او د نړیوالو د مرستو کچه تقریبا دوه میلیارده ډالره یوازې په ۲۰۲۳ز کال کې کمه شوې ده. د دې توقع شته چې دا مرستې به نورې هم کمیږي؛ ځکه د دنیا په ډېرو نورو هېوادونو کې نړیوالو مرستو ته اړتیا ده.

د افغانستان ۲۸.۳ میلیونه نفوس چې د هېواد د نفوس دوه پر دریمه برخه تشکیلوي، عاجلو مرسته ته اړتیا لري[3]. د پورته ارقامو او هم د داخل افغانستان څخه د خلکو سره د تماسونو په نتیجه کې دا جوته کیږي، چې د افغانستان بشري بحران ورځ تر بلې زیاتیږي او طالبان په دغه ډول حکومتولۍ نه شي کولای چې د خلکو غوښتنو ته ځواب ووایي.

**رواني امنیت:**

د رواني امنیت په ساحه کې د ملګرو ملتونو اداره وایي، چې د افغانستان د نیمایي نفوس، یعنې ښځو لپاره افغانستان د دنیا له ټولو نه بد ترین هېواد دی[4]. د یو هېواد نیمایي نفوس چې د تعلیم او کار حق ونه لري او مصؤنه نه وي،

2 https://www.unrefugees.org/news/afghanistan-refugee-crisis-explained/

3 https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-humanitarian-needs-overview-2023-january-2023

4 https://press.un.org/en/2023/sc15222.doc.htm

نو مونږ هېڅکله نه شو ویلی چې په افغانستان کې رواني امنیت تامین دی.

کله چې مونږ د امنیت بحث کوو؛ د یو هېواد ټولو اتباعو لپاره باید د کار، تعلیم، د بیان او سیاست ازادي موجوده وي. متاسفانه د افغانستان نیمايي نفوس له دغې ازادۍ په مستقیمه توګه محروم دي او همدا شان په غېر مستقیمه توګه د هېواد نور وګړي د دغه ټولو ازادیو نه محروم شوي دي. نو ویلی شو چې افغانستان د ټولو افغانانو لپاره مصؤنه هېواد نه دی.

**فزیکي امنیت:**

د فزیکي امنیت په برخه کې ګورو، چې انتحار، انفجار، هدفي او صحرایي وژنې او جنایي پېښې اوس هم په افغانستان کې رواني دي. د طالبانو په صفونو کې اخلاقي فساد اوج ته رسیدلی او د نورو په کورونو او ناموسونو د تجاوز قضیې او ویډیګانې هره ورځ په ټولنیزو رسنیو کې لاس په لاس کیږي. د نورو لپاره د چپلکو په غلا چې هغه به هم له مجبوریته وي، سخته سزا ورکول کیږي خو طالب چاراواکو ته بیا هر ډول جرم او تېرې معاف دی.

د سعید خوستي، د عبدالله حقاني د ورور او د حقبین قضیو باندي ډېرې تبصرې په ټولنیزو رسنیو کې شوې او همداسې نورې په لسګونو پېښو په هکله راپورنه نشر شوي، چې طالب چاراواکي په زوره د خلکو په کورونو ورغلي، جنسي تیري یې کړي او په زوره حتا د کم سنه ماشومو نجونو سره ودونه کړي دي. د فیسبوک پر یوه پوست ډېرې کسان تهدید، شکنجه او وژل شوي دي. اختناق حاکم دی او د زیات تفصیل او ارقامو لپاره د طالبانو خپله شمیره ښيي چې په یو نیم کال کې دوی دولس زره او پنځه سوه کسان د جنایي جرمونو په تور بندیان کړي دي[5]. یو شمېر د دغه پېښو ځخه نړیوالو او محلي ادارو ثبت کړي دي چې زیات تفصیل په دې لینک کې لوستلی شئ[6].

افراطي ډلې اوس هم په افغانستان کې شتون لري او د افغانستان ګاونډیان ټول د افغانستان د بې ثباتي سره تشویش لري او دا ویره موجود ده چې امنیتي وضعیت به نور هم په افغانستان کې خرابیږي او افغانستان به سیمې او نړۍ لپاره یو لوی تهدید وي. طالبان نه شي کولای چې د افراطو او جنایي ډلو ځخه خپل صفونه تصفیه کړي؛ ځکه دوی شل کاله د جمهوریت په وړاندې د نامشروع جګړې انډیوالان وو. دوی د یو بل په رګونو ننوتي دي او همدا شان د سیمې او نړۍ استخباراتي حلقې د دوی په صفونو کې کافي نفوذ لري او په ډېره اساني کولای شي چې د طالبانو رژیم له منځه یوسي.

خلاصه د طالبانو له راتګ سره افغانان، عرب او عجم ټول په دې نظر دي، چې د افغانستان اوسنی وضعیت د اندېښنې وړ دی او تر اوسه د بحران نه د وتلو معقوله لار هم نه ده مطرح شوې؛ ځکه طالبان د افغانستان سیاسیونو، د سیمې هېوادونو او نړۍ د افغانستان د وضعیت د مدیریت لپاره سره توافق نه لري.

**افغانستان پر کومه خوا روان دی؟**

طالبان وایي چې دوی په زور قدرت نیولې دی. دوی د نفې او قدرت د انحصار سیاست مخې ته وړي او د ښې حکومتولۍ په اساساتو او ولسواکۍ عقیده نه لري. هېڅچا ته په حکومت او نظام کې برخه نه ورکوي او ټول باید د دوی د حکم لاندې بې له استدلاله؛ لکه په زندان کې شپې او ورځې تېرې کړي. دوی په فردي ازادۍ باور نه لري او د اسلام په چوکاټ کې هم دوی ولس ته ځان ځوابده او مسووله نه ګڼي؛ بلکې ولس او افغانستان خپل مال او غنیمت ګڼي. دوی د نړیوالو سره د تعامل لېواله دي خو د خپلو افغانانو سره د هېڅ ډول جوړ جاړي پلویان نه دي.

5 https://www.bbc.com/pashto/articles/c0d89em99gwo

6 https://www.amnesty.org/en/location/asia-and-the-pacific/south-asia/afghanistan/report-afghanistan/ د زیاتو ارقامو او معلوماتو لپاره د نړیوالې د عفوې اداري دا راپور لوستلي شئ.

د افغانستان پخوانیو سیاسیونو هم له تاریخه څه نه دي زده کړي. په تېرو دوه کلونو کې دوی ونه شو کړی، چې په یو ملي اجنډا باندې توافق وکړي؛ تر څو ولسي او نړیوال حمایت او اعتبار تر لاسه کړي. د طالبانو په ضد جنګي مقاومت هم قابل د احساس او حساب نه دی. د افغانستان پخواني سیاسیون هم طالبانو څخه زیات د هویت د اعتبار د نه شتون سره مخامخ دي؛ ځکه په دوی ولس، سیمه ییزه او نړیوال هیوادونه بې باوره دي او اکثره یې د ډېرو هیوادونو په تور لست کې ځای لري.

په پراګنده ډول بېلابېل سیاسي خوځښتونه موجود دي خو تر اوسه یې لازم ولسي او نړیوال اعتبار خپل کړی نه دی. ټولنیزو رسنیو د افغانانو د انسجام لپاره فضاء ډېره خړه پړه کړې ده او افغانانو تر منځ مذهبي، قومي، ژبني او سمتي اختلافات د پخوا پر تله نور هم زیات شوي دي.

د افغانستان ګاونډیان او هم نړیوال په افغانستان کې متفاوت اهداف لري او دوی هم نه شي کولای چې په یوه خاصه تګلاره توافق وکړي. په قطر کې د افغانستان په هکله د روان کال د مې د میاشتې په غونډه کې چې د ملګرو ملتونو په مشرۍ د سیمې او نړۍ د نورو هیوادونو استازي وربلل شوي وو، وښودله چې د دوی تر منځ واحد دریځ نه شته؛ خو دا چې د طالبانو پر وړاندې با اعتباره بدیل نه شته نو له طالبانو سره د نیمچه تعامل پرېکړه وکړه او د طالبانو په رسمیت پېژندل یې د یو شمېر غوښتنو پورې وتړل چې هغه غوښتنو ته طالبان تر اوسه چمتو نه دي.

د افغانستان راتلونکی بدې خواته روان دی او که حالات همداسې دوام وکړي، افغانستان به د افغانانو لپاره او هم د سیمې د نورو هیوادونو لپاره لویه ستونزه وي. کېدې شي ځینې هیوادونه؛ لکه امریکا په همدغه حالت خوشحاله وي، ځکه خپل ستراتیژیک اهداف د بېلابېلو لارو تر سره کولی شي. دا واضحه ده، چې په امریکا کې د بایډن اداره نه غواړي چې افغانستان ته په سیاسي او نظامي توګه زیاته توجو وکړي؛ ځکه د بایډن اداري ټوله پاملرنه اوکراین او لرې ختیځې سیمې ته ده. د امریکا د یو لوړ پوړي چارواکي په قول چې په یو ګردي میز کې وویل؛ که باالفرض کومه لویه پېښه د امریکا د اهدافو په ضد چېرته وشي، د امریکا ځواب به د سپټمبر یولسمې نېټې په شکل نه وي؛ بلکې د نورو پوځي او چټکو حملو نه به کار واخلي خو افغانستان ته د پوځونو بیا لېږل د دوی په اجنډا کې نه شته دی.

**په داسې حالت کې څه پکار دي؟**

په سیاسي معادلاتو کې اپشنونه یا انتخاب څه چې په اختیار کې لري ډېر زیات مهم دي. کوم اپشن امکان لري چې عملي شي او کوم اپشن امکان نه لري؟ متاسفانه د افغانانو په لاس کې ښه اپشنونه نه شته؛ خو د بد او بدتر تر منځ انتخاب لري. څو لاندې اپشنونو ته اشاره کوم:

1. د دې لپاره چې افغانستان د ګاونډیانو د شر نه یو څه مصؤنه وي، د افغانستان د بحران نړیوال کېدل مهم دي، خو لکه څنګه چې د افغانستان نه د پخواني شوروي اتحاد د قواو د وتلو او د ډاکټر نجیب الله حکومت د سقوط نه وروسته، افغانستان د نړیوالو له پامه غورځېدلی و، یو ځل بیا افغانستان په نړیوال سیاست کې له نظره غورځېدلی دی. په غربي رسنیو کې په ډېره نادره توګه د افغانستان په بحران بحث کېږي. کېدې شي ډېری افغانان اوس هم په دې عقیده وي چې افغانستان د نړۍ د سیاست د ثقل مرکز دی او فکر کوي چې نړیوال به د دوی بحران حل کړي، خو داسې نه ده. لکه څنګه چې اکثریت افغانانو له افغانستان څخه د امریکا او ناټو د قواو وتل نه منل، دا هم نه مني چې افغانستان په نړیوال سیاست کې چندان مطرح نه دی. که د ځینو هیوادونو لپاره لکه د امریکا متحده ایالات، افغانستان مهم هم وي، هغوی کولی شي چې خپل مشخص اهداف له بېلا بېلو لارو تر لاسه کړي او زیاتې پانګونې ته اړتیا نه لري. د دنیا په امید کیناستل هم ښه اپشن نه دی چې د افغانستان بحران لپاره په نېږدې کلونو کې د حل لاره پیدا کړي.

2. که څه هم د افغانستان بحران اوس د سیمې بحران دی، خو زما په اند، د سیمې هیوادونه د دې ظرفیت نه لري چې لومړی په خپلو منځو کې د افغانستان د مسلې په هکله اجماع رامنځته کړي او بیا د هغه اجماع حمایت په سیاسي او مادي لحاظ وکړي. د سیمې په طمعه کیناستل چې د افغانستان بحران به حل کړي، هم په اوس وخت کې ناممکن ښکاري.

3. طالبان هم نه شي کولې، چې لس هندوانې په یوه لاس کې ونیسي چې هم د ګاونډیانو، هم د نړیوالو او هم د افغانانو ګټې اوغوښتنې تامین کړي. په دې توګه د طالبانو ادا وړی نه شړی کیږي او ورځ تر بلې به د زیاتو کورني او بهرني فشارونو لاندې راځي او په اخره کې به ورځ ترې خامخا اوبه وړي.

4. د افغانستان سیاسیون او ځینې فعاله خوځښتونه هم په ملي اجندا توافق نه لري. دوی هم په ملي او نړیواله سطحه زیات مطرح نه دي او ډېر څه نه شي کولاې.

5. جنګ هم د افغانستان د بحران د حل لار نه ده او نه د جنګ لپاره سیاسي او پوځي ظروف وجود لري.

6. د خود جوشه ولسي قیام اپشن هم په اوسني وخت کې ژر عملی کېدونکې نه دی؛ ځکه ولسي قیام په تدریجي توګه رامنځته کېږي او زیات وخت ته اړتیا لري؛ تر څو د یوې دیکتاتورې حاکمه ډلې پر وړاندې د راپاڅېدو شرایط برابر شي.

7. پورته اپشنونو ته په کتو، یو بل اپشن چې زیات عملي ښکاري، هغه د بد نه بدتر حالت دی، چې افغانستان امنیتي او اقتصادي وضعیت نور هم خراب شي.

8. اخرې اپشن د بین الافغاني ډیالوګ لپاره زمینه برابرول دي.

که پورته اپشنونو ته وګورو، طالبان او هم د طالبانو مخالف سیاسي او جنګي ډلې او فعاله سیاسي خوځوښتونه او په کل کې افغانان ډېر څه په لاس کې نه لري. که څه هم د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان حکومتونو، سیاسیونو او ولس همېشه فرصتونه په بحران بدل کړي دي؛ خو که طالبان او ټول افغانان د پورته واقعیتونو په رڼا کې له بصیرت نه کار واخلي، کولی شي چې موجوده بحران په فرصت بدل کړي او اخري اپشن ته چې بین الافغاني ډیالوګ دی، زمینه برابره کړي.

کلیوالي خبره ده، چې نور دې د مرې غم نه کوي نو ته د خپل مړي غم باید پخپله وکړې. طالبان باید پوه شي چې دوی په دې شکل دوام نه شي کولای. که د تېرو نیمګړتیاو مسوولیت د جمهوریت د چارواکو په غاړه و، د اوسني او راتلونکي بد حالت مسوولیت د دوی په غاړه دی. که نیابتي جنګونه رامنځته کیږي، که افغانستان د فقر او انزوا سره مخامخ دی او یا ګاونډیان او نړی په بېلا بېلو شکلونو په افغانستان کې مداخله کوي، د دې ټولو مسوولیت د طالبانو پر غاړه دی. دوی باید د افغانستان او نړۍ واقعیتونه په نظر کې ونیسي او له تاریخ څخه زده کړه وکړي؛ چې د نفي او د قدرت انحصار سیاست کار نه ورکوي. د دې په عوض چې اسلام اباد او دوحې ته د بهرنیانو سره د مجالسو لپاره منډې او ترړې وهي، ښه به دا وي چې ولسي مشروعیت لپاره تګلاره واضحه او خپل ولس ته په سپکه سترګه ونه ګوري. هغه حکومتونه چې د خپل ولس په منځ کې ځای ونه لري هېڅکله دوام نه شي کولاې، نو پس ویلی شو چې لومړني مسوولیت د طالبانو دی، چې د ملي ارزښتونو په رڼا کې د حکومتولی په اساساتو باندې ولاړ شي. دې کې به هم د افغانستان د ولس او هم د دوی خیر وي. دا خبره طالبانو ته او هم د ځینو افراطي نظریاتو خاوندانو ته شاید ډېره بابیزه ښکاره شي؛ خو دا مهمه ده. د اساسي قانون درلودل، د بیان ازادي، د ښځو او نرانو لپاره د تعلیم او کار حق او ولسواکي د اسلام سره په ټکر کې نه ده او هسې دې افغانان او اسلام په دنیا کې نور نه سپکوي. پښتو کې متل دی وایي؛ هغه غوټه چې په لاس خلاصیږي، حاجت نشته چې په خوله یې خوک خلاصه کړي. دا د طالبانو لپاره مهمه ده چې یو معنا داره بین الافغاني ډیالوګ لپاره زمینه مساعده کړي.

د دې لپاره چې د افغانستان بحران لپاره یوه معقوله لار پیدا شي، د افغانستان ټول سیاسیون او نور فعاله خوځښتونه هم باید د خیالي او پروژوي پروګرامونو او ارماني فکرونو څخه تېر شي او د ملي ارزښتونو په رڼاکې په یوې ملي

اجنډا باندې توافق وکړي؛ تر څو وکړی شي ملي او نړیوال اعتبار تر لاسه کړي. جنګ د مسایلو د حل لار نه ده او بالاخره باید د طالبانو په شمول یو معنا داره بین الافغاني ډیالوګ لپاره لاره هواره شي. د همه شموله حکومت په عوض باید یوې همه شمولې پروسې لپاره ټول کار وکړي. که ټولې خواوې شخصي، قومي، سمتي، ژبني او مذهبي اجنداوې شاته پرېږدي؛ نو د دې امکان شته چې له طالبانو سره د یو معنا داره بین الافغاني ډیالوګ لپاره زمنیه مساعده شي. طالبان او هم نور افغانان باید د ماضي نه یو څه زده کړي، نه دا چې ټول په ماضی کې ژوند وکړي او یا ماضي حالت د دې باعث شي چې د اوس او راتلونکي حالت د ښه کېدو مخه پرې ونیول شي.

لنډه دا چې؛ د دې لپاره چې موجوده بحران نه د فرصت ګټه واخستل شي، دا مهمه ده چې طالبان او افغانان پخپله د معنا داره بین الافغاني ډیالوګ لپاره زمنیه مساعده کړي ځکه په موجوده شرایطو کې د نړۍ هېوادونه دې ته حاضر نه دي، چې د افغانستان په بحران او مسایلو باندې زیاته پانګونه وکړي. که طالبان او نور سیاسیون او فعاله خوځښتونه سیاسي اراده او نیت د افغانستان د جوړېدو ولري، په ډېره اسانۍ سره د بهرنیانو د حمایت او مداخلې نه پرته د بین الافغاني ډیالوګ لپاره زمینه برابرېدلی شي. که افغانان خپلو ستونزو ته پخپله د حل لاره پېدا نه کړي، بهرنیان او ګاونډیان که ښه نیت او اراده هم ولري، هېڅکله نه شي کولای چې د افغانستان ستونزې حل کړي. دا چې په موجود حالت کې د بهرنیانو او ګاونډیانو په نیتونو باندې هم شک دی؛ نو د هغوی نه دا توقع کول هم سمه نه ده. الله تعالی هم د هغه قوم حالت ته تغیر نه ورکوي چې خپل حالت پخپله تغیر نه کړي. دا اوس د افغانانو پورې اړه لري چې کومه لار انتخابوي. غواړي چې د بد څخه بدتر حالت ته لاړ شي او که له بدتر څخه د ښه حالت پر وړاندې ګام پورته کړي.



از مشارکت سیاسی صحبت شد. باید به صراحت اعلام کنم که حال و احوال امروز افغانستان برای سازماندهی انتخابات بی غل و غش که زمینه مساویانه رقابت سالم را برای همه اقوام آماده کند میسر نیست. بنابران همه گروهای قومی بیرون از نظام طالبانی باید روی جلب لطف و کرم طالبان حساب باز کنند. در غیر آن اگر اسلحه بردارند و بار دیگر امریکا یا روسیه بکمک شان کمر نبندد، بازنده خواهند بود. طالبان با زور آمده اند و با زور از صحنه بیرون میشوند. این حکم پراگماتیزم سیاسی است که مورد استفاده بیدریغ در کشور های عقب مانده فاقد زمینه های تطبیق دیموکراسی است.

متاسفانه در کشور های رو به انکشاف که ضابطه های دیموکراسی ریشه دار نشده است، این زور است که حرف اول و آخر را میزند. انکار از اکثریت و اقلیت و مساوات اقوام در مقطع فعلی زمانی جز به خیالپردازی شاعرانه که با واقعیت ها جور نمیاید تعبیر دیگری نمیتواند داشته باشد.

در طول بیش از نیم قرن اخیر فقط سه بار قدرت سیاسی آنهم بکمک خارجی به اقلیت های قومی تعلق گرفت. آنها پوتانسیل کافی برای حفظ قدرت نداشتند. افغانستان معروض به آشوب شد. هر بار از زیر امواج این آشوب ها اکثریت قومی با

توانمندی بیشتر از گذشته سربلند کرد و با احیای نظام تقسیم سنتی قدرت امنیت را نمود.

تجربه ثابت کرده است که انتقادات شدید به آدرس طالبان موجب رادیکالیزه شدن موضع شان شده است : انتقادات شدید داخلی و خارجی در مورد تعلیم دختران و کار زنان جذبات انتقام جویی از اشغال افغانستان را در میان طالبان زنده ساخته است. گروه کوچک افراطی طالبان با بستن مکاتب از اشغالگران انتقام میگیرند. این اوج جهالت و بی ملاحظگی است.

در مسافرت سال گذشته به کابل هر آنچه موجب تحکیم پایه های قدرت قانونی طالبان میشد و اداره شانرا با دنیای متمدن پیوند میداد با آنها در میان گذاشتیم. مشوره ها را گوش کردند. پروسه تسوید قانون اساسی راتسریع نمودند. اما بدون اهل مسلک.

با اینهمه قراینی در دست است که در میان تحریک طالبان عناصر اعتدالی که میکوشند از تونل تاریک موجود عبور کرده و افغانستان را با کاروان تمدن قرن ۲۱ همگام بسازند، کم نیستند : تجلیل از روز استقلال و یاد بود از شاه امان الله مظهر اثبات این مدعا است.

خلاصه کلام بدیلی برای طالبان سراغ نمیشود. بناً باید با واقعبینی، حوصله مندی و دوراندیشی با آنها کنار آمد و انتقادات سالم و سازنده را به آدرس شان مانند سیلاب همچنان جاری نگاهداشت .

« پایان »


# د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ

**له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي یا ډېره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړې کوي، زموږ راتلونکی ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروي. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر یا په ډیرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه**

**د دعوت بانکی یته: DNB Bank AC # 0530 2294668**
**له ناروی بهر د نړیوالو تادیاتو حساب:NO15 0530 2294 668**
**د ویپس شمېره: Vipps: #557320**

# Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month.

Thank you
DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

# د ساینس شهید؛ جیوردانو برونو



لیک: غلام سرور ظهیر

زما دوي اناګاني وې؛ يوه مو "لو انا" بلله او بله "کوچنۍ انا". د دواړو اصلي نومونه مې زده دي؛ ځکه يې نه لیکم چې پلار و ترونه مې خپه نه شي. هو؛ الحمدالله! دا وېره نشته چې سبا به مې نیکه له غوسې سور و شین کېږي او "ناموسي مسايلو" ته د بې احترامۍ په خاطر به مې د فېسبوک اکونټ رېپورټ کړي چې يوه میاشت به له لايک، تبصرې، او پوسټ کولو بند يم؛ دوی درې واړه درې لسيزې وړاندې وفات شوي دي او اوس به يې هډونه هم خاورې وي. الله ج دې يې ستاسو له مړو سره وبښي.

دېرش کاله وړاندې نه تلویزون وو او نه موبایل چې د ماشومانو سات ورته تېر شي او مشران له غیبته پرې خلاص وي. د ژمي په دې شپو ورځو کې به مو له "لو انا" سره د حسنه اړیکو جوړولو هڅې راچټکې کړې او سل سلنه به "أَطِيعُوا لو انا" وو چې دا بیا د شپې د سپیل ملوک، ګونګي پیر، ادمخور ملا، او نورو نکلونه را واچوي.

نن مازدیګر لمر لوړ ولاړ وو چې د "لو انا" ټول راسپارل شوي کارونه تر سره شول؛ غواوو ته مو شومه [= خوراکه] غوجلې ته راوړه، څاروي اوبه شول، د جومات څراغ مو له تېلو ډک جومات ته ورساوو. د ماخستن له ډوډۍ روسته پر "لو انا" راتاوو شوو چې نن کوم نکل را اچوي او ژر کوه. البته از قید قلم نماند چې خدای بښلي نیکه ته به دا زموږ مزاحمت او د خپلې منکوحې فراق څومره د غم او زغم وړ وو هغه هم د ژمي په سړو شپو کې؛ خدای ښه پوهېږي!

څه سر به مو خوړوم؛ "لو انا" نکل راپیل کړ:

- هلکانو! پوهېږئ چې پینځه شپږ پېړۍ وړاندې د اروپا د خلګو ژوند و ژواک، دیني باورونه و کلیسا، ښوونځی او پوهنتون، کلی او ښار، سیاست او پاچاهي څنګه وه؟
- یا، "لو انا".
- ښه بچو، تر نکل مخکې کې به د اروپا د هغه وخت مالومات درکړم.
- ښا خو لنډ.
- ښه.



دا مهال مسیحیت پر درستې اروپا راج چلاوو؛ ټول څواک و واک له کاتولیکې کلیسا سره وو او یا هم واکمن د کلیسا تر توغ لاندې وو. دوی د خپلو ګټو پر وړاندې وروکی مخالفت نه

شواي زغملای؛ هر اعتراض كوونكى يا د دوی ناخوښه کس به يې پر ككرۍ د دين پر گورز واهه.

کوم وخت چې رومي بُت لمانځونکي په زور کې ول؛ مسیحیان به يې له پوسته کول او بیا چې کله مسیحیان د واک پر گدۍ کېناستل؛ نور خلگ به يې د الحاد/کفر په نوم ژوندي سوزول. که په لوېدیځ کې کارل مارکس مسیحیت (دین) د خلگو لپاره تریاک نه وای بللی، مارټین لوثر ټول دوزخ په قباله نه وای پېرلی، او نېچه د لوېدیځوالو د خدای فاتحه نه وای اخیستې؛ تر دې ډېرې وحشتناکې صحنې به د اروپا له ستېجه نندارې ته وړاندې شوې وای.


GIORDANO BRUNO

له دویمې پېړۍ را په دې خوا عیسویان د بتلیموس پر خره سپاره شول چې گواکې ځمکه د پېنۍ [= کایناتو] منځی ده. دوی په دې باور ول چې ټول ستوري د ځمکې پر شاوخوا راڅرخي. کله چې کوپرنیکس (Copernicus)، گالیلیو (Galelio Galilee)، او جیواردانو برونو (Giordano Bruno) د تجربو په مټ زباده کړه چې داسې نه ده؛ نو دا خبره کلیساوالو پر کونه بده ولگوله او دوی يې په ستره گستاخۍ تورن کړل. برونو يې یوه نیمه لسیزه له هېواده وشاړه، بیا يې اته کاله د تورو تمبو شا ته واچاوو، بله ورځ يې پر ژبه مېخونه ورټکوهل، او په پای کې يې ژوندی په اور کباب کړ. هو، د برونو ملگري؛ کوپرنیس، گالیلیو، او نور د مرگ له وېرې له خپلو خبرو واوښتل ـــــ توبه يې وکښه او ځینو يې لکه زموږ ټامیانو؛ د اروپا په کېمپو او ځنگلو کې ځانونه پټ کړل.

د ژوندي سوزولو او پر ژبه د مېخ ټکولو خبره چې "لو انا" یاده کړه؛ په دې وخت کې مو د تره د زوی؛ محمد اصغر باد پرې شو او ټوله کوټه يې لکه د افغانستان اوسني اوضاع بدبویه کړه. اصغر ملامت نه وو؛ داړه یم هر چا ته چې د موچي په تار د حلالو، په هشتادو دوو د ویشتلو، ژوندي سوزولو، پر ژبه د مېخ ټکوهلو منظره وړاندې شي؛ تر دې د بد حالت تمه ورڅخه کېدای شي که يې نه منئ؛ تاسو بیا د خپلو کړوسیانو یا د هغوی د زامنو پرتوگونه وگورئ!

د شپاړسمې پېړۍ روستۍ نیمایي په ټوله اروپا په ځانگړې توگه ایټالیا کې د فکري اوښتون او بیاتاندون دور را دبره شو. د نړۍ ستر پوهان او اندیالي؛ لکه جرونیمو کارډانو، برنارډینو ټلسیو، گالیلو، کامپانلا، او برونو وزېږېدل او د کلیسا د نادودو او خپرې ناپوهۍ پر وړاندې ښه په نره ودرېدل او وجنگېدل. تر دې چې د اروپا په خوسا و خوړین تن کې يې د زغم، پوهې، کار، او ژمنتیا سا پوه کړه.

"لو انا" وړاندې وایي:

وو نه وو؛ یو سړی وو. نوم يې جیووانی برونو (Giovanni Bruno) وو. د ځوانۍ خوږ عمر يې د ایټالیا په ناپلیس کې په عسکری توري خاورې کړ. شل کاله روسته د کمپنیا (Campania) په ولایت کې پلرنې ټاټوبي نولا (Nola) ته راستون شو ــ هغه هم سپېره مجرد.

لږه موده لا مجرد وگرځېد. بس د قلم واهه او د بنده ورته کاته دي؛ په ١٥٤٦ز کال کې خدای فرولیزا سولینو (Fraulissa Savolino) ورباندې ړنده و کڼه کړه او واده يې ورسره وکړ.

کال دوه پس یې لمنه زرغونه شوه؛ خدای زوی ورکړ او ادې یې د فیلیپ په نوم تر اوبو ویوست. په دې شپو کې نولا پېړۍ پېړۍ د ښکلی او فرهنګوال ښار وو.

هلک د مور و پلار یکې او یو نازولی زوی وو. د سهار و ماښام یې فرق وي؛ داسې غتېږي لکه خته چې وراچوي. فیلیپ غټ او ښوونځي/کلیسا ته د تګ شو. په لیک و لوست یې ذهن خلاص شو؛ د یوه کتاب پای وي د بل سر. د نولا ټول کتابونه یې یو په بل پسې ولوستل. چې ماټ یې را تور شول؛ پلار یې د زدکړو لپاره ناپلیس ته یوې کلیسا ته ولېږه ـــ هلته یې ادبیات و فلسفه ولوسته او لږ و ډېر یې له ریاضیکي فرمولو سره هم ګوتې ماتې کړې. دا نو هغه شپې ورځې وې چې فیلیپ ځان د «لمر و ځمکې زوی» باله چې بیا روسته د کلیسا مشر ملا وربانديږ د جیوردانو برونو ( Giordano Bruno) کېښود. برونو تر دودویزو پوهنو روسته؛ سکولاستیزم یا Scholasticism [= هغه فلسفه ده چې ښخ و بنسټ یې پر الهیاتو او دیني آرونو ولاړ دی او په مسیحت کې په منځنیو پېړیو کې رامنځ ته شوه] لاس واچاوو او ډېر ژر یې سر خلاص شو چې دا فلسفه نه بلکې تش ډول دی او بیا یې د دې ډول غربولو ته متې و بډې راونغښتې چې په دې کار یې د کلیساوالو چورتونه ور خته کړل.

برونو په کلیسا کې یې په یوه ګونده دیارلس کاله تېر کړل. د نړۍ د لویو پوهانو لکه افلوتین، پیساګوراس، او نورو له اندونو سره ښه بلد شو خو د هرمسي لیکنو ژور اغېز وربانديږ وکړ. له برونو څخه ستر دینپوه، ستورپوه، ټولنپوه، سیاستپوه، او فیلسوف جوړ شو.

برونو له تاندي ځوانۍ د راهبانو او کشیشانو پر ناسمو کارونو نیوکې کولې او د هغوی په چارو پسې به یې خندل. همداراز، برونو د ځانګړې فلسفي ګروهې یانې د وحدت الوجود او نوې-افلاطونګرۍ په یوځای کولو سره د کلیسا د سترګو اغزی وګرځېد.

مایکل وایټ بیا بل څه وایي: برونو ته پوهنې خپرول او د مسیحي خرافاتو څپل لومړیتوب نه وو بلکې د وینا او فکر ازادي یې سرې کرښې ګڼلې او همدارنګه له ډګماټیزمه یې لکه له لانده سپي داسې بد کېدل.

برونو په اتلس کلنۍ کې د مسیحیت د لوی اصل؛ تثلیث په اړه شکمن شو او په همدې کال یې د کوپرنیک پر پله پل کېښود او د ژوند تر پایه یې همدا لاره پرېنښوه. برونو د اروپا د بیاتاندون د پېر تر ټول بې پروا مفکر وو خو په ناپل کې د مسیحي دینپالو، د ابن رشد و ارسطو فکرپالو او د نو-افلاطونیانو فکري ټکرونو ګنګس و ګیج کړ او ښه یې وګڼله چې د ډومنیکو صومعې ته پنا یوسي چې هلته یې د لوی مسیحي ملا، ریاضیپوه، او فیلسوف؛ رامون لول ( Ramon Lull) کتابونه ولوستل چې د «تثلیث» پر نظریې بې باوره کړ او په دیني خرافاتو پسې یې کرۍ ورځ خوله خلاصه کړه. د برونو سختې نیوکې؛ کلیساوالو د خپل دین او ځان سپکه وګڼله. نو؛ یې



سخت وګواښه او په کلکه یې ورته وویل چې که دا ځل لږ هم تر خولې تېر شوې؛ ژوندی دې سوزوو.

هغه څېرې؟! د برونو د بریکونو خښتې مکملې سولېدلې وې او پر کلیساوالو یې هیڅ بریک نه نیو. خبره لویه او سخته شوه؛ په ۱۵۷۶ز کال کې د کلیسا ګروهپلټونکو پر برونو څه باندې ۱۳۰ د اوښتنې [= ارتداد] تورونه پورې کړل او تر ټولو غټ تور یې دا وو چې ګواکې تا د اراسموس کتاب لوستی دی. له دې تورونو سره سم یې د شپې چاپه ورباندې واچوله __ له ښهمرغه برونو د خپلو کړنو په هېنداره کې وار له مخې ځان کتلی وو او جینوا ته وتښتېد. هلته یې خپل لومړی کتاب؛ د زمان نښه (De segni de tempi) هم خپور کړ. روسته تولوز ته ولاړ او پینځه شپږ کاله پاته شو. هو، کرار نه کېناست؛ په الهیاتو کې یې ډاکتري واخیسته. له هغه ځې څخه پاریس ته را وشړل شو او هلته یې ډمباری ډمباری؛ تر ۳۰ ډېرې رسالې خپرې کړې چې دې کار یې د فرانسې پاچا ته خوند ورنکړ. پر پاچا راتاوو پوهانو پر برونو تور پورې کړ چې دی کوډګري خپروي. ده؛ پاچا وپوهاوو چې دا کوډې نه دي او ...

کال دوه روسته کاتولیکانو او پروتیستانتانو په پاریس کې له یوه و بل سره خټه پر ښکر واخیسته چې دې شخې شولانګې په پاریس کې د برونو د کونې اېښونې ځای ورک کړ نو اکسفورډ ته ولاړ چې هلته یې د ارسطو فلسفې پر ډانډس کولو پیل وکړ چې په دې سره یې د پوهنتون له مشر سره سترګه وخوړه او ښه یې له یو بل سره پر مخونو تو کړل او لندن ته ورتخځه ولاړ چې هلته یې له ملکې الیزابت سره د شناخت تارونه وغځول؛ ان چې هغې په خپل لګښت د برونو څو کتاب ورچاپ کړل چې په دې کې «د برلاسي دېب شړنه»[7] کتاب هم وو. څه سر مو ګرځوم؛ یو خوا د برونو د خولې لاشتیک شکېدلی وو او بله خوا ټوله اروپا له مسیحي دینپالو ډکه وه؛ هر ځای به یې برونو ته ستونزې او ربړې راولاړولې. د ۱۵۸۶ په دوبي کې اړ شو چې جرمني ته ولاړ شي؛ هلته یې هم له ارسطویانو او کاتولیکانو سره راواخېسته. یوه ورځ یې د کوپرنیکوس پر سر له پوهنتونیانو سره ښه تر ګرېوانو ونیول. په پای کې پر خپل سر ووېرېد او پراګ ته وتښتېد.



په ۱۵۹۲ کې د موچنیګو په نوم وینزي شتمن ځوان چې د برونو کتابونو یې لوستي او د هغه مینوال وو؛ برونو ته وویل چې وینز ته راشه __ هلته به زما لاربنود او استاد شې. تښتېدلي برونو داسې ګومان وکړ چې ګوندې اوس به یې د هېواد ګروهپلټونکي نرم شوي وي څکه اتم کلیمنټ؛ پاپ شوی دی. همدارنګه پینځلس کلنې مساپرۍ یې زړه نرۍ کړی وو.

برونو د موچنیګو په کور کې واړول او هغه ته یې ښوونه ورپیل کړه. روسته موچنیګو په دې تور چې ګواکې ته اوښتی [= مرتد] یې؛ د لُو راهبانو ته د ۱۵۹۲م د مې میاشتې پر ۲۲مه لاس ترلې وسپاره او هغوی په روم کې د سینټ اینجلو کلا ته بندیوال

[7] په دیني، پوهنیزو، ادبي، فلسفي مسایلو کې د خرافاتو په اړه د برونو لیکل شوی کتاب دی.

ولېږه . دا کلا د کاتولیک مسیحیانو وېرونکې څورونځی وو چې د کلا د زندانیانو چیغې به په درسته سیمه کې اورېدل کېدې.

که خبره د ګروهې [= عقیدې] شي؛ برونو پر یوه خدای ګروهمن وو؛ ویل یې خدای (ج) د پنځ جوهر دی او تر ټولو شه پرشتنه [= عبادت] یې د پنځ د قوانینو پېژندل او ورڅخه سم کار اخېستل دي، روح او ماده هیڅکله له منځه نه ځي، زمان بې پایه دی، او ...

خو له دې سره سره؛ کلیسا پر برونو ګڼ تورونه ولګول چې؛ د پنځ فلسفه، مذهب ستېزي، پر تاریخ نیوکې، او تر ټوله ستره ګوناه یې د «د برلاسي دېب شړنه» کتاب لیکل ول. دوی ویل چې برونو:

- ✓ عیسی او د هغه ملګري په درواغجنو معجزو تورونوي.
- ✓ له ټولو دینونو سره وران دی.
- ✓ راهبان د ریا او شر سمبولونه ګڼي.
- ✓ وايي چې فلسفه باید د مذهب ځایناستې شي.
- ✓ برونو ځمکه د پېنۍ [= کایناتو] منځی یا مرکز نه ګڼي؛ وايي چې د لمر پر شاوخوا راڅرخي. روسته خپلو چټیاتو ته زور ورکوي؛ ان تر دې چې د خپل لارښود؛ کوپرنیک خبره چې وايي لمر د پېنۍ مرکز دی؛ نه ردوي او زیاتوي چې پېنۍ ډېره ویره او پراخه او بې شمېره نرۍ په کې پرتې دي. هرګوره؛ بتلیموس او د مسیحیانو کتابونه وايي چې ځمکه ولاړه او نور ستوري یې پر شاوخوا راګرځي.
- ✓ برونو د مادې د شتون پر قانون کار کړی دی؛ وايي چې ماده په هیڅ توګه له منځه نه ځي بلکې خپله بڼه بدلوي.

په دې وخت کې د "لو انا" ستونی وچ شو؛ غرېو ونیوله خو نکل ته یې دوام ورکړ چې:

د کلیسا په منځ کې؛ په پراخ او مفشن هال کې د پاپ ښي او چپ ته څلور څلور کارډینالان ناست ول. د ټولو ورېښمینې چپنې پر اوږو وې او په جواهراتو پوښلي لاسونه یې د لویو څوکیو پر زرینو متو ایښې ول.

کارډینال سورینا د پاپ له ښې اړخه را ولاړ شو او په ډېر غرور یې له برونو څخه وپوښتل چې «کفر دې پرېږده او پر خپل بدعت توبه وکاږه».



برونو د پاپ او کارډینالانو شاته دېوال ته سترګې نیولې دي او چوپ دی. کارډینال بلارمین؛ کارډینال سورینا تر لاس راکش کړ او ویې ویل: «عالیجناب! تشریف وفرمایاست ___ کېنئ؛ هغه خدای بې لارې کړی په لار نه شو ...».

لږ شیبه په هال کې چوپتیا خپره شوه. سورینا بېرته په څوکۍ کې لږ راجګ شو او ویې ویل:

جلالتماب اتم کلیمنټ پاپ!

دا کافر تر اوسه پر خپل خره سپور دی؛ په خپلو چټیاتو شخوند وهي، او توبه نه کاږي. نو، د روم حاکم ته لیکم چې پر دار یې کړي.

پاپ او ټولو کارډینالانو پر حکم لاسلیکونه وکړل. حکم یې د روم (اجرایوي) حاکم ولېږه او برونو یې بېرته د زندان خپلې کوټې ته چې پراختیا یې شاوخوا درې ګزه وه؛ بام یې راڅاڅي او موږکان پیه کې ګرځي؛ ولېږه او هلته یې پنبه په غولې پسې ور منځ کړه.

اته ورځې روسته د روم حاکم د ښار د ګلانو په میدان (Campo dei Fiori) کې زرګونه کسان راټول کړل. یوې ډلې کلیساوالو؛ لوڅ لغړ برونو چې لاسونه یې تر شا تړل شوي ول، ژبه یې په مېخونو سورۍ سورۍ او خوله د اوسپنې پر مزي ګنډل شوې وه؛ د هغو اوسپنیزو پایې خوا ته روان کړ چې لاندې ترې د بوټو او لرګو دلۍ پرتې وې.

برونو د پاپې ببخ ته ودرېد او پر کلیساوالو یې غږ وکړ: «د دې حکم په صادرولو کې دومره وحشت پروت دی چې زما د منلو وېره یې وخوړه.».

دا د برونو روستۍ خبره وه؛ کلیساوالو برونو سر په څېرې د اور له پاسه راځوړند کړ.

کله چې د اور لمبو د برونو بدن ایره کړ؛ د ننداړچیانو له منځه یو پر ملا کړوپ کوشنۍ سپین ږیری راووت او په خورا عاجزي او لوېدلي غږ یې وویل چې که د سپېڅلي کارډینال بلارمین او د روم د لوی حاکم اجازه وي؛ زه به مې د سوزېدلي زوی ایرې راټولې او له ځان سره به یې یوسم!

بلارمن ورته وویل؛ موږ د دې گمراه او مرتد بدن او کتابونه وسوزول، له خدایه مو وغوښتل چې په روح یې جنت مردار نه کړي، او نه غواړم چې ځمکه یې په ایرو پلیته شي. نو، ایرې یې = سیند ته غورځوو.

همداسې یې وکړل.

د اروپا نوي نسل د خوشال خټک دا خبره رښتیا کړه؛

د خوشال قدر که اوس په هیچا نشته
پس له مرگه به یې یاد کا ډېر عالم

واتیکان پېړۍ پېړۍ د برونو پر وژنه شرمینده وو. هو، پر خپل کړي وحشت یې خوله گنډلې وه. په ۱۹۴۲ کې کارډینال جیووانې مرکاتي [= په رومن کاتولیک کلیسا کې تر پاپ کښته رتبه یا څوکۍ ده چې د پاپ له مړینې روسته نوی پاپ غوره کوي.] د برونو د پېښې ډېر لاسوندونه تر لاسه کړل خو بیا یې هم د کلیسا د درېځ ملاتړ وکړ. په ۲۰۰۰ کال کې کارډینال اینجیلو سوډانو د برونو وژنه یوه وریرجنه پېښه وگڼله او کلیسا یې هم سپینه چرگه وبلله.

گڼو لیکوالو پر برونو باندې کتابونه؛ ناولونه او فلیمونه ولیکل.

په ۱۹۳۹ کې د برونو د «مخالفانو ټکر» پر نظریې باندې د جېمز جویس ناول ډېر خوله پر خوله شو.

دمگړۍ په نړۍ کې د جیوردانو برونو بنسټ شته چې پوهنې ته کار کوي او همدارنگه د برونو نړېواله جایزه هم د کار خلگو ته ورکول کېږي.

یوې کمېټې چې ویکټور هوگو، رانسټ رنان، او هنریک اېبسن یې هم غړي ول؛ په ۱۸۸۹ کې د روم ښار په هغه ځای کې چې برونو سوزول شوی وو؛ د هغه له پړی [= مجسمې] څخه پرده پورته کړه او پرانیسته. دا خبره مې باید هېره نه شي چې



لوېدیځوال جیوردانو برونو ته د «پوهنې شیهد» وایي. همدا ډول په هنگانگ کې هم د جیوردانو اینټرنېشنل په نوم کمپنۍ له ۱۹۸۱ز کاله را په دې خوا کار کوي او زرگونه کارمندان لري.

***د برونو وېناوې:***

خدای (ج) د پنځ جوهر دی او تر ټولو ښه پرښتنه [= عبادت] یې د پنځ د قوانینو پېژندل او ورڅخه سم کار اخېستل دي.

شعر د ډېرو فلسفي او مذهبي رښتینولیو د الهام سرچینه ده.

د رښتیني فیلسوف لپاره د ځمکې هره ټوټه؛ د ده هېواد دی.

برونو کلیساوالو ته ویل چې اسمان له لکونو ان له میلیونو ستورو او لمرونو ډک دی. پر ډېری لمرونو باندې زموږ د ځمکې په شان ستوري راتاوېږي او کېدای شي په ځینو کې هوښیار ژوندي سري هم وي. نو، ایا عیسی (ع) د هغوی لپاره هم ځان قرباني کړی دی؟

برونو ولاړی اور ته؛ زه راغلمه خپل کور ته!

# د ماشومانو انځورونه په ډله ییزو رسنیو کې مه خپروئ



لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

**سریزه:**

په ټولنیزو شبکو او رسنیو کې د عکسونو شریکول په ډېرو کورنیو کې یو ورځینۍ عادي عمل گرځیدلی دی. ډېری مېندې پلرونه د ځانګړو شېبو انځورونه اکثراً خپلو خپلوانو او ملګرو ته ورلیږي. په ځینو کورنیو کې د اړیکو پراختیا اړتیا او ځان ښودنې له امله دا اړیکې د کورنۍ له حدودو وراخوا نوره پراخیږي او په زیاتیدونکي ډول د عامو خلکو پام یې ځانته رااړولي دی. ځینې مېندې پلرونه د خپل ورځینې ژوند شیبې په انځورونو کې د سمارټ یا ملفون له لیارې خپروي. اکثراً دغه په زړه پورې شیبې په عمده توګه د دوی د زړونو ټوټې ګلالي ماشومان تشکیلوي. د ملفون کېمره د کورنۍ او د ماشومانو نړۍ د ورځینۍ ژوند ملګري ګرځیدلي ده.

دا پوهیدو وړ خبره ده، چې مېندې پلرونه غواړي خپلې د خوښیو شیبې له خلکو سره شریکې کړي، خو له بده مرغه انټرنیټ یا ډله ییزه رسنۍ د دې لپاره تر ټولو یو نامناسب ځای دی. د انځورونو پوسټ کول کولی شي تاسو ته او ستاسو ماشومانو ته ډېرې ناوړه غیر متوقعې پایلې ولري. په انټرنیټ کې پیډو فیل مجرمین اکثراً همدغه ساده او عادي ورځینې عکسونه غلا کوي او د ماشومانو انځورونه په جنسي ناوړه ویبپاڼو کې اچول کیږي او بیا خپروي. ښایې یوازې په یوه انځور کې د یوه ماشوم مسکا هم یو پیډوفیل رواني مجرم دې ناوړه عمل ته وهڅوي. له دې امله اجازه نشته، چې د ماشومانو معصوم مخونه په ډله ییزو رسنیو کې وښودل شي. د پیډوفیلو مجرمینو د فعالیت ساحه خورا لویه او پراخه ده. دوی تل د نویو عکسونو په لټه کې دي. دوی غلا شوي عکسونه د خپلو ناروغو چټلو موخو لپاره کاروي، چې اصلأ موږ یې تصور او فکر هم نه شو کولې. همدا عادي عکسونه د جنسي غریزوي مجرمینو او جنسي تیري کونکو ته دروازې ورخلاصوي. تاسو چې نن د خپل ماشوم خوږې صمیمي شیبې په انټرنیټ کې خپروي، خو ښایې سبا دا ډول ریکارډونه او عکسونه د تنکیو ځوانانو لپاره خورا شرمونکي، ذلیلونکي او سرټیټونکي هم وګرځي. تر ټولو عجیبه خبر دا ده، چې مور او پلار د خپلو ماشومانو په اړه د احتمالي ځورونې لپاره پر نړیوال کچ روښانه نمونې او شیبې چمتو کوي. انټرنیټ هیڅ شي نه هیروي، هغه څه چې تاسو هلته خپروي، په کې پاتې کیږي.

ولې ځینې مېندې پلرونه په ځای د دې چې د خپل فیسبوک په پروفایل باندې د خپل ځان یو انځور خپور کړي، هغه د خپلو ماشومانو انځورونه په کې خپروي. دا هم د والدینو یو غلط فکر او ناسم غرور پایله ده. والدین په زیاتیدونکي توګه غواړي، د خپلې کورنۍ د خوښۍ عکسونه له نورو سره انلاین شریک کړي. دوی دا حقیقت له پامه غورځوي، چې دغه انځورونه کیدلې شي، په اسانۍ سره غلطو مغرزو لاسونو ته ورلویږي.

**پوښتنه دا ده، ایا موږ اجازه لرو، چې خپل ماشومان په ټولنیزو رسنیو کې نړۍ ته ورښکاره کړو؟**

ایا کله هم مېندې پلرونو د ماشومانو انځور د خپرولو د حق په اړه فکر کړی او یا څه شي باید په قانوني توګه په پام کې ونیول شي. له بده مرغه د ماشومانو د شخصیت حق د خپل انځور په

اړه ډیرې وختونه له پامه غورځول کیږي. تر ټولو مهمه پوښتنه دا ده، چې ولې مېندې پلرونه د خپلو ماشومانو انځورونه په ډله ییزو رسنیو کې خپاره یا پوسټ نه کړي.؟

د پیډو فیلي جرمپوهنې له مخې د ماشومانو په وړاندې د جنسي تیري بېلا بېل ډولونه لکه د ماشومانو څخه ناوړه ګټه اخیستنه، د ماشومانو قاچاق، د ماشومانو سره فحشایي کړنې او د ماشومانو څخه د فحشا په حال کې فوټوګرافي شتون لري. په ځانګړي توګه والدین په ناپوهۍ کې او په غیر ارادي توګه له دې بدو خلکو او له دې ناوړو صحنو سره مرسته کوي. په واقعیت کې ډېرې والدین د دې ډول خطرونو څخه ناخبره ښکاري. یوازې جرمني کې په زرګونو داسې پېښې ثبتې شوي دي، چې په مکرر ډول د پیډوفیلو مجرمینو له خوا سرغړونې ترسره شوي دي. په دې اړه پولیسو ته راپورونه ورکړل شوي دي. داسې قضیې تر پلټنې لاندې دي. دا پلټنې یوازې په لویدیځ کې شوني دي، په دریمه نړۍ کې خو بیا هېڅوک د دې سرغړونو پوښتنه هم نه شي کولي. نن سبا په ډله ییزو رسنیو کې ډیرې یوه افغانان د خپلو او یا د پردیو ماشومانو انځورونه خپروي، دوی باید په ډله ییزو رسنیو کې د انځورونو پوستولو په خطرناکو عواقبو باندې وپوهیږي.

## ډله ییزو رسنیو کې د ماشومانو انځورونو خپرولو زیانونه او ګواښونه

معمولاً دا د مېندو پلرونو مسوولیت دی، چې د خپلو ماشومانو لپاره خطرونه کم یا مخینوي یې وکړي. دا والدین په خپله دي، چې په ځانګړي توګه د ماشومانو عکسونو خپرولو له لپاري ماشومانو ته انلاین خطرونه ورپیښوي او زیانموي. کوم والدین چې د خپلو اولادونو عکسونه انټرنېټ ته پورته کوي، دوی خپلو شخصي اړتیاوې پوره کولو لپاره د خپلو ماشومانو د عزت او مصوونیت سره لوبې کوي او په یوه لوړه بیه یې پورته کوي. ډېري ماشومان په دې نه پوهیږي، چې په انټرنیټ کې د دوی شتون څه مانا لري. داسې انټرنیټي سایټونه هم شتون لري، چې په اټوماټیک ډول د انسټاګرام او فیسبوک اکاونټونو څخه عکسونه راکاپي کوي او انلاین نورو رسنیو ته ورلیږل کیږي یا وړاندې کیږي. که څوک د خپل ماشوم انځور په واټساپ او یا د فیسبوکپاڼې په پروفایل کې لګوي، دا هم یو غیر عقلاني او ناسم کار دی. ټولې څیړنې او پلټنې دا ښیي، چې اکثراً د ماشومانو په وړاندې جنسي تیري او تاوتریخوالي تر ډېره بریده د نړېوالو ټولنیز رسنیو په چاپیریال کې ترسره کیږي.

د هر انځور د خپرولو مخکې باید ښه فکر وشئ، چې ایا دا انځور واقعاً په انټرنېټ کې د خپرولو وړ دی. ایا دا حتمي او اړینه ده، چې تاسو د خپل ماشوم مخ په کې هم ښکاره کړي.؟




د جرمني د براندېنبورګ ایالت کې د پولیسو پوهنتون د پولیسو پوهنې انسټیټوټ کې د سایبري جرمپوهنې څانګه کې د همدې ساده او عادي عکسونو پوسټولو کې یوه بله لویه ستونزه هم وینې، هغه نه یوازې انځورونه بلکې د ماشومانو په اړه حساس مالومات شریکول دي، لکه د ماشوم کورنۍ په منظمه توګه چیرې ډوډې خوړلو یا رسټورانت ته درومي، کوم ډول کورنۍ حیوانات په کور کې ساتي، کور یې څه رنګه ښکاري او د کور پته یې چیرته ده. پیډو فیل مجرمین او جنسي تیری کونکي کولي شي عکسونه د هغوي سره شریک شوي مالوماتو سره یو ځای پرتله کړي، کوم چې دوی په ټولنیزو شبکو او خواله رسنیو کې موندلي دي او خپله ناوړه ګټه ترینه اخلي. د بېلګې په توګه ماشوم چیرته اوسیږي او په کوم وړکتون او ښوونځي کې شامل دی، د دې مالوماتو ترلاسه کولو سره د مجرم لپاره دا ستونزمنه خبره نه ده، چې څنګه ماشوم ته ورنږدې شي. ځکه ښايي هغه د ماشوم عمر، نوم، جنسیت، څېره، د ماشوم د لوبې ډولونه، شوق او ذوق هم وپیژني.

## ولې مېندې پلرونه د ماشومانو انځورونه خپروي

په ټولنېزو رسنيو کې خلک ټول د لائيکونو، شېيرولو، فالووز، تبصرو او ملګرتياوو شمېرو لوړولو له لپاره انلاين پېژندنه غواړي يا په مجازي نړۍ کې ملګرتياو ته لټوي او ليوالتيا لري. خلک شېير کولو او فالوکولو کې د ځان صفت، تصديقول او مهميت وينې. دا د دې لامل ګرځي، چې ځينې والدين خپل ماشوم انلاين په ټولنېزو رسنيو کې پرديو خلکو ته ورپېژني. د ماشومانو يو څو يادګاري انځورونه په فيسبوک، انسټاګرام، ټيک ټاک او نورو پاڼو کې شېير کول، دوی فکر کوي، چې په دې کې خو هيڅ خبره نشته. تېروتنه له همدې ځايه پيلېږي. ځکه چې عکسونه په غلطو لاسونو کې لويدلي شي. ماشومان هم لکه لويان د شخصي حريم يا محرميت حق لري. يو ځلې چې انځورونه په انټرنېټ کې خپاره شول، بيا د چا کنټرول پرې نشته. ډېرې والدين په منظم ډول د خپلو ماشومانو د ژوندانه انځورونه په ټولنېزو رسنيو کې له خلکو سره شريکوي.

ستونزه دا ده، چې يو ځلې عکس انلاين شو، تاسو نور نشي کنټرولوي، چې څه پېښيږي. په ځانګړې توګه د مېندو پلرونو انسټاګرام يا فيسبوکونو مخ هر چا ته خلاص وي يا هر څوک يې کتلې شي. ان پردي خلک هم کولې چې انځورونه وګوري. د ماشومانو انځورونه ډوانلوډ کېږي، ترميم کړي، ايډيټ کېږي او د ناوړو موخو لپاره کارول کېږي.

## د ماشوم شخصيت حق بايد په ټولنيزو رسنيو کې محفوظ وساتل شي

د ماشومانو عکسونو خپرول نه يوازې اخلاقي پوښتنه راوچتوي، بلکې يوه حقوقي قانوني پوښتنه هم ده. پرته له شکه ماشومان د شخصيت حقونو خاوندان دي. هر سړی د ځان په اړه د پرېکړې واک او اختيار لري، چې هغه څنګه خپل ځان خلکو ته په ميډيا کې پرېزنټېشن يا وړاندې کوي او د ځان په اړه څه ويل غواړي. هر څوک چې د ماشوم د خوښې او ارادې خلاف عکسونه او ويډيوګانې خپروي، دا په دې مانا ده، چې هغه د خپل شخصيت حقونه لکه د همدې ماشوم انځور په څېر تر پښو لاندې کوي. تر ټولو لومړی والدين د خپلو ماشومانو لپاره پرېکړه کوي، دوی بايد د خپلو ماشومانو حقونه او ګټې خوندي وساتي. مېندې پلرونه بايد په دې اړه فکر او پام وکړي، چې د عکسونو خپرول د ماشومانو په ژوندانه باندې څه اغېز درلودلې شي، هغه څه چې يو ځل په انټرنېټ کې خپاره شول، ورسته بيا نشي کنټرولېدلی.

کله چې ماشوم د يوې خپلواکې پرېکړې کولو توان ومونده، مور او پلار بايد د ماشوم څخه د عکس پوسټ کولو د مخه اجازه وغواړي. دا د هر ماشوم عمر او انفرادي ودې پورې اړه لري. خو معمولاً دغه سن د 14 کلنۍ عمر کې اټکليږي. په ريښتېنې مانا سره موږ وينو، چې ډېرو مېندو پلرونو اکثراً د خپلو ماشومانو د شخصيت حقونو څخه سرغړونې کړې او په شخصي حريم باندې تيری کړې دی. ماشومان خپله اکثراً په دې اړه دقيق نظرونه لري، چې څوک کولې شي د دوی کوم عکسونه وګوري، ماشومان غواړي چې خپله په پرېکړو کې دخيل واوسي، خو ځينې والدين معمولاً حتی پوښتنه هم ترينه نه کوي.



خپل ماشومان په داسو پرېکړو کې شامل کړئ، د انځور له پوسټ کولو د مخه له ماشومانو وپوښتئ. له خپلو ماشومانو سره مرسته وکړئ، چې دا مالومه کړي، چې ايا دا انځور په ريښتيا سره د خلکو د ليدو وړ دی، ايا دا به ورسته ماشوم نارامه نه کړي. په هيڅ حالت کې شرمونکي، مسخره کونکې يا نيم بربنډ عکسونه شېير نه کړئ، هغه څه چې په لومړي سر کې تاسو ته عادی، ښکلي، خندني، توکي، مسخره يا پاروونکي بريښي، شايې ورسته د تنکيو ځوانانو د سختو پښېماني لامل وګرځي، ځکه اکثره مېندې پلرونه وايې يا فکر کوي، چې دا خو يو خوږ ښکلي او د خندا وړ يو عادي عکس دی.

په لویدیځ کې ماشومان کولی د خپل شخصیت حقونو سرغړونې په صورت کې په محکمه کې عارض شي او د خپل شخصي حریم بیرته اعاده کولو غوښتنه وکړي او د معافیت او جبران خساره غوښتنه هم کولی شي. مېندې پلرونه مکلف ګرځول کیږي او داړ ترلاسه کول کیږي، چې خپور شوی عکس له انټرنیټ باید زر تر زره لیري شي او د بیا خپرولو اجازه نه ورکول کیږي. والدین د خپلو ماشومانو انځورونو خپرولو سره دې ناوړو ویبپاڼو ته د کارولو حق ورمنتقلوي.

بله ستونزه دا ده، چې د عکسونو کاپي کولو حق یا کاپي رایټ د عکس یا ویډیو جوړونکي پورې اړه لري، دا هغه څه دي، چې والدین تل په پام کې نه نیسي. دوی فیسبوک، واټساپ، انسټګرام، یوټیوب، سنیپچټ، ټیک ټاک او نورو ته هم د کاروني ترون له مخې د کارولو حق ورکوي. هر څوک باید د راجسټر کولو په وخت کې د یادو ټولنیزو رسنیو له شرایطو سره موافق وواوسي. دا په دې مانا چې د فیسبوک شرکت کولی شي، دا انځورونه او ویډیوګانې د نورو موخو لپاره وکاروي او په وړیا توګه د بېلګې په ډول په ټوله نړۍ کې دریمګړی شرکت یا ډلې ته اجازه ورکړي، چې دوی هم د خپلو موخو لپاره وکاروي. حتی که د تاسو اکاونټ په فیسبوک کې حذف یا ړنګ شوی هم وي، دا شوني ده، چې د تاسو عکسونه په فیسبوک او انسټګرام کې همداسي شتون ولري او ځرګند پاتي.

د ماشومانو د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسیون له څلورو بنسټېزو اصولو څخه یو هم د ماشوم د حقونو حمایت یا د غوره ګټو د ساتنې حق دی. دا په دې مانا دی چې هر کله پریکړه وشي، چې پریکړه په ماشوم باندې اغېز کوي. د ماشوم د هوساینې خوندیتوب تر ټولو لومړیتوب لري. دا پریکړې په کورنۍ او همدارنګه د دولت په کړنو باندې تطبیق کیږي. د ماشوم انځور په مجازي نړۍ کې خپرول د ماشوم په هوساینې باندې منفي اغېز کولی شي. مېندې او پلرونه باید د خپل ماشوم د انځور انلاین کولو د مخه له ځانه وپوښتني: که زه دا انځور په ټولنېزو رسنیو کې شېېر کړم، د ماشوم لپاره به څه ګټه ولري.؟ ایا دا خپرول ماشوم ته ګټه رسوي یا یوازې زه مور یا پلار خپل ارتیاوې پوره کول غواړو.؟ دا لا روښانه هم نه ده، چې په راتلوکي کې د موجوده زیرمه شویو انځورونو څخه رنګه کار اخیستل کیږي.

په هر صورت دا هم شوني ده، چې ماشومان د مور او پلار په پروفایل کې وښودل شي، ایا مېندې پلرونه په قانوني توګه اجازه لري.؟ د قانوني پوښتنو سربیره چې ایا ماشومان په ټولنیزو رسنیو کې وښودل شي، دې موضوع په اړه بېل بېل اختلافي اخلاقي بحثونه هم شتون لري.

## ټولنېزو رسنیو کې د ماشومانو انځورونو خپرولو پلوي او ضد دلیلونه:

په دې کې شک نشته، چې ماشومان د ټولنې یوه برخه ده او د ټولنیزو رسنیو څخه په بشپړ ډول له منځه وړل کیدلې هم نشي. نن ورځ اکثره مېندې پلرونه د دې اړتیا احساسوي، ترڅو ټولې نړۍ ته وښيي، چې د دوی ماشومان څومره ښکلي، ځیرک، نیکمرغه، خوښ ښکاري او ستړې لاسته راوړنې لري.

په فیسبوکپاڼه، انسټاګرام، ټېک ټاک او نور رسنیزو پاڼو کې د ماشومانو عکسونه نه پوسټ کولو په اړه ډېر دلیلونه شتون لري. له یوې خوا اوس فوټوالبوم د هغې زماني سره متفاوت ښکاري، تر هغې چې خپل عکسونه په ټولنیزو شبکو کې ټولې نړۍ ته ورښکاره کړل شي. تاسو نشئ کولی خپل انځورونه تعقیب کړئ، چې عکسونه چا ته رسیدلي دي. په دې برخه کې تر ټولو لوی ګواښ دا دی، چې هر مور او پلار باید د خپلو ماشومانو عکسونو پوسټ کولو کې پام وکړي، چې دا عکسونه ښایي ناولو غلطو لاسونو ته ورولویږي او ناروا ګټه ترینه اخیستل کیدلې شي. بل لوی ضد دلیل د شرم خبره ده، هغه دا څه چې نن مور او پلار ته یو انځور ښکلي بریښي یا ښکاري، ممکن سبا ته دغه عکس د ماشوم د شرمنده ګۍ او خجالت لامل وګرځي. په ټولنیزو رسنیو کې د ماشومانو سایبري ځورونې او عکسونه دریم ستر مخالف لامل ګڼل کیږي.

د ماشومانو انځورونه په ټولنیزو رسنیو کې په ساده ګۍ او نا پوهي کې په سپکه توګه پوسټ نشي، مېندې پلرونه باید د خپلو ماشومانو شخصي حقونه او شخصي حریم په پام کې ونیسي.

په ټولنیزو رسنیو کې یوازې ملګري او خپلوان فعال شتون نه لري، بلکې پیډوفیل مجرمین هم په ټولنیزو شبکو کې فعال دي. دغه مجرمین ډیری وختونه د معصومو بېګناه ماشومانو عکسونه غلا کوي او دغه انځورونه د ماشومانو په جنسي اړیکو کې نورو ښکیلو مجرمینو ته ورلیږي. کله چې والدین په ناخبرۍ کې او په غیر ارادي ډول د ماشومانو انځورونه انټرنېټ ته پورته کوي. دا د پیډو فیلو مجرمینو لپاره د فلمونو د صحنو منځپانګې چمتو کوي. هر څومره چې پیډو مجرمین د یوه ماشوم په اړه مالومات راټولوي، د دوی لپاره دغه له شرمه ډک ذلیل جرم ترسره کول اسانه کیږي. له دې امله د ماشومانو انلاین انځورونه د ماشومانو لپاره خطرناکه پایلې درلودلې شي.

ډیری مېندې او پلرونه د خپل ماشومانو د ورځېنۍ ژوند عکسونه او ویډیوګانې په خوله رسنیو کې خپروي. ډیری لویدیځوال کارپوهان په دې هکله مشورې ورکوي، د خلکو عامه پوهاوې لوړوي، چې په ټولنیزو رسنیو کې د ماشومانو عکسونه او ویډیوګانې مه خپروئ. د ماشومانو انځورونه د ماشومانو لپاره څښت ډېر خطرناکه تمامیدلې شي.

کارپوهان په دې کلکه مشوره ورکوي، چې ټولنیزو رسنیو کې د ماشومانو عکسونه مه پوست کوي. مېندې پلرونه د خپل ځان ښودلو، د نوم پیدا کولو، د خلکو پام ځان ته راړولو لپاره، د ځان ځرګندولو لپاره، د ځان لپاره د نوم جوړولو، ځان ته نمبرې جوړولو لپاره او بلاخره د شخصي ګټې ترلاسه کولو لپاره د خپلو ماشومانو انځورونه په ټولنېزو رسنیو او شبکو کې خپروي. دې ډول پلار ته یو ډیجیټلې نارڅیست ناروغ شخصیت ویل کیږي. دغه ډول مېندې پلرونه په خلکو کې ځان پیژندنه غواړي. دغه کار دوی د ظاهري بریا یا په کار کې د مسلکي بریاوو لپاره کوي، خو وسمهال په خواشینۍ سره دا یوه عادي خبره ګرځیدلې ده.

## ولې د ماشومانو عکسونه انټرنېټ ته پورته نشي

ځکه ماشومان هم خپل یو شخصي حریم د محرمیت حق لري. د ماشومانو د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسیون 16 مه ماده کې راغلي: ماشومان د شخصي حریم یا د ځانګړي شخصي حریم حق لري. بنسټیز حقونه د خپل ځان انځور او د خپل ځان برخلیک یا د خوداردیت حق هم تضمینوي.

دا په دې مانا دي، چې مېندې پلرونه اجازه نه لري، د ماشوم رضایت پرته هیڅ شي نه شي پوسټ کولې. مېندې پلرونه دا باید په پام کې ونیسي، چې ایا ماشوم د رسنیو اړین مهارتونه یا وړتیاوې لري او د انټرنېټ د پراخو ابعادو اغېزې تصور کولې شي. ماشوم د ډېرو لویانو په څیر دا تصور نشي کولې.

نن په نړۍ کې پینځه نیم میلیارده انټرنېټ کاروونکي شتون لري. د یو ماشوم په توګه دا ستونزمنه خبره ده، چې ماشوم موافقه وکړي، خو مېندې او پلرونه باید په دې پوه شي، چې د ماشوم د ځان خوداراديت حق ورسته یعني کله چې لوی شي، بیرته فعال یا ادعا کیدلې شي. په بله وینا ماشوم چې لوی شي، په خپلو والدینو باندې محکمه کې ان عارض کیدلې شي.

د ماشومانو عکسونه په غلطو لاسونو کې لویدلې شي. د بېلګې په توګه په انټرنېټ کې داسې خلک شتون لري، چې په ځانګړي ډول د ماشومانو عکسونه حتی د عادي ماشومانو انځورونه لټوي او د جنسي اړیکو لپاره یې په ناوړه توګه کاروي او انځورونه فوټوشاپ کوي، شکل یې بدلو او دا بیا بیرته انټرنېټ ته پورته کوي. دوی دا انځورونه د پیډوفیل خلکو سره شریکوي، دا هغه خلک دي، چې د ماشومانو سره د جنسي اړیکو لیوالتیا لري. په ډېره چټکۍ سره داسې پیښیدلې شي، چې په فیسبوکپاڼه کې د ماشوم د لوبې ډګر انځور یا د سنیپ شارټ خپور شوي انځور د ماشومانو د فحشا یا د پورن لوڅو فلمونو کې د ټوکو په توګه وکارول شي. د تاسو ماشوم انځور په سلګونو ځله له یوه نه بل ته لیږل کیدلې شي، که نور نه وي په زرګونو ځله او د تل لپاره په انټرنېټ کې خپریږي. د ماشومانو انځورونه د موبینګ یا ځورونې لپاره په ناوړه توګه کاریدلې شي. په انټرنیټ کې په ځانګړي ډول د ماشومانو ناسم، شرمونکي یا ریشخند عکسونه هم انلاین په مجازي نړۍ کې خپریږي، چې دا تر ټولو ستونزمن کار دی. انټرنیټ په ماشومتوب کې او په تنکي ځوانانو کې دودېزه خطرونه زیاتوي لکه موبینګ یا د یو چا قصدي عمدي ځورول. ماشومان کیدلې شي په اوږد مهاله کې

د خپلو انلاين عکسونو خپرولو څخه له سترو روحي زيانونو او فشارونو سره مخ شي. دغه ډول قصدي ځورونې د انسان روح ژور په اعماقو کې روحآ سوزوي او تلپاتي روحي رواني نښې نښانې په سرې کې پر ځای پرېږدي.

د ګلاليو ماشومانو ساتنه مور پلرو ته يوه مهمه اندېښنه ده. هيڅ ماشوم نشي کولی په يوازي توګه ځان له تاوتريخوالي څخه وساتي. دا که په ريښتينې ژوندانه کې يا که په ډيجيټل مجازي نړۍ کې وي، دا يوه ټولنيزه دنده ده، چې ټول بايد ورته په دقيقه توګه وګوري او ورته پام وکړي.

انځور زر زر په بيره کې اخيستل کيږي، همداسې په بيړه کې په ټولنيزو رسنيو کې خپريږي، ډيرې والدين خوښيوي، چې په ټولنيزو رسنيو کې د خپلو ماشومانو له خندا ډک عکسونه پوست کړي، هغه څه چې نن يې مور او پلار يې خوښوي، ممکن ورسته د ماشومانو لپاره واقعآ هغه له شرمه ډک يو انځور وي او ماشوم به تل شرمنده سرټيټي اوسي او پرې به شرميږي. ورسره دا هم پېښيدلې شي، چې د معصومو ماشومانو شخصي انځورونه غلطو لاسونو ته ولويږي. انټرنيټ خو هيڅکله څه نه هيروي.

کله چې مور او پلار په هر حالت کې د خپلو ماشومانو عکسونه اخلي او دا ډول انځورونه په مجازي نړۍ کې خپروي، په دې کار سره د ماشوم شخصي حقونه تر پښو لاندې کوي.

ډيرې مېندې پلرونه په خپلو ماشومانو وياړي او غواړي ملګرو او پيژندګلويانو ته دغه ځانګړې ښکلې شيبې وروښيي، ډيرې والدين په ندرت سره دا فکر کوي، چې دا ډول عکسونه به چيرته پای ومومي. مېندې پلرونه بايد لومړې فکر وکړي او بيا دې پوسټ کړي. چې يو ځلې يو عکس انلاين خپور شو، بيا نو کنټرول يې په چټکۍ سره له لاسه وځي. د يو ماشوم انځور سم اخيستل شوی نه وي، بيا له ملګرو سره شيېر کيږي، ډيرې ماشومان مخکې له دې چې دوه کلن شي، د ټولنيزو رسنيو په نړۍ کې شتون لري. مخکې له دې چې ماشوم د ځان په اړه خپله پرېکړه کړي وي.

د ملګرو ملتونو ماشومانو کنوانسيون د شپاړلسمې مادې پر بنسټ هر ماشوم د شخصي حريم حق لري، دا د هر ماشوم د ازادۍ لامل ګرځي، څو ماشوم د ځان په اړه په خپله پرېکړه وکړي، چې دوی په ډله ييزو رسنيو کې په عامه توګه، د بېلګې په ډول په انټرنيټ کې د ځان په اړه څه او څومره ښکاره کوي.

په انټرنيټ کې د انځورونو حد يا اندازه سمه نه ده تصريح شوي او ډيرو خلکو ته سمه روښانه نه ده، حتی که انځورونه له پروفايل يا بلاګ څخه حذف يا ړنګ هم شي، عکسونه بيا هم په انټرنيټ کې خپريدو ته دوام ورکوي. نور کولی شي، کاپي کړي، ايډيټ کړي او بيا يې توزيع کړي، همدارنګه په انټرنيټ کې اعلان جوړونکو ته اجازه ورکوي، چې د تاسو شخصي مالومات راټول کړي او وکاروي. خو دا په دې مانا نه ده، چې څوک اجازه نه لري، د ماشوم عکس په ټولنيزو رسنيو کې پوسټ کړي. نه داسې نه ده، ماشومان زموږ د ټولنې يوه برخه ده او له همدې امله بايد د ډيجيټل نړۍ په شمول زموږ د ټولنې په ټولو برخو کې ماشومان څرګند شتون ولري. ترټولو مهمه پوښتنه دا ده، چې ايا د ماشومانو عکسونه انلاين پوسټ کيدلې شي يا نه، بلکې څنګه دا پيښيدلې شي.؟

## په انټرنيټ کې د ماشومانو عکسونو خپرولو ګواښونه

څنګه مېندې پلرونه خپل ماشومان په انټرنيټ کې له ګواښ سره مخامخوي، کله چې مېندې پلرونه د ماشومانو عکسونه انلاين خپروي، دوی اکثرآ نه پوهيږي، چې دوی څنګه ماشوم په خطر کې اچوي. تر ټولو هغه بدترين حالت دا دی، چې د چا د ماشومانو انځورونه د ماشومانو په پورن جنسي تيريو سايټونو کې خپاره شي او د پيډوفيلو رواني ناروغو کسانو لخوا ترينه ناوړه ګټه اخيستل کيږي.

ماشومان په انټرنيټ کې د ډېرو خطرونو سره مخ دي. کله چې د ماشومانو عکسونه انټرنيټ ته لاره ومومي، بيا له ماشومانو عکسونو څخه ناوړه ګټه پورته کيدلې شي. په ټوليزه توګه پايلې عمري ويجاړونکې وي، خپله ګلاليو ماشومانو کوشنيانو ته دغه زيانونه نه جبران کيدونکي دي. د ټولنيزو رسنيو په پلټفورمونو کې لکه فيسبوکپاڼه، انسټاګرام، ټيک ټاک، يوټيوب، واټساپ، زيګنال او نورو ټولنيزو شبکو ته د ماشومانو انځورونه اپلوډ کول بايد په خورا احتياط سره چلند وشي. د تاسو ماشومانو انځورونه

اکثرآ پیډوفیلي ویبسایټونو ته چیرې چې د ماشومانو سره د جنسي تیري فاحشیو شبکې دي، ورسیږي، په دغه سایټونو کې د معصومو ماشومانو عکسونه انلاین په ډېره ظالمانه او حیواني توګه غلط کارول کیږي. والدین څنګه باید په انټرنیټ کې د ماشومانو انځورونو سره چلند وکړي.

## شیرکول یا Sharenting څه شي دی؟

شیرینټینګ توري دوې برخې لري Share شیر یا شریکولو ته او parenting روزونکی ته ویل کیږي یا د والدینو لخوا شیرکولو مانا لري، دغه کلمه د مېندو پلرونو لخوا په ټولنیزو شبکو کې د ماشومانو عکسونه او ویډیو کلیپونو عامه شیرکولو ته اشاره کوي. د شیرینټینګ لغات په مجازي نړۍ کې یو خورا پراخ اړخیزه توری پیژندل شوي دی. ځکه والدین په پیل کې د خپلو ماشومانو انلاین عکسونو پوسټ کولو په اړه هیڅ فکر نه کوي. په هرصورت میندې پلرونه غواړي خپلو دوستانو ته وښيي، چې دوی د ماشومانو په اړه ډیر خوشاله دي. خو په خورا لوړه بیه د خپلو ماشومانو هوساینې خوندیتوب او راتلونکی له ستر ګواښ سره مخامخوي.

## سایبري ځورول یا موبینګ Cybermobing څه شي دی؟

د سایبري ځورونې مانا دا ده، چې خلک په انلاین بڼه کې ځورول کیږي. د بېلګې په توګه سپکاول، توهینول، ګواښل، افشا کول او رسوا کولو ته ویل کیږي. په ماشومانو، ځوانانو او لویانو باندې سایبري بریدونه د بریښلیکونو، ویبپاڼو، چیټونو، فورمونو یا ټولنیزو شبکو له لپارې ترسره کیږي. انځورونه اکثرآ په ډیجیټلي ډول ایډیټ کیږي، د فحاشو ویډیوګانو سره بیا میکس کیږي، کوم چې د انځور شوي سړی سپکاوي کوي یا هغه سپکوي او دا کولې شي لوی رواني زیانو متضرو خلکو ته ورسوي. دا هم شوني ده، چې شرمونکي عکسونه یا ویډیوګانې قصدأ په عامه توګه د قربانیانو د تمسخرو، خندنې کولو او بدنامولو په موخه خپرېږي. د سایبري ځورونې خطر چې په ډیرو پېښو کې په ځان وژنه باندې پای ته رسیدلي دي.

مېندې پلرونه د خپل ځان لپاره شخصیت او د نوم پیدا کولو لپاره د خپلو ماشومانو انځورونه انټرنیټ ته ورپورته کوي.

په هیڅ حالت کې د ماشوم اړوند شخصي مالومات په انټرنټ کې خپاره نه کړي، لکه د ماشوم نوم، عمر، د اوسیدو ځای، د ښوونځی نوم او چیرته دغه عکس اخیستل شوي، داسی نور مالومات لکه د ماشومانو د خوښې شوق او ذوق لوبې، د ساعتیریو نومونه مه ورسره لیکئ. هیڅکله د خپلو ماشومانو او تنکیو ځوانانو عکسونه په شرمناکو، ناخوالو حالاتو کې مه اخلئ او هیڅکله هغه مه خپروئ، ماشومان او تنکي ځوانانو باید په غوره توګه له لیري څخه په عکسونو کې د پیژندلو وړ نه وي یا په داسي ډول عکسونه واخیستل شي، چې د دوی مخونه سم ونه پیژندل شي، لکه لمریزه توری سترګۍ په سترګو کې درلودل.

ماشومان د شخصي حریم ساتنې یا د محرمیت حق او د شخصي عزت حق، د خپل ځان په اړه د مالوماتو غوښتلو حق او د خپل عکس خپرولو یا نه خپرولو حق لري.

## لنډیز:

ډیري خلک په ډیره بې پروایې سره د خپلو ماشومانو عکسونه په ډله ییزو رسنیو کې پوسټ کوي. هغه مېندې پلرونه، کوم چې د خپلو ماشومانو عکسونه پوسټ کوي، باید پوه شي، دا عکسونه کولې شي، ماشومان د ژنیتوب پر مهال سخت زیانمن کړي. ایا لویان خپله په زړه کې، په خندا کې یا د ډوډې غوړلو پر مهال یوه ویده یا د ماشومانو په څیر انځورونه پوست کوي، یقینا چې نه. مېندې پلرونه باید چې د خپلو معصومو ماشومانو او د نورو ماشومانو انځورونه خپاره نه کړي. په خپلو لاسونو د خپلو ماشومانو لپاره د سایبري ځورونو بنسټ مه ږدئ. د خپلو ماشومانو د شخصیت پر حقونو تیری مه کوي. دا حتمي نه ده، چې تاسو د خپلو ماشومانو د شخصیت حقونو څخه سرغړونې لپاره باید شرمونکي یا له سپکاوي نه ډک انځورونه خپاره کړي، یو عادي انځور کفایت کوي. د ماشوم شخصیت ساتنې حقونو د والدینو لخوا د داسي عکسونو خپرول او پوست کول په بنسټیز ډول ان دلته په دي ازاده لویدیځه نړۍ کې د منلو وړ نه دي. د ماشومانو انځورونو څخه ناوړه ګټې اخیستنې مخه ونیسئ. کله چې یو انځور په انټرنیټ کې انلاین خپور شو، بیا نه په قانوني توګه او نه په تخنیکي توګه د تاسو د بیرته

راګرځولو واک او اختیار پرې شته. هرڅومره چې په انټرنیټ کې ډېر عکسونه شتون لري، د انځورونو څخه ناوړه ګټه اخیستنه اسانه کیږي. په شخصي ګروپونو کې د ماشومانو انځورنه یوازې د میسنجر خدماتو له لپارې لکه واټساپ یا سیګنال له لپارې شریک کیدلې شي. هیڅا ته ادا اجازه مه ورکوي، چې د تاسو د ماشومانو انځورونه په خپل پروفایل کې وکاروي، شیېر یا خپاره کړي.

مېندې پلرونه د ماشومانو انځورونه په څه ډول خپاره کړي. که څوک له دې خطرونو څخه ځان او خپل ماشومان خلاصول او ساتل غواړي، هغه دې په بشپړ ډول د خپل ماشوم او د بل ماشوم انلاین عکسونو خپرولو څخه ډډه وکړي. که تاسو بیا هم غواړې، د خپلو ماشومانو انځورونه په له ییزو رسنیو او پروفایلونو کې شریکوي، هغه عکسونه پوست یا شیېر کړې، چې مخونه یې د پیژندلو وړ نه وي. د بیلګې په توګه د شانه څخه، یوازې لاسونه یا پښې راښکاره شي، د ماشوم مخې په سمایلي انځور یا نښاني باندې پټ کړي.

تاسو کولې شي د ماشوم شا عکس واخلي، تاسو کولې شي، د ماشوم په مخ باندې د مسکا یو سمایلي انځور ولګوئ. د خپرولو مخکې ماشوم په کې شامل کړې، پوښتنه وکړئ، چې ایا هغه د عکس خپرولو سره موافق دی. د انځور سره شخصي مالومات مه خپروئ، لکه د ماشوم نوم، ښوونځي یا د اوسیدلو ځای داسې نور جزیات.

هیڅکله په شرمناکو او ناارامه کونکو حالاتو کې د ماشوم عکسونه مه خپروئ. داسې فکر وکړئ، چې تاسو به د خپل ځان یو عکس په داسې یو حالت کې انلاین شیېر یا خپور کړئ. تاسو باید د خپلو تنکیو ځوانانو او ماشومانو سره مرسته وکړې، چې ایا واقعاً داسې یو انځور د عامو خلکو سره شریکول اړین دي. ایا ممکن ورسته تاسو ته نارامه کونکې وګرځي، ښایې په لومړی سر کې ښکلې، توکې، مسخره کونکې، پارونکې او جذاب وي، خو ورسته د ځوانانو لپاره پښېمانه کونکې ګرځیدلې شي. مخکې له دې چې تاسو یو انځور په ډله ییزو ر سنیو کې پوسټ کړئ، یو ځلې فکر پرې وکړئ. موږ ټول د ظاهري یا مسلکې برياو لپاره په ټولنه کې پیژندنه حاصلول غواړو یا شاباسۍ ته اړتیا لرو. ادا خبره هم عادي ګرځیدلی، چې موږ د لائیکونو، شیېر کولو، تبصرو او په ټولنیزو رسنیو کې ملګرتیاوې له لپار انلاین پیژندګلوي غواړو. ادا د دې لامل ګرځي، چې ځېنې لنډ فکره والدین خپل ماشومان انلاین ټولې نړۍ ته وړاندې کوي. اصولاً ماشومان د ۱۳ کلنۍ عمر څخه پورته د ټولنیزو رسنیو په پلټفورمونو کې ځانته اکاونټ خلاصولې شي. تر دې مخکې ماشومان اجازه نه لري ځان ته اکاونټ خلاص کړي.

د فدرالي جرمني جنايي جرمونو مرکزي دفتر چې د ماشومانو د جنسي تیري سره د مبارزې مسوولیت هم په غاړه لري، خپلو هیوادوالو ته مشوره ورکوي او توصیه کوي، چې د ماشومانو عکسونه په انټرنیټ کې مه خپروئ. یو ځل چې عکسونه او ویډیویې کلیپونه په انټرنیټ کې خپاره شوي، بیا نو ادا شونې نه ده، چې کنټرول شي، هر څوک چې دغه عکسونه په خپلواک کې ولري، هغه چې څه پرې کوي، کولې شي، د عکسونو سره هر څه پیښېږي. دوی د نورو شیانو ترڅنګ د ناروا موخو لپاره هم کارول کیدلی شي. د ماشومانو عکسونه انلاین پوسټ کول تر هغې لا ډېر خطرناک دي، چې څومره خلک په اړه فکر کوي. پرته له دې چې د ماشومانو عمر په پام کې ونیول شي، ماشومان خپل شخصي حقونه لري او له همدې امله د خپل عکس واک، اختیار او حق لري. ادا په دې مانا ده، چې اساساً هر څوک کولې شي د ځان په اړه پریکړه وکړي، چې ایا د هغه انځور په ډله ییزو رسنیو کې خپور شي یا نه. له همدې امله د ۱۴ کلنۍ څخه مخکې له دې چې عکس یا ویډیو شیېر یا خپره شي، د اړوند ماشوم رضایت یا اجازه اړینه ده. د ۱۴ کالو څخه کم عمره ماشومانو قانوني روزنکي یا والدین د دې مسوول دي، چې د ماشوم عکس خپور شي یا نه. د خپلو ماشومانو ساتنه او د ګواښونو مخنیوي څنګه وشي، تر ټولو غور لاره ادا ده، چې د ماشومانو عکسونه او ویډیوګانې باید انلاین په ډله ییزو رسنیو کې پوست نشي. پای

د ډاکټر محمد اشرف غني د ویبپاڼې لینک:

https://mohammadashrafghani.com/ps/



# د وریښمو کاروان



چلوونکې او مسئوله: شېبه ګهيځ

د وریښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او لیکوالانو له پیژاند نیولې تر طنزونو، لنډو کیسو، ادبي ټوټو، ادبي څېړنو او نور بیلابیل ادبي او غیر سیاسي لیکنې د هنري ذوق خړوبولو او معلومات ورکولو په موخه خپرېږي. د دې برخې د لا پراختیا او غوړېدا په موخه مو د نېک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هیله یو.

dawatafghanmedia@gmail.com

## میمونه کامران

میمونه کامران د لعل محمد کامران لور، په (۱۳۸۱ل) کال د پکتیا ولایت احمد ابا ولسوالۍ په یوه متدینه کورنۍ کې زېږېدلې ده. لومړنۍ زده کړې یې په کابل ولایت کې پیل کړې او د غازي میرزمان خان عالي لیسې څخه په(۱۳۷۹ل) کال فارغه شوې ده. په همده کال د کانکور ازموینې له لارې د کابل پوهنتون د ژبو ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې ته یې لاره پیدا کړه. اوسمهال د یادې څانګې د څلورم ټولګې زده کړیاله ده، د محصلي په دوران کې یې هم ځینې فرهنګي او تعلیمي فعالیتونه درلودل.

آغلې کامران د افغانستان پرانستي پوهنتون سره د کوالټي کنټرول دیپارټمنت مشره ده. د پوهنې مجلې سره د اډیټرۍ په توګه یې هم دنده کړې او د افغانې ښځې انلاین ادبي بهیر غړې ده. د ماشوم ادبیاتو په برخه کې یې یوه کیسه د (د هیلو نرۍ) په کتاب کې د (مرغۍ بچۍ) تر سر لیک لاندې چاپ شوې ده. یاد کتاب د ماشومانو لپاره د لنډو کیسو ټولګه ده چې د بیلابیلو لیکوالانو او ژباړونکو شل لیکل شوې او ژباړل شوې کیسې په کې ځای پر ځای شوې دي.

نوموړې ښه کیسه لیکواله ده، چې لسګونه لنډې کیسې یې لیکلې دي. د لنډو کیسو موضوعات یې تر ډېره د افغان ښځو په ژوند راڅرخي او دا وایي چې تل به د افغان ښځو غږ او د دوی د ژوند حالت به په لنډو کیسو کې منعکسوي. چاپ شوی کتاب نه لري؛ خو لنډې کیسې یې په خواله رسنۍ او ځینو ویبپاڼو کې خپرې شوې دي.

### د کیسو بیلګې:

### په کوم زیارت دې ایښي وو لاسونه

پاستې لوېدلی و، په نکریزو سره لاسونه یې تناره ته ورښکته کړل، ناڅاپه یې ګوتې په سرو سکروټو ولګېدې، د اخ په کولو یې لاس را غبرګ کړ او ګوتې یې زر خولې ته کړې. په سترګو کې یې اوښکې د ګوتو له ډېره سوخته ډنډ شوې، پاستې ته یې پام شو چې په سوځېدو ده، بېرته یې لاس تناره ته ور ښکته کړ، او په سوځېدلو ګوتو یې پاستې راوویسته. غلې یې څنګ ته وکتل؛

د تناره غاړې ته ناستې شنې غټې مېرمنې سترګې پرې را برګې کړې او له ټوټو جوړ شوی د تناره خولپوټی یې واخیست او په سر یې وویشته.

ـ د پلار کور د وران شه، زامن مې په یوې ټیکلې ډوډۍ پسې ورک دي، تا د خان لور دلته خانې راته شروع کړې ده. ثواب زما د زوی وکړې چې ته سپېره یې په نصیب یې. په مرۍ کې مو برکت ختم ده، دا سوځېدلې ټیکله به ته خورې چې زور یې در معلوم شي.

ګل غوټۍ پاستي ټول کړل، د تنور سر يې پټ کړ، په سپينو مټو يې ټول کړي لستوني را وغوړول او له سپېروني يې ټک وهل، دواړه لاسونه يې له شکوره لاندې کړل او روانه شوه.

له شا يې خواښې پرې ور غږ کړ: اغه ده، جان بي بي خور مې له بر کلي راغله، تازه شيدې ورته را پخې کړه.

ګل غوټۍ په پتناسه کې د شيدو وره چاينکه، پيالې او په دسترخوان کې ګرم پاستي د جان بي بي ترور مخې ته کېښوده، ګل غوټۍ دسترخوان هواراوو چې جان بي بي ترور د ګل غوټۍ په خواښې ور غږ کړ: بختورې! په کوم زيارت د ايښي وو لاسونه، چې داسې غونډه منډه تکه سپينه او چابکه نګور خدای درکړې ده.

خواښې يې ورغبرګه کړه: غلې کېنه خورې! د څه شي بختوره، د لونړو مې نيمايي ته هم نه شي رسېدای، چېرته دا او چېرته زما لونړې، په دې خو کوران که ښاد سو....!

ګل غوټۍ وېرې شونډې را ټولې کړې، غلې له کوټې راووته، په سرو غومبرو يې اوښکو کتاروته جوړ کړي وو، خپلې کوټې ته دننه شوه، په الماری يې د خپل پلار ټومبلي انځور ته مخامخ ودرېده او په ژړغوني اواز يې وويل : اه زما حق پېژندونکيه او د خدای له لارې خبر پلاره!

که تا هم په ما باندې د دوی په شان ولور اخستی وای، نو نن به دومره بې ارزښته نه وم....!

****************************************************************************************

## دا ستا ارمان

فاطمې له موټره لړځېدلی قدم په ځمکه کېښود، روانه شوه، له ډېلې شنې کتابچې يې لاسونه را تاو کړي او کلکه يې په ځان پورې نيولې وه.

_غږ وشو: دخترا بيک های تان را باز کنيد.

ورمخته شوه، بکس يې د پوهنتون په دروازه کې مېرمنې تلاشي کړ، پوهنتون ته دننه شوه.

شاوخوا يې وکتل، شنې ونې او يو اوږد سړک يې تر سترګو شو.

مسکه شوه پدې چې د پوهنتون لومړۍ ورځ يې وه، بېرته يې غوړېدلې شونډې راټولې شوې، سترګې يې ډنډ شوې، يو دننې احساس کړوله، يوې هيلې په هر ګام سره وژله، يوې خبرې يې په غوږو کې انګازه کوله، خو پرمخ روانه وه او د زړه په زور يې قدمونه اخيستل.

خپل پوهنځي ته ورسېدله، د معالجوي طب په لومړي ټولګي کې کېناسته.

نجونې راتلې او چوکۍ ډکېدې.

استاد ټولګي ته را دننه شو، حاضري يې واخيسته، د لومړۍ ورځې اړوند ټول مسايل په ټولګي کې مطرح شول، نجونو يو بل ته ځانونه ور وپېژندل، خو فاطمه هماغسې په ځای ناسته وه.

کتابچه يې په لاس کې اړوله او راړوله، زړه يې په تنګ وو، د ټولګي فضا ورته ځورونکې وه، غوښتل يې زر تر زره له ټولګي ووځي.

رخصت شول، کور ته روانه شوه، خو حال يې هماغسې وو، کور ته نا رسيده له موټره ښکته شوه او لار يې له کور بدله کړه.

پياده روانه وه، هر څه او هره لحظه يې په ذهن کې ګرځېده، ټاکلي ځای ته ورسېده او وويل: اسلام عليکم يا اهل القبور!

غرېو ونيوه درې ګامه مخته ولاړه او د يو قبر تر څنګ کېناسته!

وې ويل: ودې ليدل، تا زه يوازې پرېښودم...!

نن زه پوهنتون ته ولاړم خو ته راسره نه وې، هرې ثانيې خوړلم .

دا کتابچه دې په ياد ده!

دا زما او ستا کتابچه ده، پدې کې دې هره ليکل شوې هيله او پلان د را پرېښود.

تا خو ويل چې په ګډه به طب ته کاميابيږو ،په ګډه به د ژوند ستونزې ختمو او د ژوند تر پايه به د يو او بل ملتيا کوو.

اه خورې! کاش ته هم له کانکور امتحان څخه يوه اونۍ وړاندې کورس ته نه وای تللې نو په چاودنه کې به نه وې شهيده شوې.

ناځوانې ځانته دې جنت وټاکه او ماته دې په خپل نشتون پاتې ژوند دوزخ کړ..!

---

## د مېوې شکور او د اوبو جام

اينې ته ولاړه وه، په تور اوربل يې چېرک واړوو، دوه زرين سبخکې يې په بچکه کې ورکړل او چېرک يې په کلک کړ، څو رنګه ځلېدلې دړې يې په کندو ککرې او چېرک يې په ګلورين کړ. په رنجيو ککره سلايي باندې يې سترګه راپټه کړه، نرم

حرکت يې ورکړ، موسکه شوه، سترګې يې خلاصې کړې، پېزوان يې په سره او سپين غومبرې وځلېد.

غلی يې په سلايي چپ طرف غومبری لمس کړ، درې تور خالونه يې پرې مېلمه کړل. سرې شونډې يې وخوځېدې، وې ويل:

خدايه ښادي په ښادي راکړې
چې پکې ګرځم تورې سترګې سره لاسونه

ټیکری یې په سر واچوو، په کټ کتې یې وخندل؛ وې ویل: ښا نو، له ما د ښایستونو بل ښه تعریف!!!

مور یې ور غږ کړ: وه لونګې!

مېوه او اوبه تیار کړه؛ اوس دستمال راوړي، پلار دې زنګ وکړ، چې دروان شوو. لونګې مور ته ځواب ورکړ: ښه مورې، داده لګیا شوم.

لونګې په نازکو سرو لاسونو د ممپلیو، نخودو، ممیزو او کلکې شیریني ګډه وډه مېوه تیاره کړه.

ماشومانو ناري کړې: هله دستمال یې راوړ. د پټاکیو ترکا او د ټوپکو زربې شروع شوې. لونګې په یو لاس د مېوې شکور او په بل لاس د اوبو جام راواخیست. له کوټې راووته، پورته یې وکتل، وې ویل:

شکر خدایه! د ورور د ښادي ښېتنه شوم.

په منډه ورغله، دستمال یې د پلار په ولیو پروت وو ، کور ته را دننه شو، پیغلو دیراب واهه، ادا هم ورسره همغاړې شوه، ادا سندرې یې وېلې:

راغی دستمال راغی، دستمال ډک دی له ګونګرو
د اکا په ولیو پروت دی سر یې جګ دی له تربرو
...
دستمال مو راوړ، ځونډې پرې پورې
پرې بوره مه شي د هلک مورې

...

لونګې د اوبو جام مور ته ورکړ، په یو لاس کې یې شکور او بل لاس یې په مېوه ټېټ کړ چې پرې وې شیندي. مور یې په خپله خور غږ کړ: ببو شکور ته واخله او بې دربیغه مېوه وشینده. ببو له لونګې شکور واخیست، لونګې د مېوې ډک موټی په شکور کې پرېښود.

د لونګې خوله له خندا نه تولېده، ټولې نجونې ګډېدې، ښځو په نوبت دستمال په سر اچوو او ګډاوو یې، لونګه میدان ته ورګډه شوه، د ټیکري پیڅکي یې په لاسو کې ونیوې هرې خواته یې رنګ بنګ لټ خوړ او د خوښي اظهار یې کاوو.

خپل او بل راټول وو؛ وروسته له ډېرو کلو ښادي وه، لونګه له خوښي په کالیو کې نه ځاییده، دستمال ته یې ور لاس کړ، په سر یې اچوو چې وې ګډوي، مور یې پرې غږ کړ، ته یې مه ګډېږه، دا دستمال ماته راکړه، دغه یو ورور دې ده، خدای دې یې له سپېرې مېنې او میراتې ورځې وساتي.

لونګې اوجود په لړزه شو، له شا پرې زرې ښځې غږ کړ: و جلکۍ!

لونګې مایوسه ور وکتل نیا یې وه،

بیا یې ورته وویل: وه لونګې لورې!

ښه واپې؛ ته دستمال مه ګډوه، تاته به دا دعا کوو چې خدای د لمن زرغونه او نیک اولاد درکړې.

# د زمزمه غزل خو شعرونه

## غزل

یو تصادف کې انسان خپل ارمان ته ورسېږي
له مودو وروسته مینه خپل جانان ته ورسېږي
په لېونی مینه کې خنډ څه مانا څنډ څه مانا!؟
ښه وي د للمې بوټې ژر باران ته ورسېږي
زما د نازک سپیڅلي زړه خیال دې ونه ساتلو
ته به برباد شې که یې درد اسمان ته ورسېږي
لکه د ګل یې پاڼه پاڼه هر طرف وشېندې
کله چې مینه یوه خان نادان ته ورسېږي
د تاریکې په ځبر خوره دې په تېر داسې یم
لکه چې سترې قافله کاروان ته ورسېږي

## غزل

زما له هیلو نه حساب اخلې لګیا دې سړې
له ما قلم اخلې له ما کتاب اخلې لګیا دې سړې
د ښار قاضي د زمزمې خلاف فتوا ورکړې
د سندرو مارو نه رباب اخلې لګیا دې سړې
زه یا د کور یم یا د ګور یم یا په عقل کمه
ما ته کفن ما ته حجاب اخلې لګیا دې سړې
د مکتب ټولې دروازې په زولنو تړلې
بس په همدې ځان ته ثواب اخلې لګیا دې سړې
زما زرغونه توره سره لوپټه سپکه شوله
ما ته کفن ما ته حجاب اخلې لګیا دې سړې

## غزل

سر به درته ټیټ کړمه ستاینه به دې وکړم

یو ځلي یې راوله مننه به دې وکړم

ضد دی څه توبه نه ده چې ماته به یې کړم

ژونده په تېره خوکه د ستنه به دې وکړم

زه له مجبورۍ د زړګي ورشم ده ته ووایم

ما ویل راځه یوه پوښتنه به دې وکړم

هله ځانه څه چې د دیدن کوڅې ته لاړ شو

زخمه نن دې وړمه درملنه به دې وکړم

چېرته یې د نورو په مخونو پسې ورکه

راشه د خپل شعر غوندې پالنه به دې وکړم

## غزل

اوبو ته تږی بیابان دی ژوند مې

تا پسې هرې خواته وران دی ژوند مې

په خام وجود مې راته داغ جوړوې

بغیر له تا اورې باران دی ژوند مې

له هرې خوا په وجود ټپ لرمه

لکه ویجاړ افغانستان دی ژوند مې

په وران مسکن د ژوند ټپه وایمه

صنمه تا باندې ودان دی ژوند مې

د ګل موسوم نه دی خو ګل شومه زه

څه له اضدادو جوړ داستان دی ژوند مې

زه یې هم نه غواړم دنیا یې هم نه

ثومره بد سترګی دی روان دی ژوند مې

لکه د سترګو خال ترې نه شوم جدا

زمزمې داسې په چا ګران دی ژوند مې

## غزل

ادې مې زیارتو ته په بیولو ځوروې

طبیب مې هسې زخم  په ګنډلو ځوروې

دا زیړ زبیښلی رنګ مې چې د چا دلاسه دی

هغه مې د وعدو په ماتولو ځوروې

داغونه د منې مې خپل زړګی رایادوي

خپل باغ مې د انار په چاودولو ځوروې

څه پرېږده بنګړیوالې لاس مې ډک کړه چې رسوا شي

همیش مې د مړوند په تاوولو ځوروې

زما د ضعف نقطه یې پیدا کړې ده پوهېږې

نو ځکه مې باران په اورولو ځوروې

په ما یې د ګیلې کولو درد نه شي پیرزو

خو ما په خپلو اوښکو تویولو ځوروې

چې مونږ یې د راتګ لپاره ویشوو لوپټې

نو سوله موږه ولې په راتللو ځوروې

له ما نه یې د غچ اخیستو ښه لاره پیدا کړه

غزل مې په غزل غزل لیکلو ځوروې



# غزل

**عبدالرحيم روغاني (رح)**

زلفې غزل، جال يې غزل، زلفو کې هر ول غزل
تورې نرۍ وروځې غزل، خال يکې لا بل غزل
غونډه سپينه زنه ده والله چې مکمل غزل
لوړه نرۍ پوزه کې نتکۍ غوټۍ غزل غزل
دنګه نرۍ غاړه يو په سل غزل او تل غزل
هره سپينه لېچه غزل، هره سره منګول غزل
قد غزل، قامت غزل، سينه غزل او هار غزل
ترنګ غزل، غرور غزل، اقرار غزل، انکار غزل
وخت د پېغلتوب ځواني غزل، شوخ يې سينګار غزل
زړه غزل، درزا غزل، تادي غزل، تلوار غزل
څرېکي غزل، اوف غزل، مستي غزل، خمار غزل
شب غزل، شبنم غزل، چمن غزل، بهار غزل
څه دروغ رښتيا وي، د راتلو وعدې غزل غزل
څه لنډې اوږدې وي د وصال نيتې غزل غزل
کله شرابي سترګې اودې اودې غزل غزل
کله په خندا کې اننګې منې غزل غزل
اصل کې دا درې غزلې دي چې شي رښتيا غزل
يو دي پيدايښت، بله ځواني، بله فنا غزل



افسوس

یو مُلا مو کسب دَ ټوپک، تُورې، نېزې کوي
بل مُلا مو کار د دَم، تعویذ او اِجازې کوي
بل مُلا مو مُلا دسیاست کار ته ترلی ده
مُونږ يې خوار و زار کړو او مُلا صاحب مزې کوي
دا فرقې فرقې رنګين اِسلام راته اوړ شوی دی
یو مُلا مو وژني بل مُلا مو جنازې کوي

عبدالرحیم روغاني (بابائے قطعه)






# فلسطین په اورکې سوځي

عبدالباري جهاني

نه دعا او نه درودونو اثر وکړ
تنورونه له اسمانه را اوريږي
څوک د میندو پر سینو باندي ساه ورکړي
څوک پر مړو میندو په سرو چیغو تاویږي
ښار له مځکی سره سم دی هدیره ده
په لوګیو، سرو لمبو دوړو کي ورک دی
د جهان سترګي یې نه ويني ړندي دي
چي لا څومره د اسمان زړه ورته ډک دی
په لمبو کي مځکه سره لکه تبی ده
په ویالو کی یې د وينو سېل بهيږي
هم غړومبی دی له اسمانه هم له مځکی
ککرۍ دي چي له تن څخه بېليږي
قاتل ورک دی له قاضي له عدالته
بې ګناه د انتقام په اور کي سوځي
د بمونو راکټونو له هيبته
خوب له شپې، قرار وتلی دی له ورځې
بېګناه چي د ګناه په تهمت وژني
بس همدا د زورورو عدالت دی
د قاتل تر شا د غره په څېر ولاړ وي
د آزادي نړۍ دغه کرامت دی
اوس هغه جنډی له ويري دي سرټيټي
چي په نوم به د اسلام پورته کېدلې
اوس هغه سالار شیطان ته پر سجده دی
چي وعدي يې د کوثر د جام کولې
اوس د هغه مولوي ژبه ګونګی ده
قوالي چي د جنت يې ورکولې
اوس هغه شيخان په ښکليو کي لوبيږي
په واسکټ چي يې ښايستې حوري وېشلې
اوس به څوک د مظلومانو چيغي واوري
چي اسلام وي د طلا بلا نيولی
څوک به څرنګه منتر د شيطان مات کړي
چي شيخانو وي پخوا ايمان پلورلی.

د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر د مياشتي اووه لسمه، ویرجینیا.



# رنګینه که سپېره ښاپېرۍ؟!

سمسور ودان



ما ته په ادبیاتو کې تر ټولو سخت کار بې پرې نقد دی؛ ځکه چې اوس د ګوتو په شمار خلک سم ادبي نقد کوي، څینې یې فقط ستاینې لیکي او بعضې د انتقاد په نامه خپله شخصي کینه پالي.

دا کیسه خو هغه مهال سخته شي، چې د یو اشنا کس د کتاب په ځانګړنو او بدګنو کرښې لیکې، که ادبي جرأت کوې او د پنځونې نیمګړې خواوې یې ور په ګوته کوې، نو ویره وې، چې یار خفه نشي او که یوازې ستاینو ته زور ورکوې، نو خلک له لرې پوهیږي چې انډیوالي یې سره پاللې ده.

خواخوږی ادیب او ژورنالیست (محمد طارق بزګر) هغه څوک دی چې تل یې زه هڅولی یم، د وطن په تیارو حالاتو کې یې رڼاه څراغونه راښودلي او د یو نیږدې ملګري په څېر یې زما د ټولې کورنۍ په اړه راته نیکې هیلې وړاندې کړې.

که له ده سره زما شخصي اړیکې څخه را ووځم، نو ښاغلی بزګر تکړه ژورنالیست او لیکوال دی، چې په تنها ځان له کلونو کلونو راهیسې د دعوت په نوم مجله او د دعوت میډیا په نوم ویبپاڼه چلوي.

د دې ترڅنګ خپله هم ښه لیکل کوي او څینې وختونه یې د لنډو سیاسي تبصرو په خوا کې د بعضو ادبي لیکنو خبر هم راشي.

د کیيف افغانه ښاپېرۍ هغه ناول دی، چې د انګلیسي او دری ژباړو ترڅنګ ښاغلي بزګر دوه ځله په ۲۰۱۹ او ۲۰۲۳ کلونو کې پښتو ژبه باندې چاپ کړ.

لومړی ځل له هېواده بهر چاپ شو، چې دلته پیدا کول یې د (مرغۍ پۍ) شوې؛ خو سږ کال په وطن کې هم چاپ او نشر شو، چې دا دی زما تر لاسونو را ورسېده او ښه په نخرو مې ولوست. په نخرو ځکه چې د کور سرپرست یم؛ پوهنتون، کورس، وظیفه، غم، ښادي، یو درجن نور مصروفیتونه او په اخیره کې بې برقي هغه څه وو، چې څو ځله یې د کتاب په اړه نقد لیکلو کې پاتې راوستم.

نو وړاندې له دې چې تمهید ډېر اوږد کړم، د ناول په اړه به څینې نقد ډوله کرښې در وړاندې کړم، چې زه یې د نقد پرځای خپل تاثر بولم؛ ځکه نقد خپل ځانګړې چوکاټ لري او د ادبي چوکاټونو محدودیت زما ساه بندوي.

که څه هم لیکوال ویلي چې دا ناول یې د یوې رښتینې کیسې پر اساس لیکلی، چې دا خبره یې ناول له نقده ازادوي؛ ځکه د حقیقي پېښې او کیسې په اړه څوک دا نشي ویلی چې ولې داسې وشول؟ خو مشهور ناول لیکوال (ګبریل ګارشیا مارکیز) به ویل چې ما هره کیسه د یوې رښتینې پېښې پر بنسټ لیکلې چې له همدې امله مورږ ته په دا ډول ناولونو هم د نقد جواز راکوي، ځکه خو به یې زه هم د پښتۍ له انځور او د ناول نوم څخه را پیل کړم:

سره له دې چې (د کیيف افغان ښاپېرۍ) ناول د یوې بدبختې ښځې کیسه ده او موږ ته د خپلې ټولنې سپېره اړخونه راښیي، بیا هم د پښتۍ انځور کې له ګڼو ژورو او تازه رنګونو کار اخیستل شوی.

د پښتۍ ډېره برخه رنګ ابي، زرغون او سور دی، چې له یوه اړخه پرې نیوکه کېدلی شي، ځکه ابي رنګ تر ډېره د ژوند، ارام او زرغون د سمسورتیا رنګ دی. ښه به وای که د ابي رنګ ترڅنګ تور او خړ رنګونه کارول شوي وای؛ خو که لیکوال دا په نظر کې نیولي وي، چې ځان پلورونکې نجلۍ تل خندانه وي او حسن یې ټوله نړۍ ویني، یعني ظاهراً یې ژوند رنګین وي، بیا سم دی. دا بېله خبره ده چې د هغې اوښلنې سترګې د یو وحشي ماحول ترجماني کوي.

د پښتۍ انځور کې د یوې نجلۍ نیم مخ وینو، چې پخه سرخي یې وهلې او په ابي ډوله سترګو کې یې اوښکې ځلیږي. همدې دوو ځانګړنو ما ته د مشهور اردو ژبې لیکوال (سعادت حسن منټو) د طوایفو په اړه لنډې کیسې را یادې کړې چې له مجبورې ورځې به یې څنګه سپېرې شونډې د پردیو هوسونو سړولو لپاره په سرخي رنګینې کړې؛ مګر چې کله به شپه شوه او دې به د ورځې په ستومانۍ سوچ وکړ، نو سترګو کې به یې ډنډ اوښکې ودلېدې.

ترڅنګ یې د خپلې مور یوه شین سترګې خپلوانه را یاده شوه، چې ټول کلي کې ورسره چا خپلوي نه کوله، ځکه چې هغه خواره

د سره انقلاب پر مهال کابل کې پیدا شوي وه او کورنۍ یې هجرت نه و کړی. ټولو نجسو خلکو به ورپسې خولې خلاصې کړې وې او د شورویانو لور به یې ورته ویل.

که د پښتنۍ انځور کې د ابي سترګو پرځای زرغون رنګ کارول شوی وای، نو فکر کوم چې لا زیات ښه به راتللی.

دوهم بحث د ناول پر نوم کوو. زه تل د داسې نومونو خلاف یم چې د ناول پوره یا نیمه منځپانګه ترې معلومه شي. هر وخت مې مثبت ابهام ایجادونکي نومونه خوښ دي.



د (کیيف افغانه ښاپېرۍ) داسې نوم دی چې یو عادي لوستونکي ته وار له واره پوښتنې زېږوي. مثلاً: کیيف لا څه بلا ده؟ که ځای دی نه کوم ځای دی؟ که شی دی نو څه شی دی؟ ښه بیا ښاپېرۍ څوک ده؟ نوم دی که صفت یې کړی!

حتی ځیرک لوستونکی هم حیرانولی شي چې ښه نو په کیيف کې افغانه نجلۍ څه کوي؟ څه ورسره شوي او څنګه کیسه به لري؟

په دې معامله کې د ارواښاد نصیر احمد احمدي نوم د یادولو وړ دی، چې ناولونو ته یې تل ښه او پارونکي نومونه ټاکلي وو.

په دوهم قدم کې د ناول پر متن، نثر او د لیکلو ژبې غږېږو:

پښتو ادب ته د نړیوالو ژباړو راتلو یو تاوان دا وکړ چې زموږ له لیکوالانو یې خپله سوچه ژبه واخیسته او اوس هغوی د نړیوالو ادیبانو پېښې کوي، چې دغه پېښې ورته ډېرې ګرانې تمامې شوې، ځکه نه یې د هغوی ادیبانه روح خپل کړ او نه یې خپلې کرښې خپلې پاتې شوې.

تېره ورځ مې یو ناول لوسته، بېخي داسې مې احساسوله لکه په ګوګل ټرانسلېټ ژباړل شوې ټکي په ټکي ژباړه چې لولم.

خو دا ناول بالکل داسې نه دی، د پښتو ځینې داسې عام، کره او سیمه ییز الفاظ پکې کارول شوي، چې ما ډېر وخت وروسته ولوستل او له هر ځل ویلو سره مې یو ډول خوند ترې اخیسته.

ترڅنګ یې بعضې ښه ترکیبي لغتونه هم سره یوځای شوي، چې د ناول ژبې ته یې ښکلا وربښلې.

د ناول متن راټول، په برابرو پراګرافونو وېشل شوی او تر ډېره د محاورې په بڼه دی. جملې پکې لنډې او برابرې را اخیستل شوې، چې داسې ترې محسوسیږي، لکه لیکوال چې ښېره کې وي؛ خو دا خبره ګوندې دا معنا نلري چې یادې جملې بې ګټې او پرې پرې دي! بالکل داسې نه ده او هره جمله په ځان کې پوره دنیا لري.

نثر یې له ښایسته لغتونو او جملو مالامال دی؛ خو ښېګڼه یې دا ده چې تکراري جملې نه لري، یوازې څو ځایه د ځینو ضمیرونو او ربطي تورو تکرار سترګې کوونکی دی، چې له هغې ډلې په یوه جمله کې درې درې ځله زه، او، په ډېرو نورو مخونو کې د هغه، هغو، همدغه او... تکرار یادولی شو.

د لیکلو ژبه یې له ناوله زیات یو راپور تاژ او راپور لیکنې ته ورته دی، چې د دې اغېز لامل هم ممکن د لیکوال ژورنالیست اړخ وي. بله دا چې ناول هم تر ډېره د سوال او ځواب شکل کې دی، نو حتماً به یو څه راپورتاژ ډوله بوی ترې راځي.

په ټوله کې د ناول املا ښه ده، خو ځینې ځایونه د ټایپینګ واضحې ستونزې لیدل کېږي او بعضې ځایونه پنځه ګوني یاګانې سمې نه دي کارول شوې. همداراز څو داسې کرښې هم شته چې د فاعل لپاره پکې د یو (و) پر ځای (وو) کارول شوي، چې درست نه راځي.

د ناول په هر اړین ځای کې د پښتو ژبې اکثره لیکنښې په خورا مهارت سره استعمال شوي دي، خو زه تر اوسه نه پوهېږم چې د محاورو پر مهال ولې د ډش (ـ) پر ځای د جمع علامه (+) کارول شوې؟

همدا راز د ناول له پیله تر پای د صفحې په پای کې ځینې وضاحتونه را ته اضافه او لوستونکی له اصلي موخې (ناول لوستنې) څخه غافله کوونکي راته وبرېښېدل. که دا یو معلوماتي، جغرافیوي او یا تاریخي ناول وای، بیا یې باک نه کاوه.

د ناول سوژه خورا نوې او سوچه ده، داسې نه ښکاري لکه بل ځای نه چې اخیستل شوې وي. یو نیږدې ملګري مې په ناول پیل کړی و، چې نیمایي مې ولوسته، نو مالې عزیزه! خفه نشې خو دا ناول دې د (پاڼه ورژېده) ناول کاپي ده!

(د کیف افغانه ښاپیرۍ) یوه داسې کیسه ده چې پښتو ادب کې کله نه ده تکرار شوې او د همدې نوښت اعزاز یې بس دی!
د ناول پلاټ لنډ، محدود، له څو کرکټرونو، جغرافیو او محاورو جوړ دی. د افغانستان د څو ولایتونو لنډه یادونه پکې شوې او د کیف یو کافي شاپ پکې انځوریز شوی.
لیکوال خپل ټول هنري زور او د منظر کشۍ طاقت د مرکزي کرکټرونو په لومړۍ لیدنه کې ازمایلی او بیا یې دا اړتیا نه ده لیدلې چې په دې لنډ ناول کې کومه اوږده منظر کشي وکړي.
ناول که څه هم د خبرو اترو په بڼه دی او ډېر دار و مدار یې په دوو کرکټرونو دی، مګر دوه داسې صحنې هم پکې شته چې مرکزي کرکټر د دریمګړي رول لوبوي او خپل نظر راته وړاندې کوي، چې ښه بېلګه یې د (د داخلي جګړو یادونه ده) پکار خو دا وه چې دغه کرښې هم د یو کرکټر له خولې هوبهو لیکل شوې وای. ځکه دې ناول کې د دریمګړي بیان ته اړتیا نشته.
ناول له ځینو لنډو غوټو جوړ دی، دا چې: نجلۍ ولې فاحشه شوې، اولاد یې له کومه شو، واده یې کله وکړ، کیف ته څنګه راغله، کورنۍ یې چیرې او اصل نوم یې څه شی دی؟! دا ټولې هغه پوښتنې دي، چې لوستونکی پسې اخلي او دې ته یې نه پرېږدي چې ناول بند کړي.
د ناول په لنډو کرښو او خبرو کې لوستونکي ته لېوالتیا پیدا کیږي او دا یوه پوښتنه یې چې (ښاغلیه ته خو به افغان او مسلمان نه یې؟) تر اخیره ځان سره وړي.
په ناول کې ځای ځای د بدو رواجونو، ټولنیزو ستونزو او لویې ناخوالې (جګړې) په اړه لنډ لنډ پیغامونه هم تر سترګو کیږي او د همدغو صحنو یادونه سړي ته خپله ماضي وریادوي.
وریادوي چې ګلورین افغانستان ولې په اور وسوځېده او څنګه یو لوی افغان نسل د تباهي تر خولې ورسېده؟!
د ناول په پیل، پای او اوج که خبره وشي، نو پیل یې د روایتي ناولونو په څېر له منظر کشي کیږي، خو د مرکزي کرکټرونو لومړۍ لیدنه یو څه ډېره ډرامایي ښکاري. په پیل کې د کرکټرونو د ځانګړنو بیانول، منځ کې محاورې او پای کې د وروستیو سوالونو ځوابېدل د یو بشپړ ناول خصوصیت دی، چې دې ازموینه کې ښاغلی بزګر بریالی وتلی دی.



یوه نقطه چې زما پام یې ځانته واړاوه دا ده چې ولې لیکوال د ناول په لومړي سر کې څو بېتونه مسلسله بڼه باندې راوړي؛ خو وروسته یې درک هم نشته؟!
دوهمه دا چې ټول کتاب ۱۲۷ مخونه لري، چې ۳۱ مخونه یې ۵ سریزو او وروستۍ صفحه بیا د کتاب ځانګړنو نیولې ده، یعنې ټوله کیسه په ۹۵ مخونو کې لیکل شوې. ما ته دا معقوله ښکاره نشوه چې د یو دومره وړوکي ناول لپاره چې اصلاً ناول نشو ورته ویلی او باید د ادبي تعریفونو له مخې یې ناولټ وبولو؛ ۵ سریزې ولیکل شي!!
د سریزو ډېره اړتیا ځوانو لیکوالانو او څېړنیزو اثرونو ته وي، چې باید له وروستۍ غوټې پرته یې نچوړ ولیکل شي، څو کتاب لوستونکو ته لا زیات جالب او له تلوسې ډک شي.
په دې کتاب باندې یوازې د اغلې درخانۍ سریزه هم بس وه او که هغه هم نه وای باک یې نه کاوه، یوازې د لیکلوال یوې سریزې چې د خپلو کرښو د لیکلو په اړتیا، ګټې او شالید غږېدلی وای، بسنه کوله.
د دې کار ګټه به دا وای چې د ناول حجم به له ۱۰۰ مخونو نه ډېرېده او بیه به یې نوره هم کمه شوې وای، چې اخیستل به یې هر چا ته نور هم اسانه وو.
زموږ د سریزو دود زما هیڅ نه خوښیږي، لامل یې هماغه د نقد په څېر له حده زیاتې ستاینې دي. ما د کتاب په دوهمه سریزه کې د ژبه ور ادیب (عبدالمالک بېکسیار) لیکل ولیدل، چې پیل یې داسې کړی و: «لاندې څو کرښې ما د خپل دوست، ملګري او ورور ټولمنلي ژورنالیست او لیکوال د دعوت رسنیز مرکز مشر ښاغلي محمد طارق بزګر پر لیکلي کتاب...»
اوس په دې متن کې د بزګر صیب ۸ ځانګړنې بیان شوې، چې له هغه نه د یو ناخبره او نا اشنا لوستونکي لپاره حتماً ستړې تمامیږي. زه بزګر صیب پېژنم، ښېګڼې او ما سره کړې/ کېدونکې خواخوږۍ یې هم را معلومې دي، خو په یوې سریزې کې دومره اوږدې ستاینې ته څه اړتیا؟ دا خو څه د فیسبوک تحلیل یا د خاطرو ټولګه نه ده!
بله خبره زموږ د ناولونو د حجم په اړه کېدلی شي، زه تر ننه حیران یم چې ولې مو ادبي فورمونه او ژانرونه ورځ تر بلې د لنډون خوا ته روان دي؟ که خبره دا وي، چې: خلکو سره وخت

نشته او هر تن اوس له ۱۰ کرښو زیات څه نشي لوستلی، نو بیا څنګه ۱۰۰ قسطه بهرني سیریالونه ګوري؟!

زما په فکر که لیکوال قلم کې زور ولري، نو حتماً په یو لوی قالب کې هم کیسه په خورا هنریت سره وړاندې کولی شي، چې هیڅوک به ورسره خسته نشي او د لا غځېدا هیله به يې ولري.

د ښاغلي بزګر صیب کیسه ډېره نوې، له پیغامونو او هدفه ډکه ده؛ خو کاش لږ نوره هم اوږده وای، چې د ناولټ پر ځای مو ناول ورته ویلی شوای.

زه دې نه ګرموم چې ولې یې ناول ژر خلاص کړی، ممکن د ده کیسه تر همدې ځایه وه او په لوی لاس اوږدوالي یې بېخوندي رامنځته کړې وای، خو دا اوس زموږه یوه عمومي ستونزه جوړه شوې، رومان او داستان خو هیڅوک نه لیکي، سیریال او ډرامه هم ټولو څخه هېره ده، ناول مو د ناولټ تر کچې لنډ کړی او لنډې کیسې ته خو مو قسم کړی چې له یو مخ به یې وا نه ړوو! ډارېږو چې لنډ وخت کې دوه او درې کرښې کیسې را و نه وځي!!




## ناروې میشتو هېوادوالو ته زیری!

### ناروېژي پښتو قاموس Stor Norsk-Pashto Ordbok

هغه هېوادوال چې په ښوونځي، پوهنځي، پوهنتون او سیمه ایيز کتابتون (Bibliotek) کې یې تر اوسه ناروېژي پښتو قاموس نه وي نو کولای شي چې د خپل ښوونځي، پوهنځي، پوهنتون او

خلاصه دا چې (د کیيف افغانه ښاپېرۍ) له ښکلو الفاظو، هنري جملو، ډېرې تلوسې، د ماضي له ترخو، د رنګینیو شاته پټ سپېره بخت او د یو رسالت پرست ژورنالیست له اوښکو ډک ناول دی، چې لوستل يې هر افغان ته لازمي او ګټور بولم.

له ښاغلي بزګر څخه د همداسې غوره پنځونو تمه کېږي.

لاس په دعا یم چې رب دې ښاد او هوسا لري!

په پښتني مینه!

سمسور ودان

کابل/ کرايي کور (احمدشاه بابا مېنه)

**په کابل کې کتاب د لاندې ادرس څخه تر لاسه کولی شئ:**

*سروش کتابپلورنځی، مینه یار مارکېټ، د دریېمې ناحیې*
*کوڅې ته نږدې،*
*میرویس میدان (کوټه سنګی)، کابل-افغانستان.*
*0785200212*

سیمه ایز کتابتون څخه د ناروېژي پښتو قاموس-(Stor Norsk Pashto Ordbok)غوښتنه وکړئ تر څو یې ورته واخلي تاسو یواځې هغوئ ته د کتاب نوم، د لیکوال نوم او د اس بی این ISBNشمېره ورکړئ نور هغوئ پوهیږي چې څنګه يې ترلاسه کړي. د ناروې په هر کمون کې یوه او یا له یوې ډېر کتابتونونه وي .

د کتاب نوم :

ناروېژي پښتو قاموسStor Norsk-Pashto Ordbok

د لیکوال نوم:

محمد طارق بزګر  Mohammed Tariq Bazger

اس بی این:ISBN: 978-82-691395-0-1

په شخصي ډول یې په لیلستروم Lillestrøm کې د دعوت میډیا مرکز څخه تر لاسه کولی شئ .

د ویپس او یا هم بانکي اکونټ ته د ۵۰۰ کرونو په رالیږلو به کتاب ستاسې په پوستي ادرس تر تاسو دررسیږي.

د معلوماتو له پاره په لاندې شمېره او همدا شمېره د ویپس له پاره کارولی شئ: 90856195

د دعوت میډیا بانکی اکاونټ شمېره: 0530 2294668

او یا هم د ویپس د لارې90856195 :

د هر ډول معلوماتو له پاره زموږ د تلیفون شمېره:

90856195

# د کيیف افغانه ښاپیرۍ

ليکنه: شبيه ګهيځ

د کيیف افغانه ښاپيرۍ کتاب لوستلو ته مې تلوسه له هغه وخت وه، چې کله مې دعوت ويبپاڼې سره کار شروع کړ. يوه ورځ مې له بزګر صيب څخه د کتاب پي ډي اف غوښتنه وکړه؛ خو له نېکمرغه يې دا کتاب څو مياشتې مخکې په کابل کې چاپ شو. چې په درى هم (پرى افغان در کيیف) تر نوم لاندې د آغلې درخانۍ ذهين ژباړلی او دا هم همدلته په کابل چاپ شوی دی.




ليکوال په پيل کې ليکي (دا کتاب د يوې رښتينې کيسې او پېښې پر بنسټ ليکل شوی دی او تر ډېره هڅه شوې، چې هر څه او ټولې خبرې د يو امانت په ډول تر لوستونکو ورسوم؛ نو له دې امله پرې مرچ او مساله نه ده زياته شوې او ټول لنګر به دې اچول شوی چې امانت همداسې سلامت وساتل شي.) يعنې دا يوه رښتينې کيسه ده پرته له دې چې سانسور يا انځورونه وشي؛ خو همدا رښتينې کيسه خپله انځوريزه ده، چې په لوستلو يې لوستونکی فکر کوي ورته حالت تجربه کوي. فکر کولو او وړاندوينو ته مو اړ باسي. پېښې دومره جذبونکي او پرلپسې راغلي چې لوستونکی په يوه ناسته کتاب لوستلی شي.

جنګ انسان هرې ناچارۍ ته اړ کوي ان له هېواده وتل او کډوال کېدو ته؛ خو دا چې جلا وطني او خپله خاوره پرېښودل څومره درد لري او لوی زړه غواړي هغه څوک يې درک کولی شي، چې د کډوالي او جلاوطني شپې او ورځې تېروي. د کتاب کيسه موږ ته د افغانستان هغه تېر حالت پېښې، جګړې، ظلم او د جهاد د پايلې کيسه کوي. کوم چې تر ننه ورځ يې څرک لګي او د افغانستان بېچاره وګړي په ځانګړي ډول ښځې ورته حالت زغمي.

کتاب د مکالمې په بڼه د خبريال او ليلا (هغه افغانه ښځه ده، چې د ژوند کيسه يې شوې او د اوکراين په زړه کيیف ښار کې بدلمنۍ ته مجبوره شوې ده) ترمنځ ده. کتاب د کيیف له يوې قهوه خونې موږ ته د افغانستان ښکلا، ښه دودونه او شوو بدو پېښو او ظلمونو پرلپسې کيسه کوي. لومړی د کيیف له سړې هوا او په سړه هوا کې د يوې ښځې له ښکلا او مجبوريته مو خبروي، چې بدلمنۍ ته مجبوره شوې او له خبريال څخه مرسته غواړي. بيا مو پنجشير او پروان ته وړي، هلته مو د جنګي ډلو له ظلمونو، پر يوې ښځې د ښايست په جرم شوي ظلمونه، زياتي او د مُلا له هغې عقيدې او فتوا مو خبروي چې نن هم ښځې د همدې غلطې عقيدې او فتوا سزا ګوري.

**په کيسه کې راغلي موضوعاتو ته لنډه کتنه:**

جنګ او جهاد له موږ ډېر څه اخيستي، د ژوند له ډېرو امکاناتو نېولې تر زموږ تر ځان ګران کسان؛ په کتاب کې هم همداسې يوه پېښه موږ ته کيسه کېږي. د يوې جنګي ډلې ظلم، ناروا او وحشت چې انسانان يې ښکار دي. له کتاب څخه يوه برخه دلته لولو. (د يوې جنګي ډلې قوماندان شفيق ديوانه کسانو لومړی نيولی، بيا يې چور کړی، ورپسې يې ورته په سر ميخونه ټک وهلي وو او ژوندي يې فکر کوم په سرو کړو غوړو کې سوځولي وو. زه هغه وخت وړه ومه، ډېره پوهه نه شومه... . چيغې مې کړې، کاکا جان مې مخې ته ودرېد، ما ته يې راوړې جامې او خندانه څېره تر سترګو شوه.)

د يوې نجلۍ هيله وي چې ښه کورنۍ کې واده شي، ښه راتلونکې ولري، او په ارامه ساه ژوند وکړي؛ خو اکثريت افغانې ښځې د واده په نوم زندان ته ځي. ليلا سره هم همداسې

کېږي. افغانستان ته په دې هیله راځي چې واده به وکړي او ارامه ژوند به ولري؛ خو ټولې هیلې یې خاورې شي او خپله ښکلا ورته بلا ګرځي.(لاړمه افغانستان ته ارمان مې و، د پلار له مرګه وروسته ډاډه نه ومه؛ خو بیا هم خوشحاله ومه، چې خپلې ټولې هیلې او ارزوګانې مې خپل واده پورې غوټه کړې وې، چې واده به وکړم خوشاله ژوند به مې وي، مینه به وي، زه به ډاډه یم، وېره او ډار به راسره نه وي.) دلته افغانستان داسې ځای دې چې د په هر څه کې پړه پر ښځې اچول کېږي او هره ناروا باید په پټه خوله وزغمي.

لیلا ته چې د افغانانو دومره صفتونه شوي. د میرانې، عزت او وقار خبره شوې هر څه برعکس و. هغه باور چې د افغانانو په هکله یې پلار له ماشومتوب ورته زده کړي و، وروسته له واده داسې نه و. لیلا خپلو خبرو کې وایي: (ما درته وویل چې ما ته مې پلار دا له وړوکوالي ویلی وو، چې افغانه او مسلمانه جینۍ یو مېړه او یو وار مینه کوي؛ خو دا یې نه وو ویلي چې نارینه حتی واړه هلکان او مُلایان هم هغه وطن کې ښځې له دوربینه تېروي.) بل ځای وایي: (مېړه مې یوه ورځ ووهلم، ډېره یې ووهلم چې یوه لغته یې زما په خېټه برابره شوه او دوهم ماشوم مې هم ضایع شو. له دې وروسته زه په بشپړ ډول بدله شوم، احساس مې بل رنګ شو، فکر مې واوښت.) لیلا د خلکو فکرونه او د مُلا خبرو په هکله داسې وایي: (هلته چې مُلا هر څه ووایي ډېری خلک یې مني، که تور ته سپین او سپین ته تور ووایي بیا هم خلک څه نه وایي؛ ځکه د مُلا د خبرې نه منل ګناه ده او منل يې ثواب او د جنت مزې.) راشئ ننني ورځې ته وګورو له هغه تېر شوي تاریخ څخه هېڅ هم بدلون نه دی کړی. نن هم دا خاوره کې د جنت ټیکه داران حاکمان دي او خپله خبره ورته سره کرښه ښکاري.

د ملا غلطه فتوا، عقیده او هوس ښځې له ډېرو حقونو محرومې کړي دي. له پخوا همدا عقیده وه چې ښځې یا د کور دي یا د ګور. نن هم ګورو چې ښځې په هر ډول ځورول کېږي، له ښوونځیو راګرځول کېږي او کار ته نه پرېښودل کېږي. په کیسه کې هم لیلا د خپل ښایست په جرم د مُلا لخوا په سزا محکومه کېږي. (خاوند مې وویل چې ملا صاحب په ډېر تفصیل راته وویل چې ښځه د شیطان له ذاته ده او ستا ښځه خو کټ مټ همدغه شی دی... . چېرته تیزاب پیدا او د ښځې پر مخ دي وشېنده بیا به ورته خلک نه ګوري هم به ستا ثواب وشي او هم به له دې بېغیرتۍ، تشویش او نور نارینه به د شیطان له وسوسو په امان وي.)

د کیسې پای زما په ذهن کې دوې پوښتنې پیدا کړې؛ خو لومړی به د کیسې د پای مکالمه ولولو!

خبریال لیلا ته وایي:

ـ سبا دې ګورم

لیلا: بیا ونه وایې ما درته وویل ته د کار نه یې

ـ مننه خو ما خپل کار وکړ

+ څه کار؟

ـ بیا وروسته درته وایم

+ ښاغلیه ته مسلمان یې؟

ـ شپه پخیر

+ افغان یې؟

ـ شپه پخیر

+ که افغان یې او مسلمان یې او نه یې وایې دا ګناه ده . . .

کتاب پر همدې مکالمې پای مومي؛ خو هغه څه چې د کیسې له لوستلو وروسته زما ذهن کې پوښتنه پاتې شوه دا ده، چې ولې خبریال لیلا ته ونه ویل چې دی هم د افغانستان او افغان دی. لکه کومې خبرې ډاربېده او دا چې ایا سبا بیا هم لیلا د خبریال لیدو ته راغله او که نه؟ که سبا بیا لیلا راغلې وي؛ نور یې څه ویلي دي؟

**هیله ده نور افغانستان د پردیو د جګړو او جهادونو ځاله نه وي. هر انسان دې خپل انساني حقوق تر لاسه کړي. افغانان دې پر یو بل له ظلمونو او وحشت څخه تېر او یو د بل لاسنیوی دې وکړي.**

**په پای کې لوستونکي د دې جذابې او رښتینې کیسې لوستلو ته رابولمه. رب دې بزګر صیب ته د داسې ډېرو رښتینې کیسو د لیکلو توان ورکړي.**

**د ودان او ارام افغانستان په هیله!**

## په کابل کې کتاب د لاندې ادرس څخه تر لاسه کولی شئ:

*سروش کتابپلورنځی، مینه یار مارکېټ، د دریېمې ناحیې کوڅې ته نږدې،*

*میرویس میدان (کوټه سنګي)، کابل-افغانستان*

*0785200212*

# د دعوت رسنيز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه

دعوت رسنيز مرکز وياړي چې د خپلو نورو فرهنګي فعاليتونو په څنګ کې چې هغه د دعوت مجلې خپرول، د دعوت میډیا ۲۴ او افغان سباوون ويبپاڼو تر څنګ په دې وروستيو يو شمېر په زړه پورې، مهم او ارزښتمن کتابونه د خپلو خلکو د چوپړ له پاره خپاره کړي دي. چې دلته په لنډ ډول د کتاب پېژندنه او د لاس ته راوړلو طريقه او د کتاب بيه او پوستي بيه شوول کيږي.

## يوه افغانه ښاپيرۍ په کييف کې

لیکوال محمد طارق بزګر




/۱ دا کتاب چې د يوې ريښتنې پيښې له مخه ليکل شوې او د افغان جګړې د ناخوالو، نتيجو ، تاثيراتو او په ټولنه او خلکو يې اغيز، ښځه په افغاني ټولنه کې او د يوې افغانۍ د دردونکې او تريخ ژوند کيسه چې بلاخره بدلمنۍ ته مجبوريږي.

د کتاب بيه ۱۵۰ ناروېژي کرونه يا د هغې معادل او پوستي د لياږې ۲۰۰ ناروېژي کرون (د نړۍ ټولو هېوادونو ته).

---

## ملي رسالت (د محمد طارق بزګر کارنامې)

ليکوال ارواښاد مصطفی عمرزی




/۲ دا کتاب چې د دعوت رسنيز مرکز او مسئول مشر بيلابيل فعاليتونه او د لسګونو مطرحو افغانانو نظرونه هم په بر کې لري د دې کتاب ژبه پښتو او دري ده. کتاب د ګټې له پاره نه دی مينه وال يې يوازې د چاپ د مصرف په ورکولو سره تر لاسه کولای شي د کتاب د چاپ بيې تر څنګ پوستي مصرف يې ۷۰ کرون ياني (۷) ډالرو په ورکړې سره تر لاسه کولای شي.

---

## زمونږ کاکا مُراد (ډاکټر ناکامورا)




/۳ د ژوند، کار، فعاليتونو او د دغه ستر انسان په اړه د لسګونو افغانانو نظرونه او نور ډير څه د عکسونو سره راغونډ شوي دي، د کتاب ژبه پښتو او دري ده، دا کتاب هم په وړيا ډول يوازې د پوستي مصرف (۱۰۰ ناروېژی کرون يا ۱۰ ډالر) په ورکولو سره هر افغان چې د نړۍ په هر ګوټ کې وي وغواړي ورته ليږل کيږي.

**۴/ کله چې طوطي والوت** د ماشومانو له پاره د یو نارویژي کتاب ژباړه ده د کتاب لیکوال انتون ایسپیرو او ژباړن یې محمد طارق بزګر دی. دا کتاب د ماشومانو له پاره په خوږه پښتو ژباړل شوي او په شکلی قطع او صحافت چاپ شوی دی. د کتاب بیه ۱۰۰ کرون یاني (۱۰ ډالر) ده او د پوستي مصرف سره ۱۵۰ کرون یا ۱۵ ډالر ده د نړۍ په هر ګوټ کې هېوادوال کولای شي دا کتاب د دعوت رسنیز مرکز څخه د قیمت په بدل کې وغواړي.




---

۵/ په انګلیسي ژبه د کیف ښاپیرۍ **(An Afghan Beauty in Kiev)** چې لیکوال یې محمد طارق بزګر دی د یوې ریښتنې کیسې او پېښې له مخې لیکل شوی چې په ټوله د جنګ جګړو د ترخو تاثیراتو له امله د یوې افغانې د ژوند د ناخوالو کیسه چې په پای کې بدلمنی ته مجبوریږي. د دې کتاب بیه ۱۰۰ نارویژي کرون یاني ۱۰ ډالر ده چې د پوستي مصرف سره ټول ۱۵۰ کرون یا ۱۵ ډالر کیږي چې د قیمت په ورکړې سره د نړۍ هر ګوټ ته مینه والو ته لیږل کیږي. دا کتاب په بهرنیو هېوادونو کې ستاسو بهرنیو دوستانو، استادانو، د کار همکارانو، ګاونډیانو، ملګرو له پاره هم یوه ښه ډالۍ ده.




---

## نارویژي - پښتو قاموس

**Stor Norsk-Pashto Ordbok**

۶/ چې د محمد طارق بزګر د ۱۷ کلونو د زیار او هڅو نتیجه ده چې ټول ۵۰۰۰ لغاتونه او کتاب ۱۰۰۰ مخونه لري په لوړ معیار چاپ او له ناروې بر سیره په سویډن او ډنمارک کې هم هېوادوال ترینه ګټه اخیستلای شي. په دې کتاب سره د هر مسلک د خاوندانو ستونزې تر ډېره حلیږي یا په بل عبارت د لومړي ټولګي تر پوهنتونه، په هر ډول کاري چاپیریال او په کور کې د والدینو له خوا د ماشومانو ژبنۍ ستونزو په حل کې پوره مرسته کوي. د نارویژي ژبې د هر ډول لغاتو مانا په اسانه په کتاب کې پیدا کولی شئ دا باید هم یادونه وشي چې د یو زیات شمېر لغاتونو، نومونو او

نورو څیزونو عکسونه د اسانه پوهاوي په پار د کتاب په پای



کې ځای پر ځای شوي دي چې دا په اسانه د پوهاوي په برخه کې د قاموس کارونکو سره مرسته کوي. د دې کتاب شتون په هر افغاني او پښتنی کور او ستاسو په کتابتون کې ضروري او د ناروېژي ژبې په حل کې ستاسو ښه مرستندوی دی. د دې کتاب بیه ۵۰۰ ناروېژي کرون ده. د ناروې د هر کتابتون څخه د لاندې معلوماتو په ورکولو سره ناروېژي پښتو قاموس غوښتلای شئ.

د کتاب نوم: ناروېژي پښتو قاموس

**Stor Norsk-Pashto Ordbok**

د لیکوال نوم: محمد طارق بزګر

**Mohammed Tariq Bazger**

ایس بی این شمېره: ISBN: 978-82-691395-0-1

د پاسنیو کتابونو مینه وال او غوښتونکي کولای شي په حضوري ډول یې د لیلیستروم په ښار (ناروې) کې یې د دعوت رسنیز مرکز څخه واخلي او یا هم د بانک د لارې پیسې د دعوت میډیا په اکاونټ AC#0530 22 94668 او یا د دعوت رسنیز مرکز د ویپس په شمېره شمېره Vipps: #557320 د خپل بشپړ پوستي ادرس سره راولیږئ ستاسو د خوښې او اړتیا وړ کتاب به ډېر ژر تر تاسو درورسیږي.

د دعوت رسنیز مرکز دفتر Dawt Media Center

Voldgt. 37A 2000 Lillestrøm, Norway

Mobil: +0047 90856195 Tel: +0047 63844384

---




# افغانستان: رښتیا پلټنه

## لیکوال: بروس ګ. ریچارډسن

## ژباړن: رحمت اریا

/۷ دا کتاب چې د امریکایی لیکوال ښاغلي بروس ریچارډسن د بیلابیلو مقالو پښتو ژباړه ده چې ټول ۶۴۸ مخونه او د ۵۰۰ ټوکو په شمېر خو کاله وړاندې د دعوت رسنیز مرکز له خوا په پېښور، پښتونخوا کې د چاپ په ګاڼه ښکلی شوی دی. کتاب ټول د معتبرو اسنادو په مټ لیکل شوي چې د لیکوال د لسیزو کار ثمره ده. دا کتاب په ځانګړې ډول د شمال ټلوالې د قوماندان احمد شاه مسعود په اړه ډېر اسناد ښکاره کوي چې مسعود په څه ډول د روسانو یا د وخت د شوروي اتحاد سره اړیکې درلودې او په څه ډول یې د هغوئ له پاره یا د هغوئ په ګټه کار کاوه.

د دې کتاب مینه وال کولی شي دا کتاب د ناروې په لیلیستروم ښار کې د دعوت رسنیز مرکز څخه ترلاسه کړي. او هم یې هیوادوال د پوست د لارې تر لاسه کولای شي د کتاب بیه ۲۰۰ کرون او پوستي مصرف یې ۱۲۵ ناروېژي کرون کیږي.




# Afghanistan Ending the reign of Soviet Terror

**By: Bruce G. Richardson**

۸/ دا کتاب د امریکایي لیکوال ښاغلی بروس ګ. ریچاړډسن د زیار نتیجه ده. کتاب ټول ۱۸۰ مخونه لري. دا کتاب په افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل په موده کې افغانستان او سیمې ته د لیکوال د مختلفو سفرونو د لیکنو او د هغه مهال د ځینو عکسونو په بر کې نیوونکی دی. دا کتاب هم د شورویانو سره د شمالي ټلوالي د قوماندان احمد شاه مسعود په اړه ډیر معتبر اسناد ښکاره کوي او د هغه چا له پاره چې غواړي پوهه شي چې احمد شاه مسعود څوک او څه یې کول او څه یې وکړل ډیر ښه او معتبر لاسوند دی.

دا کتاب هم کلونه وړاندې د دعوت رسنیز مرکز له خوا په انګلیسي ژبه چاپ شوی د کتاب مینه وال یې د ۱۵۰ کرونو په بدل کې د دعوت رسنیز مرکز څخه تر لاسه کولای شي. او هم هېوادوالو ته د پوستې د لارې (۱۵۰ + ۵۵= ۲۰۵ کرونو په بدل کې لیږل کیدای شي.

---

## Afghanistan: A Search for Truth

By: Bruce G. Richardson




۹/ دا کتاب د امریکایي لیکوال ښاغلی بروی ریچاړډسن د کلونو زیار او څېړنو مجموعه ده. کتاب ټول ۴۸۰ مخونه لري او د ۱۰۰۰ ټوکو په شمېر د دعوت رسنیز مرکز له خوا چاپ شوی دی. دا کتاب هم د ٦٩ مقالو او څو لیکونو ټولګه ده. لیکوال د افغانستان او افغانانو سره د ډیرې مینې او اخلاص له امله له نورو لویدیځو او امریکایی لیکوالو سره څرګند توپیر لري او د لویدیځ له ګټو زیات یې د افغانستان ګټې محترمې ګڼلې دي. د دې کتاب لوستل د هر افغان په ځانګړې ډول هغوئ چې په انګلیسي پوهیږي او غواړي د خپل هېواد له وروستیو څو لسیزو او د شوروي د اشغال له مهال څخه کره معلومات تر لاسه او ځان باخبره کړي د دې کتاب لوستل ورته اړین دی. دا کتاب د افغانانو غیر افغاني دوستانو ته چې په انګلیسي پوهیږي خورا ښه ډالۍ ده.

دا کتاب هم د ناروې په لیلیستروم ښار کې د دعوت رسنیز مرکز څخه د ۱۵۰ ناروېژي کرونو په بدل کې تر لاسه کولای شئ.

او هم یې هېوادوال او مینه وال د پوست د لارې (۱۵۰ + ۱۲۵= ۲۷۵) کرونو په بدل کې تر لاسه کولای شي.

# دعوت رسنيز مرکز ته رارسيدلی کتابونه

دعوت رسنيز مرکز ته لاندیني نوي خپاره شوي کتابونه رارسيدلی چې له ليکوالو يې مننه او د لابرياليتوب هيله يې کوو، او په دې سره خپل لوستونکي د دې کتابونو لاس ته راوړلو او لوستلو ته رابولو.

دعوت رسنيز مرکز- ناروې

## گريم نکلونه

(د ماشومانو کيسې)

ژباړن: انجنير اسدالله ملکزی

مخونه: ۱۴۳







## د غازي مير زمان خان

ژوند او مبارزو ته يوه لنډه کتنه

ډاکټر عبدالرحمن زماني

مخونه: ۲۶۹

## تصوف

روحانيت او کړلېچونه

ليکوال: ولي الله ملکزی

مخونه: ۱۹۷







## پری افغان در کیيف

نويسنده: : محمد طارق بزگر

مترجم: دُرخانۍ ذهين

صفحات: ۱۱۴

سروش کتابپلورنځی، مينه يار مارکېټ، د دربيمی ناحيی کوڅی ته نږدې،

ميرويس ميدان (کوټه سنگی)، کابل-افغانستان.

## کله چې طوطي والوت

ژباړن: محمد طارق بزگر

مخونه: ۹۶

د لاس ته راوړلو ادرس:

سروش کتابپلورنځی، مينه يار مارکېټ، د دريیمې ناحيې کوڅې ته نږدې،

*ميرويس ميدان (کوټه سنگي)، کابل-افغانستان.*







## د کيف افغانه ښاپيرۍ

ليکوال: محمد طارق بزگر

مخونه: ۱۱۳

د لاس ته راوړلو ادرس:

سروش کتابپلورنځی، مينه يار مارکېټ، د دريیمې ناحيې کوڅې ته نږدې،

*ميرويس ميدان (کوټه سنگي)، کابل-افغانستان.*

# د نجونو د زده کړو د ملي کمپاین اعلامیه

## « په پوهنتونونو کې د نجونو پر زده کړو بندیز هم یو کلن شو!!! »

د طالبانو له بیا  واکمنیدو سره د نجونو هغه ښوونځي چې شل کاله له کومې ځانګړې ستونزې پرته پرانیستي وو، څه باندې ۸۰۰ ورځې کیږي چې تړلي دي او د نجونو پر مخ د پوهنتونونو د تړل کېدو هم یو کال پوره شو. د ښوونځیو یو بل تعلیمي کال هم واوښت، خو نه د نجونو کوم ښوونځی خلاص شو، نه پدې اړه کوم پرمختګ یا کومه طرحه چا ولیدله او نه هم د رڼا کوم څرک ښکاري.

که د طالبانو د واکمنۍ دواړه دورې په پام کې ونیسو، د افغان وطن لوڼې شاوخوا اوه کاله په ټول افغانستان کې او نهه وېشت کاله په هغو سیمو کې چې دا ټوله موده د دوی په واک کې وې، د زده کړې له خدای ورکړي حق څخه محرومې دي، چې دا د یوه ملت په حق کې ډېره لویه او نه جبرانېدونکې جفا ده. دوه کاله کېږي، چې طالب چارواکي هڅه کوي په بېلابېلو وعدو او پلمو افغان ولس او نړیواله ټولنه وغولوي، خو د دې پر ځای چې د نجونو او ښځو په ژوند کې کومه رڼا راشي، تیاره ورځ په ورځ لا پسې خپرېږي. د ښوونځیو تر تړلو وروسته پوهنتونونه او کورسونه بند شول او د کار تر بندیز وروسته پر تفریح، سفر او هر ډول خوشحالیو بندیزونه ولګېدل.




پخوا ډېرو هېوادوالو تمه درلوده چې طالبان به پر خپلو ژمنو ودرېږي او اړین بدلون او اصلاحات به راولي، خو اوس داسې افغانان ډېر لږ دي، چې د طالبانو پر صداقت باور ولري. له بده مرغه طالبان داسې پلمې راوړي، چې پخپله هم باور نه پرې لري، کله د شرایطو خبره کوي، کله د اسلام، کله د عرف او کله هم د نوې طرحې خبره، چې دا ډول پلمې یوازې د دوی پر ناتوانۍ، بې کفایتۍ او له اسلام څخه ناخبرۍ دلالت کوي.

د نجونو پرزده کړو د بندیز پایله یوازې دا نده چې افغان بچیان بې سواده کېږي، بلکې د لکونو افغانانو مهاجرت، بې کاري، لوږه، سیاسي بې ثباتي، د نړیوالو مرستو کمېدل، سیاسي او اقتصادي بندیزونه، د افغانیت او د اسلامیت بدنامي او ډېرې نورې پایلې لري او د دغو ټولو مسئولیت یوازې او یوازې د طالب چارواکو پره غاړه دی.

ویل کېږي، چې اکثریت طالبان غواړي چې د نجونو ښوونځي پرانیستل شي خو یوازې د ګوتو شمېر یو څو تنه مشران دي، چې مخالفت یې کوي. له دې څخه جوتېږي، چې د ټول ولس او حتی د طالبانو د تحریک واک او اراده د یو څو تنو په لاس یرغمل شوې ده او وېره ده چې کېدای شي د همداسې انحصاري سیاستونو له کبله مو هېواد یو ځل بیا د بدمرغۍ او تباهۍ کندې ته وغورځي.

تېر دوه کاله د افغانستان دیني عالمان، قومي مشران، روڼ اندي، عام ولس، د اسلامي نړۍ عالمان او پوهان، نړیواله ټولنه او حتی یو شمېر طالب چارواکي د طالبانو له مشرتابه څخه غوښتنه کوي، چې د نجونو او ښځو انساني او اسلامي حقونه ورکړي، خو له بده مرغه د انسانیت، اسلامیت او افغانیت خلاف د افغان بچیانو له پوهې، ویښتیا او ځان بسیاینې سره دښمنۍ همداسې دوام لري.

ولس سخت ناهیلی دی او فکر کوي، هغه چارواکي چې له تعلیم او پوهې سره دښمني کوي نه خبره اوري، نه د خبرو او ځواب منطق لري، نه هغه زیانونه ویني، چې د دوی له اعمالو څخه وطن او اسلام ته متوجه دي او نه هم د دې هیله شته چې دوی به بیا د حق لارې ته راوګرځي (صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ)، او د

پوهې پلوې چارواکي بیا د دې جرئت او همت نه لري، چې خپل مشران د حق او خیر لارې ته راولي. کله چې په یوه نظام کې د اسلام له تعالیمو او احکامو سره مخالفت کېږي، د هېواد ملي ګټې له ګواښ سره مخامخ کېږي، انساني حقونه تر پښو لاندې کېږي او د ملت اراده یوازې د یو څو کسانو په لاس یرغمل وي، آیا بیا هم چوپتیا روا ده؟ دا سمه ده، چې موږ د یوې بلې جګړې، پردیو لاسوهنو، بهرني اشغال او استخباراتي لوبو سخت مخالف یو، خو دا پدې معنا هم نده چې موږ به چوپه خوله پاتې کېږو او هر ډول جهالت او ظلم او بېعدالتۍ ته به غاړه ږدو.

وایي، چې له کلي ووځه خو له نرخه مه ووځه! د پنځوسو اسلامي هېوادونو په منځ کې افغانستان یوازینی هېواد دی، چې واکمنان یې د خپل وطن پر لوڼو د زده کړو او کار بندیزونه لګولي دي. موږ له طالب مشرانو غوښتنه کوو، چې یا دې ټولې اسلامي نړۍ ته قناعت ورکړي چې دوی د اسلام له لارې وتلي دي او یا دې هم له اسلامي نړۍ سره دا ومني چې بېرته به حق لارې ته راګرځي.

که څه هم موږ ډېر ناهیلي یو، خو یو ځل بیا له طالب چارواکو غوښتنه کوو، چې د نوي تعلیمي کال تر پیل مخکې د نجونو پر زده کړو ټول بندیزونه لرې کړي او د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې د دوی پر مخ پرانیزي. که چېرې د ملت او اسلامي نړۍ له پرله پسې غوښتنو سره د نجونو ښوونځي بیا هم تړلي پاتې شول، ولس ته د خپلو بچیانو د روا حقونو لپاره له سوله ییز پاڅون پرته بله لار نه پاتې کېږي.

موږ د اسلامي هېوادونو پر سازمان او د اسلامي نړۍ پر دیني بنسټونو غږ کوو، چې خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړي او تر نوي تعلیمي کال مخکې طالبان دېته اړ کړي، چې بندیزونه لرې کړي او یا دې هم په ډاګه اعلان وکړي چې د طالبانو پرېکړه له اسلامي احکامو څخه سرغړونه او د اسلامي امت د مصالحو پر خلاف ده.

موږ د افغانستان پر مومن او باغیرته ولس یو ځل بیا غږ کوو، چې که سوله، آزادي، آبادي، سوکالي او باعزته ژوند غواړي، باید لاسونه سره ورکړي، یو موټی شي او د هر ډول جهل، ظلم او ناروا پر وړاندې د پراخې سوله ییزې مبارزې چمتووالی ونیسي.

و ما علینا الاالبلاغ

# اعلامیه کمپاین ملی آموزش دختران

## «از بسته شدن درهای پوهنتون به روی دختران نیز یک سال گذشت!!!»

